د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د لوړو زده کړو وزارت
شیخ زاید پوهنتون - خوست

د شیخ زاید پوهنتون
پوهنیزه مجله

د شیخ زاید پوهنتون خپرونیز ارګان
درې میاشتنۍ خپرونه
نهم کال، دویمه ربع، دویمه ګڼه ۱۳۹۶المریز کال
د تاسیس کال: ۱۳۸۸، نهمه دوره – نولسمه مجله

۱۹

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کتنپلاوی:

پوهندوی عبدالخلیل افغاني	د شیخ زاید پوهنتون سرپرست رییس
پوهاند دوکتور گل سالم شرافت	ښوونې او روزنې پوهنځی
پوهاند دوکتور بادشاه زار ابدالي	طب پوهنځی
پوهنوال دوکتور ماستر و احدي	ژورنالېزم پوهنځی
پوهنوال ډاکتر جهان شاه تنی	طب پوهنځی
پوهندوی سید کریم شاه نبکمل	ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پوهندوی دوکتور رحیم جان دردمل	اداره او تجارت پوهنځی
پوهندوی انجینر محمدحسن	انجینري پوهنځی
پوهندوی محمدالله مندوزی	حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
پوهندوی زرولي صدیقي	ټولنیزو علومو پوهنځی
پوهنمل رحمت الله هاشمي	کرنې پوهنځی
پوهنمل میاولي شاه میاخېل	ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پوهنمل عبدالجلیل شهیدزوی	شرعیاتو پوهنځی
پوهنمل اجمل خوستی	وترنري پوهنځی
پوهنمل محمد شفیق مندوزی	حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
پوهنمل سیدولي شاه مندوزی	اداره او تجارت پوهنځی
پوهنیار محمدقاسم گربز	ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پوهنیار میرویس تنی	کمپیوټر ساینس پوهنځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجلې په اړه:

د امتیاز خاوند: د لوړو زده کړو وزارت، شیخ زاید پوهنتون

مسؤول مدیر: پوهنیار محمد قاسم ګربز

اړیکه: 0093(0)771126767

برېښنالیک: qasim.gurbaz@gmail.com

مهتمم: نورمحمد انقلابي

اړیکو شمېرې: 0093(0)777791653- 0093 (0)700337022

برېښنالیک: Enqelabi.sheikh@gmail.com

پته: شیخ زاید پوهنتون، خوست - افغانستان

ټوک شمېره: ۲۰۰ ټوکه

چاپ کال: ۱۳۹۶هـ ش

چاپ ځای: لمر ګرافیکس - خوست

اړیکو شمېره : 0093775888875

برېښنالیک: lemar.graphics@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنیزې مجلې د مقالو دستور العمل

د مقالو جوړښت باید په دې ډول وي: لنډیز، سریزه، هدف، د کار مواد او مېتود، متن، مناقشه، پایله، په انګلیسي ژبه Abstract او د ماخذونو لېست.

- لنډیز د ټولې مقالې اصلي لنډ مواد بیانوي.
- هدف هغه څه چې د مقالې د لیکلو موخه وي.
- د کار مواد او مېتود: په کومه طریقه او د څه ډول کتابونو څخه ګټه اخیستل کیږي.
- سریزه: د مقالې اهمیت او اصل موضوع بیانوي.
- متن: هر هغه څه چې لیکونکي غواړي تشریح، بیان د مناقشې او بحث لاندې ونیسي.
- پایله: هر هغه څه چې لیکونکي غواړي د مقالې د بحث او تشریح وروسته په لاس راوړي.
- په انګلیسي ژبه Abstract باید ولري.
- ماخذونه: د کتابونو یا منابعو لېست چې د مقالې په پای کې د الفبا په ترتیب لیکل کیږي. لکه: تخلص، نوم.(دچاپ کال). د کتاب نوم. د چاپ ځای: مطبعه، ص.
- په متن کې د ماخذ ذکر کول: یوازې د ماخذ شمېره په [ ] کې یا (شمېره ماخذ، ص) یا (تخلص،کال: ص)

که مجله وي:

تخلص، نوم. (د چاپ کال). د مقالې عنوان په " نخونک کې " د مجلې نوم، ص.

که ورځپاڼه وي:

تخلص، نوم. (د چاپ کال، میاشت، ورځ) . عنوان مقاله په "نخونک کې " د ورځپاڼې نوم، ص.

که ویب سایټ وي:

د ویب سایټ لیکل د ماخذونو په لېست کې ضرور نه دی. یوازې په متن کې کافي دی.

له ویب سایټ څخه د راخیستل شوو موادو مکمل ادرس.

د مثال په ډول: http://szu.edu.af/ps/page/8280

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مقالې لیکلو لارښود

دا (پوهنیزه مجله) د شیخ زاید پوهنتون رسمي نشریه ده چې د بېلا بېلو پوهنځیو دعلمي کادر غړو علمي او تحقیقي مقالې یا تحقیقي ژباړه د مقالې په توګه د علمي ترفیعاتو په خاطر پکې چاپ کیږي. د علمي کادر د غړو مقالې چې مخکې په کومه مجله کې چاپ شوې نه وي، په دې مجله کې د چاپ لپاره منل کیږي. هغه لیکوالان (دعلمي کادر غړي) چې غواړي په دې مجله کې خپلې مقالې چاپ کړي، دا لاندې ټکي دې په نظر کې ونیسي:

۱- دا مجله علمي او تحقیقي مجله ده، هېڅ ډول سیاسي بڼه نه لري.

۲- مقالې به د ټولو اسلامي، فرهنګي او اخلاقي اصولو په نظر کې نیولو سره چاپ کیږي.

۳- مقالې به په پښتو او دري په روان او ساده ډول لیکل کیږي، له هر ډول شکلي،املایي او انشایي غلطیو څخه باید پاکې وي.

۴- مقالې به د نشراتو د اصولو مطابق وي او له هغو خارجي اصطلاحاتو څخه چې په پښتو او دري ژبو کې منل شوې معادلې کلمې ولري، باید ترې ډډه وشي.

۵- د مقالې لیکونکي باید ووایي چې مقاله یې په کومه بله مجله کې چاپ شوې نه ده او نه یې هم کومې بلې مجلې ته ورکړې ده، او د خپلې مقالې د موخې د صحت او اصالت ضمانت پرغاړه واخلي.

۶- مقاله باید په کمپیوټر لیکل شوې (سافټ کاپي)،دمقالې د عنوان فونټ ۱۴غټ (Bold)، دلنډیزفونټ ۱۱، په متن کې عنوان ۱۲(Bold)، او عمومي فونټ ۱۲ سایز وي، او انګلیسي یا لاتیني اصطلاحات په (Calibri(Body او پښتو فونټ پهPashtoReshad فارمټ کې وي.

که په پورته ډول ونه لیکل شي، وروسته د فونټ دبدلولو په وخت کې غلطۍ پکې راځي چې د سمون مسوؤلیت یې بیا پخپله د لیکوال پر غاړه دی.

۷- مقاله بایدپه A4 سایز کاغذ کې وي، دجملو ترمنځ فاصله Single line یا 1.0 سایزکې وي، دپاڼې پاس او ښکته برخې (Header and Footer) باید په ترتیب سره هیډر 0.5 او فوټر 1.81 انچه چې 1.27 او 4.6 سانتي متره کیږي، وي. دپاڼې دواړو خواوو (ښي او چپ طرفونو) ته خاشیې باید 1.26 انچه چې 3.2 سانتي متره سره مساوي ده، برابرې شي؛ د پاڼې سر اواخرنۍ برخې (Top and Bottom) باید په ترتیب سره 1.58 انچه چې 4 سانتي متره کیږي، منظمې شي؛ د مقالې Gutter باید 0.2 انچه یا 0.5 سانتي متره ښي طرف (Right Align)ته ترتیب شي.

۸- د هر پراګراف پیل باید له نوي لاین یا کرښې څخه پیل شي. لومړی کرښه یې باید یو indent مخکې لاړه شي او کنه له مخکې پراګراف څخه یو انټر لاندې نوی پراګراف پیل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- تصویرونه او ګرافونه، باید واضح، روښانه او د شکل شمېره ( ) ولري. که چېرې تصویر یا ګراف ټوله پاڼه ونیسي، شمېره په پام کې نیول کېږي مګر لیکل کېږي نه.

۱۰- د مقالې هر لیکونکی باید د ډېر غور او دقت وروسته یوه کاپي د مجلې مدیریت ته په سافټ او هارډ (کمپیوټري او کاغذي) ډولونو کې راوړي.

۱۱- د مقالې هر لیکونکی باید د مقالې د ارزونې خاصه فورمه دخپلې مقالې سره واخلي او د مقالې د ارزونې په وخت کې یې د اصلاح وروسته ډکه او د مجلې مدیریت ته تسلیم کړي.

۱۲- د مقالې ضمه واري د سمون، معنا، مفهوم او هدف له مخې د لیکونکي پر غاړه ده،د مجلې دفتر یې یوازې د ترتیب، تنظیم، چاپ او توزیع مسوؤلیت لري.

د علمي مقالې د لیکلو طریقه او تخنیکي شرایط:

لومړۍ پاڼه:

- د مقالې عنوان باید په مکمله توګه د معنا لرونکي او د متن سره مطابقت ولري او د پاڼې په منځ کې ولیکل شي.

- د مقالې عنوان له ۸۰ حروفو څخه زیات نه وي، د لیکونکي نوم، تخلص، علمي رتبه، د تحصیل درجه، پوهنځی، ډیپارټمنټ، مبایل شمېره، او ایمېل ادرس (که څوک یې لري) د پاڼې سر ته په ښي طرف کې ولیکل شي.

دویمه پاڼه:

- د مقالې عنوان د پاڼې په منځ کې په پښتو یا دري، لنډیز تر (۲۵۰) کلمو پورې وي، سریزه، د کار مېتود ، مواد، اصلي متن یا محتوا ولري.

- مناقشه، وړاندیزونه، آخري پایله، په انګلیسي ژبه لنډیز (Abstract) چې د اصلي لنډیز سره د معنا او مفهوم له مخې یو شی وي، ولري.

- ټولې منابع (References) باید د لایحې مطابق په متن کې دشمېرې په ورکولو سره ذکر شوې وي.

- منابع (References) دالفبا په ترتیب په همغه لیکلې شوې ژبه (پښتو، دري، انګلیسي) د لایحې مطابق پهAmerican PsychologicalAssociation (APA) سیستم ولیکل شي.

د شیخ زاید پوهنتون پوهنیزه مجله

دشیخ زاید پوهنتون خپرونیز ارګان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکلړ

ګڼه	سرلیک	لیکوال	مخ
.1	مېوه جات او ګټې یې	پوهندوی امرالله آصفي	۱
.2	د نړیوالو تړونونو مسوده	پوهندوی محمدالله مندوزی	۱۳
.3	د منو په وده، کیفیت او حاصل باندې د نایتروجن اغېزې	پوهندوی حکم خان حبیبي	۲۱
.4	د انساني حافظې فزیالوژیک بنسټونه	پوهنمل ډاکټر سید رحیم شاه شملوال	۳۱
.5	چاغوالی (Obesity) او د وزن زیاتوالی (Overwieght)	پوهنمل دوکتور طاهرشاه نېکمل	۴۲
.6	د ځېرنې شکلي قالبونه	پوهنمل میاولي شاه میاخېل	۵۳
.7	په پښتو ګرامر کې د (یا) ډولونه او سمه کارونه یې.	پوهنیار ماسټر محمد قاسم ګربز	۶۰
.8	د اوسپنیز کانکریټي پوښښ په واسطه د اوسپنیزو کانکرېټي پایو تقویه کول	پوهنیار ایمل هاند	۷۱
.9	د ړیرې حکم د اسلامي شریعت له انده	پوهنیار ذاکرالله ذکي	۸۴
.10	په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو سیستم پلي کولو لپاره د کامیابۍ بنسټیزعوامل	پوهنیار ماسټر صالح خان صالح	۹۲
.11	د پیسو مینځل (قانوني شکل ته د پیسو اړول)	پوهنیار محمدصدیق نوابزاده	۱۰۳
.12	تاثیر فرهنگ تکلف گرایی بر رفتار اقتصادی افغانها	پوهنیار محمد عثمان عادل	۱۱۳
.13	تحلیل منش های قهرمانان گرشاسپ نامه	پوهنیار ماستر میرسبحان مجددی	۱۲۱
.14	شیخ عطار وهفت وادی سلوک	پوهنیار نورآقا نویسا	۱۳۶
.15	انسولین او دهغې میتابولیک تاثیرات	پوهنیار خان وزیر عادل	۱۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهندوی امرالله آصفي
د ښوونې اوروزنې پوهنځی
کیمیا څانګه
برېښنالیک: AmrullahAsefi53@gmail.com
ګرځنده شمېره:۰۷۰۰۷۹۲۷۲۵

مېوه جات او ګټې یې

لنډیز

مېوه جات محافظه کوونکي خوراکي مواد دي ،چې لرونکي د ویتامینونو ، منرالونو ، کاربو هایدریتو ، پروتینونو او شحم لرونکی دي.

ځیني مېوه جات لرونکي د ویتامینونو دي لیمو، نارنج، مالته ویتامین سی لري ، ځیني مېوه جا ت د منرالونو دي لکه منه ، زردالو ، کیله، سودیم، پوتاشیوم ، اوسپنه ، کلسیم ، مګنیزوم اونور لري ، ځیني مېوه جات لرونکي دشحم وی لکه پسته ، ځلغوزي ،چارمغزي چې خستي یي شحمي مواد لري .

الو بالو داسې مېوه ده چې پخه شي دسینې اومري په درملنه کې ،دقبضیت دمینځه وړلو لپاره ، دصفرا اود وېنې جوش د له مینځه وړلو لپاره ډیره ګټه رسوي. پسته او ځلغوزی اوچارمغز هغه مېوه جات دي چې د مغزیاتوپه ډله کې حسابېږي لرونکي د دشحم ،پروتین ، کاربو هایدریت ، منرالونه لکه کلسیم فاسفورس ، اوسپنه ، فلورین آو برسیره پردې سره مهمه منبع د ویتامینونوهم ګڼل کیږی ،

موخې

زمونږ موخې ددې لیکنې څخه دادي ،چې مېوه جات دانسان بدن لپاره څومره ګټور دي اوڅرنګه استفاده ورڅخه وکړل شي .

سریزه

میوې د کاربوهایدرویتونو، پروتین ، شحمیات، منرالونو، ویټامینونو ډیره ښه منبع ګڼل کیږي چې د غذایي توا ز ن په برقرار ساتلو کې عمده رول ادا کوي د نړیوال روغتیایي سازمان W.H.O د سپارښت په اساس هر تن باید د ورځې 450gr میوې اوسابه په مصرف ورسوي په دې توګه دهندوستان د طبي څیړنوکمیټه د ورځې د یوتن لپاره د 120gr مېوو دخوراک سپارښتنه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سبواومېوو خوړل د ځینو ناروغیو پر وړاندې د درملو په توګه او هم د ناروغیو پر وړاندې د انسان د بدن مقاومت لوړه وي او انسان تند رست ساتي اود نمو سبب یې ګرځي، د یوې تجربې له مخې ۲۴ دانې کیلې چې هر یوه 100gr وزن لري .

د یوشخص لپاره 2400 کیلو کالوریانرژي تولیدوي ، په پرمختللي هیوادونوکې د خلکود خوړو 30-40% پورې میوې تشکیلوي چې خپله میوې د غوښو، شحمیاتو چې د قلوي خواص لرونکي دي د تیزابي کد لو سبب ګرځي ، اود بدن دتیزاپیت او قلویت حالت د تعادل او تنظیم لپاره اساسي رول لوبوي.

د B.B.C راډیو د خپرونوپه بنسټ هغه کسان چې مېوې استعمالوي د غوښې مصرفوونکو کسانوپه پرتله د زیاتو عمر لرونکي وي. همدغه میوې دي چې په خپل ځان کې یې معدنیات، ویټامینونه، فولاد، اوبه اونور کیمیاوي مواد رانغښتي اومونږ له ناروغیو څخه ساتي او بدن ته مو وینه او قوت رابښي اود درملو پرځای له مونږ سره مرسته کوي.

مېوه جات

مېوه جات محافظه کوونکی خوراکونه دي،څرنګه چې مېوه جات د ویتامینونو او منرالونو ښه منبع ده نو ځکه دانسان په غذایي رژیم کې ارزشت ناکه شمېرل کېږي. د مېوه جاتو یوخاص صفت دادی چې د نورو موادوپه نسبت خام خوړل کېږي اودمنرالونو او ویټامینونو څخه یې ښه استفاده کېږي.

د مېوه جاتوارزښت : دمېوه جاتو ارزښت په لاندې ډول سره بیان شوی دی .

1. هغه مېوه جات چې په زیاته اندازه ویټامین C لري مثلا یو نارنج په متوسط ډول سره دیوه انسان ورځنې احتیاج پوره کوي ځینې مېوه جات په کافي اندازه Caroten لري لکه ام او نور.
2. منرالونه: میوجات د منرالونوخصوصاً د Na+ او K+ ښې منابع دي اوهم د Ca++ غني منابع لري لکه کجورې ،ممیز ،زردالو د Ca او Fe ښې منابع دي اومېوه جات مختلف عضوي تیزابونه هم لري. [2]

الوبالو

الوبالو داسېمېوه ده چېونه یې اغزي نه لري . ګیلاس وړه، مزه داره اوخوږه مېوه لري، چې د ټولولو پر مهال یې دمیوې رنګ سور، زیړ او یا تور وي او په حقیقت کې په طبیعت کې هم په همدې رنګونو پیدا کېږي. دغه مېوه هغه وخت له ونې څخه راټولیږي،چې سمه پخه شي اوتر راتولیدو وروسته یواځې درې ورځې په سمه توګه ساتل کیدای شي، اکثره له الوبالوڅخه مربا اویا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شربتونه جوړیږي، نو په همدې خاطر نه شوکولای په تازه شکل یې تر ډېره وخته پورې وساتو ، خوکولای شو،چې په فریزر کې یې ساتنه وکړو، لیکن غوره داده،چې لومړی یې زړي لري کړي.

الوبالو وچ او یخ دي قبضیت له مینځه وړي، تنده ماتوي، صفرا کنترولوي،معده پیاوړي کوي، او التهابات له منځه وړي، د الوبالو نچوړ که له بادیاتو سره وځښل شي، نو د بولې تناسلي لارو د سوزش اودمثانې د تېږو د درملنې لپاره ډېر ګټور وي، الوبالو اشتها ډېره وي اود ینې د فعالیت د پیاوړتیا لپاره ګټور دي په ترکیب کې بې مغزي مواد موجود دي .

خوږ الوبالو د سینې او مرۍ د سوي لپاره د قبض د له منځه وړلو لپاره د صفرا او وینې د جوش کرارولو لپاره د سوزاک، زړه بدوالی اوقی لپاره اوهمدارنګه له بادیاتوسره یوځای کارول یې د متیازو اود مثانې او ګردې (پښتورکو) د تېږو باسلو او روانولو لپاره کارول کېږي، خوتازه اوخوږ الوبالو باید ځکه له خوږو وروسته ونه خوړل شي چې د معدې رطوبت له مینځه وړي نوجوته خبره ده،چې معده کمزوري کوي. [5]

د الوبالو ستراتیفکشن

الوبالو نوروسخت زړومیوو په شان ستراتیفکیشن ته ضرورت لري چې په لاندې ډول د ځینوډولونو یا نمونو لپاره جلا جلا ورځې ښودل شویدي.

نوعه	د ورځو شمیر	د تودوخې اندازه
Prunus Mahaleb	**88**	**37 F^0**
Prunus avioum	**125-100**	**37 F^0**
Prunus Serotina	**60-30**	**50-30 F^0**

د الوبالو د نیالګو لپاره د کندو ایستل

وروسته له دې چې په باغ کې نقشه وشي اودنیالګیو ځایونه په ډ اکونښه شي د کرلو د لرګي دتختې څخه په استفادې سره دنیالګیو لپاره کندې ویستل کېږي دلرګي تخته چې یو متر اوږدوالی لري په دواړو سرونوکې یوه نښه لري اوپه مینځ کې هم د سرونوپه خېر یوه یوه نښه لري اوپه منځ کې هم د سرونوپه څېر یوه یوه نښه لري دمنځ نښه دلرګي دهغه میخ سره په کوم چې دنیالګي ځای نښه شوی دی برابرولو اود سررونو په دواړونښو سره دلرګي دوه نورمیخونه خښوو نوموړي دواړه میخونه د نیالګیو د کښینولو مخکې نه بې ځایه کوو خو نوموړي عمل د پټی د یخوا نه شروع کووچې بیا د کندو ویستل او دنیالګیو کرل هم له همدې طرف نه پیل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندې په داسې ډول ایستل کېږي چې دسر بېل خاوره ښي طرف اودلاندې بېل خاوره چپ طرف ته اچول کېږي،چې د نیالګیو دکرلو په وخت کې د ښي طرف خاوره دنیالګي بیخ ته اود چپې خوا خاوره دنیالګیو دکندې په پورتنۍ برخه کې اچول کېږي اویا د چپې خوا خاوره په پټي کې شیندل کېږي اود کندې په پاتې برخه کې د پټي دنورې برخې خاوره اچول کېږي.[8]

شکل (۱) د الوبالو انځور څرګندوي

د ګنیو تاریخچه

داسې ویل کېږي چې ګني په [1766BC]قبل المیلاد کې چینایانو کرل او د ځان سره به یې د سفر د غذا په حیث په سفر کې وړل. د ګنیو د عصري کر کیدونکی نوعی [Saccharumofficinarum] مبدا شاید (New guinea) وي او په(8000BC)قبل المیلاد دلته کرل کیدل او بیا د هغه ځای څخه سلیمان جزیری،نیوکالډونیا،او نیو هبریډس ته خپاره شوي دي. او (6000BC)قبل المیلاد کی دغه نوعه هندوستان ،ویابورنیو، برما،جاوا،مالایا،او فلپین ته یوړل شو.

د هغه شواهدو په نظر کی نیولو سره چی په هندوستان کی د لرغونپوهانو پواسطه پیژندل شوي دي داسې ګمان کېږي چی د ګنیو کرل لږ تر لږه په هندوستان کی(1000BC) ق م مروج وواو بل دا چی دګنیو وحشي نوعی هم په هندوستان او مدیترانه کی موندل شوی دي نو دغه دوه ځایونه د ګنیو د مبدا په نوم یادیږي .

همدارنګه د لومړي ځل لپاره د کرستل لرونکی بوری راپور(2500)کاله وړاندی په هندوستان کی ورکرل شوی و,. او عربستان،ایران،او چین ته د ګني د هندوستان څخه یووړل شول.په—500) (1100 م کال کی ګني د هندوستان څخه ټاهیټي ته یوړل شول. په(600))م کال کی د ګنیو څخه خالصه سپینه شکره لاس ته راغله . د(8)قرن په شاوخوا کلونو کی د عربستان څخه مدیترانی ته معرفي شوه او دلمړنیو نباتاتو د جملی څخه دي چې د هسپانویانو پواسطه امریکاته یوړل شول.او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په شرقي سیمو کې دا نبات په محلي شکل کرل کیده مګر اساسي کښت یي په (1335)کال څخه شروع شو[7]

د ګنیو اقتصادي ارزښت

۱ـــد دی پواسطه بزګرانو ته زیات عاید لاس ته راځي.

۲ـــکارکونکو ته روزګار پیدا کیږي او غربت له منځه وړي.

۳ـــد بوری د فابریکو لپاره خام مواد برابروي.

٤ـــدګنیو پورتنی برخه دحیواناتو د تغذیي لپاره استعمالیږي

٥ـــد شکرې په فابریکو کې ترې بوره،ګوړه،پوک اوfilter-cake.

او wax لاس ته راځي.

٦ـــپوکbaggase :دکاغذ په جوړولو،دسختوتختو په جوړولو

د حیواناتو د تغذیي او د سری په تولید کی استعمالیږي.

۷ـــFilter cake دعضوی موادو او زیات لګښتي او کم لګښتي عناصرو بډایه منبع ده.

۸ـــد ګنیو وکس د فلترکیک څخه په لاس راځي او دبوټانو د رنګ په تولید کی پکاریږي.او بعضی پاتي شوني وي د ډیران په جوړولو کی پکاریږي.

۹ـــپه تازه ډول چوول کیږي

۱۰ـــاوبه یي د واوري او لیمو سره یوځای کیږي او مزه دار شربت ترې لاس ته راځي.[6]

(۲) شکل د ګنیو انځور څرګندوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پستې د ونې ځانګړتیاوې

د پستې علمي نوم Pistacia Veraدی کوم چې د Anacardiaceae په کورنی پورې اړه لري او Pistacia ددغه کورنۍ یو ډیر مهم جنس دی چې د تودو او نیمه تودو سیمو لاندې ډولونه دهغې سره ارتباط پیدا کوي.

1- Pistacia Vera
2- Pistacia Mutica
3- Pistacia Khinjuk
4- Pistacia Atlantica
5- Pistacia Lentisus
6- Pistacia Terebethus
7- Pistacia Chinesis
8- Pistacia Mwxicana or texana
9- Pistacia integrrima
10- Pistacia Verrestina
11- Pistacia Oleosa

چې ددغه پورته ډولونو څخه یې یوازې دوه ډولونه زیات اهمیت لري چې عبارت دي له Pistacia Atlantica او Pistacia Lentisus چې ددغه دوو څخه یېلوړني ډول ئې Pistacia Atlantica زیات د Rootstock په ډول استعمالیږي.

او هغه پستې چې د تخم د کرلو په ذریعه سره تولید شي کیدای شي تر څلور سوه کالو پورې خپل عمر اوږد کړی دا په داسې حال کې چې د پیوند ونو عمر تر 150 کاله پورې رسیدلای شي مګر بیا هم که چیرې Pistacia Vera د Pistacia Atlantica په Rootstock باندې پیوند شي کیدای شي تر 200 کلونو پورې یې عمر دوام وکړي.

د پستې ونې بیا خپله Dieocious دی کوم چې مذکر او مونث ګلوونه یې په جدا رونوکي ځای لري. او د پستې ټول ګلونه وړی ته ورته شکل لري چې په مذکر ګلونو کې ددغه وړي جوړښت ډیر سره اوبدلی مګر په مونث وړي کې بیا ګلونه یو د بل څخه څه نا څه فاصله لري او دغه ګلونه یو دا نه تخمدان او یوه تخمه لري . دغه ونې د باد په ذریعه القاح کیږي نو د القاح د عملیې د تطبیق لپاره باید په بڼ کې 10% مذکر جنس وجود ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڼې ددغه ونې Compound leaf بلل کیږي ځکه دغه پاڼې په خپل وار سره (5-7) کوچنی پاڼې په خپل جوړښت کې جذبوي.د پستې دونې ریښې د Top root system څخه په پیروي سره د 2m څخه لازیاتې په ځمکه کې عموداً ښکته خواته حرکت کوي دا په داسې حال کښې چې جانبې ریښې هم په ډیره کمه اندازه د انکشاف په حال کې وي هغه هم د اصلي ریښه دریشي په انتقالي برخه کې ځای لري نو ځکه دغه ریښه جذب شوي معدني مواد په پوره تیزی سره ونې ته نشي رسولای، تر څو د خیني غذا په حیث ورته هغې ته بدلون ورکړي چې په همدغه حال کې یو ګڼ شمیر ونې د وچیدو سره مخامخ کیږي.

نو ددغه پرابلم د له منځه وړلو لپاره باید اصلي ریښه قطع شي ترڅو له یوې خوا دغه اوږده فاصله لنډه او له بلې خوا د جانبي او ویښته رقم (موی مانند) جذبوونکو ریشو انکشاف ته لاره هواره شي. دا هم پداسې حال کې چې اوږدې ریشې بیا دغه نبات د وچکالی په مقابل کې سخت مقاوم کوي.

د پستې دونې شاخونه او تنه بیا د تربانتین په نوم د کمیاوي موادو درلودونکی دی چې ددغه کورنی نوم (Terebenthsceas) له همدغه ځای څخه لاسته راځي[2]

د پستې ډیرښت او د هغه د باغ ایښودل

دنبات پژندنې علم څرګندوي چې پسته دوه ډوله تکثیر کیدای شي.

1- Layering

2- Seedling

خو د اقتصادي چارو څیړونکي بیا د پستې تکثیر ته د تخم په ذریعه ترجیح ورکوي ترڅو یو مناسب Root stock تولید او بیا د پستې یو په زړه پورې (Sion) وربانديې پیوند او تربیه شي نوځکه همدغه یوه لاره د څیړنې زیاته وړتیا لري. چې مونږ هم دلته یوازې د پستې کرنه او د پیوند کولو لارې چارې مطالعه کوو.

د پستې کرهنه هم بیا د هغه کرنیز ځای له مخې دوه ډوله تربیه کیدای شي.

1- دپستې کرنه په قوریه کې.

2- پستې مستقیماً په کرنیزه سیمه کښې.

چې بیا په خپل وار سره په دغه پورته دوو طریقو کښې یې دویمه دلومړی څخه دلاندې عواملو له مخې داستعمال زیاته ساحه او غوښتونکي لري. چې ټول دغه عوامل د اقتصادي او زماني ضایعاتو د را کمولو له مخې یو له بل سره په پرتله کیدای شي.

1- د ریښې د طبعي خاصیت له مخې د پستې قوریه زیاتې پاملرنې ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- دقوریي څخه د تربیي اصلي موقیعیت ته د نیالګیو وړل داسي یوه پروسه ده چي کیدای شي 15-60% نیالګي په کي وچ او له منځه لاړ شي.

3- که چیري د قوریي څخه انتقال شوي نیالګي د وچیدو او خرابیدو څخه 100% بچ شي خو بیا هم د عاید د ورکړي پروسه (میوه نیونه) د یو کال په اندازه شاته غورځوي. [3]

(1)(۳) شکل دپستي انځور څرګندوي

د زردالو ونه

کیږي خوزیا ت شمیر ریښي یي د ۲ مترو او ٤ مترو په ژور والي کي عمومیت لري .نو د زردالو ریښئ لپاره ۲ متره ژوروالي په ضرورت دي ټول سخت زړي میوي لپاره باید داوبو سطحه له یو متر او یو متر او ۲۵ سانتي مترو څخه کم نه وي .دزردالو لپاره باید دځمکي پي اچ په ٥-٦,٥ پوري وي . زردالو هم لکه دنورو سخت زړو میوو په شان دزخو دغوړیدو لپاره هواته ضرورت لري خو دډیرو سړو پواسطه له منځه ځي .[8]

د زردالو اقصادي ارزښت

زردالو دټولو سخت زړو میوو دډلي خخه یوازینی سخت زړي میوه ده چه په افغانستان کي په صادراتي میوو

کي ئي ځاي غوره کړي دي اوپه افغانستان کي په تجارتي ډول کرل کیږي .

تر اوسه په افغانستان کي دزردالو ډولونه نه دي پیژندل شوي او په هره سیمه کي ورته دهغوي درنګ ، خوند اوخوږوالي له مخي ورباندي نومونه ایښودل شوي دي خو یوازي دوه قسمونه یي مشهور دي چه عبارت دي له قیسي او امیري څخه . دنوموړو میوو څخه په افغانستان کي په مختلف ډول استفاده کیږي لکه د هغي دزړي څخه په خوړو کي په تازه ډول او همدارنګه وچیږي او کښته تري جوړیږي اوپه کندهار کي ورڅخه جیم هم جوړیږي .[1]

(c) ketabton.com: The Digital Library

توجو وړ ندي ګرځیدلي .په همدي اساس ځنغوزي یوازي په افغانستان کي ډیر پیداکیږي [3].

د ځنغوزیو اقتصادي غذایي اهمیت او ارزښت

ځنغوزي یوه مغز لرونکي مېوه ده چې په هغه کي 7.5%ر طوبت او3% معد ني مواد لري ١٤% پروتین ، ٤٩% شحم ، ٢١% کاربو هایدریت ٢٢% الیاف چی دا معد نی مواد عبارت دي له F2,P,Ca او پکتیت څخه دي همدارنګه شحمي اسیدونه هم لري لکه پالمتیک اسید، سنداسید او ریګ شته .

د ځنغوزیو ونې د نښترو د ونوسره پرتله کږي رڼا ته پوره اړتیا لري او هم ټاکلي اوبه او هوا د إقلیم نه غواړي . یعني په هر ډول شرایطو کي وده او ژوند کولاي شي او په ځنګلونو کي هم له نورو ونو څخه جلا وده کوی او هم د نورو ځنګلي ونو سره ګډه ځنګلي ټولنه جوړوي . (٥: ٥٣-٥٨)[9]

٠٥) ښکل دځلغوزیو انځور څرګندوي

د منو اقتصادي اهمیت

په افغانستان کي منې د انګورو په پرتله په لږه تجارتي پیمانه روزل کیږي د افغانستان اقلیمي او طبیعي شرایط د منو کرلو لپاره خورا په زړه پوري ښکاري. څو کاله پخوا دکابل منې ډیرې مشهورې وې خو متاء سفانه چې هغه ټول باغونه اوس له منځه تللي دي او یواځې دافغانستان په ځینو سیمو کي لکه دوردګ، لوګر ولایتونه او داسې نوروکي اوس د یو زیات شمیر خلکو پاملرنه دمنو د باغونو کرلو ته اوښتي ده . برسیره پردې دنوموړو سیمو ښوالو دځینې اصلاح شوو منو دجنسونو په استعمال پیل کړي دي.

د مثال په ډول (Red Delicious) او(Golden or Yellow Delicious) په ځینو سیمو کي کرل شوي دي. په همدې ترتیب د ځینو Rootstocks (دمنو دونو نیله بوټي) لکه ایست مالینګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ (Eastmalling 9) او مالینگ مرتن ۱۰۶(Malling morten 106)استعمالول هم رواج شوي دي .[6]

په افغانستان کې تراوسه پورې منې یوازې په تازه دول خوړل کیږي خو په نوره نړۍ کې ورځخه په یوزیات شمیر مختلف شکلونو لکه قطی کړي ، مربا ، شربت ، پای ، او داسې نورو طریقو استفاده کوي . زمونږ دهیواد دمنو د باغونو دټولې ځمکې اویا دمنو دونو دشمیر په باب تر اوسه پوري په احصائیوي ډول معلومات نشته .

په همدې ډول په یو جریب کې د منو دحاصلاتو د اندازې په هکله هم پوره معلومات نه لرو . دځینو باغوالوو سره دلیکوونکو دخپلې خولې مرکې ځخه داسې ځرګندیږي چې د منې اوسني باغونه په یو جریب ځمکه کې ۵۵ ونې لري او هره شپږ کلنه ونه په کال کې ۱۰۰ کیلو ګرامه منې نیسي او که چیري دهر کیلو ګرام منو بیه ۲۰ افغانۍ وټاکل شي نو یوه ونه په کال کې د ۲۰۰۰ افغانیو منې تولیدوي چې په دې ډول په یوکال کې دیو جریب منو دباغ ټول حاصلات ۱۱۰۰۰۰افغانۍ کیږي .د ۲۰۰٤ کال داحصائې په اساس افغانستان دمنو کلنۍ تولید ٦۳۰۰۰ ټنه وو چې په بین المللي مارکیټ کې یې دیو ټن نرخ ۲۹۰ ډالره وو.[5]

۰۶) ښکل د منو انځور ځرکندوي

نتیجه

دپورتنیو لیکنو او مقایسوی ځرګندونوځخه دې نتیجې ته رسیږو چې مېوه جات دانسانانو دبدن لپاره ډیر ضروري دي ځکه چې مېوه جات دیره مهمه منبع دویټامینونواوانرجي دي ،همدغه مېوه جات دي چې دمختلف النوع ویټامینونو دلرلو له کبله دانسان بدن په نارمل ساتي ا وبر سیره پردې دانسان عصبي سیستم فعال ساتل کې خاص رول لري.

مناقشه

لکه چې جوته ده مېوه جات خصوصا الوبالو، ځلغوزي ، منه ،پسته ، بادام اوکوپره چې په حقیقت کې اصلي منبع د ویتامینونو ده دنړۍ اکثره پوهانو دپراخې مطالعې او کتنې وړ ګرزولی دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداوجه ده چې په عملی څېړنوکې دهری ورځې په تیریدوسره نوی معلومات په دې ډګر کې لاسته راوړي .

تر اوسه پورې چې کوم معلومات ترلاسه شوي دی داسی جوته شوي ده چې دمېوه جاتو په برخه کې معلومات په مختلفو تجربو کې سره توپیر لري اوګټې ئی د انسانانو لپاره ډېري زیاتي دي، نوکوم وخت چې ما خپله څېړنه دنوري نړی دستندرد او عملي څېړنو سره مقایسه کړله ډېر شباهت ئي لره نو په دې اساس زمونږ داڅېړنه د مېوه جاتو په باره کې ډېره اړینه وه.

نتیجه ګیري

دپورتنیو څرګندونوڅخه دې نتیجې ته رسیږو چې دمېوه جاتو په برخه کې ښه معلومات څرګندول ډېر اړین دي ترڅوچې ټول خلک په دې پوه شي چې الوبالو ، پسته ، ځلغوزي دنورو مېوه جاتو تر څنګ دانسانانو لپاره ډېر ګټور مېوه جات دي نوخلک باید ورڅخه استفاده وکړي.

Abstract

Fruits are Prafertive Food items Contain Vitamins, mineral, carbohydrates , Proteins and Fats.

Fruits Containing abundant Vitamins are Lemon , Orange , Kinno which have vitamin C

Other which have minerals are apple, Apricot , Banana, Those ContainSodium , Potassium , Iron , Calcium , magnesium etc. .Some other fruits like Pistachio Pincnats walnuts Contain lipids .

Ripe Cherries are effective in chest and mucrat allness Constiption , bile ablood dyscrasia , Pistacheas , walnuts aPincnuts are amang nuts fraits and Contain Lipids , Pirotein, Carbohydrats add minerals . Such as Phosphorus , Iron Flarme and are also Considered and important somree Q vitamins .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندیزونه

دپورتني څیړني څخه زمونږ وړاندیزونه دافغانستان مومن ملت لپاره دادي؟

۱: ددې لپاره چې دانسان بدن ډیره ښه وده اونمو کړي وي نو باید دمېوه جاتو څخه استفاده وکړي ؟

۲: الوبالوچې ډیر ښه دانسان دبدن ضرورت وړ مواد لري نو بزګرانو ته باید دهغې د کښت په برخه کې لازمه لار ښوونه وشي

۳: مڼه او زردالو دااسي میوي دي چې په زیته پیمانه سده معدني مواد لري نودهغوي څخه باید زیاته استفاده وکړل شي

۴: پسته او ځلغوزي چې پرسیره په ویتامینونو سره شحمي مواد هم لري نود هغوی کشت ار زرع کول ډیر ضروري دي

۵: دحکومت څخه مو هیله داده چې دمېوه جاتو لپاره دافغانستانپه په ټولو برخو کې فارمونه جوړ اودهغې څخه استفاده وکړل شي؟

مأخذونه

1. سیفي قمرالدین غذایي کیمیا .کابل پوهنتون ۱۳۸۸کال صص ۱۲، ۳۴،۵۶،۷۸
2. ب، م، شیرزاد. (۱۳۶۱هـ ش). د افغانستان پاڼریژې. دکابل پوهتون. صص ۱۲، ۶۵، ۹۰
3. ب، م، شیرزاد. (۱۳۷۸ هـ ش) . په افغانستان کې د باغونو او بزغلینو روزنه کابل پوهنتون. صص: ۸۷ ، ۹۸،۱۲۵
4. حسیني، سکندر. (۱۳۷۸) . د افغانستان کلک پستې میوې .عامه کتابتون خوست ولای د اطلاعاتواوکلتور ریاست صص: ۵۴،۹۸،۱۳۷
5. دعوتیار، محمد اجمل. (۲۰۱۱) . عمومي زراعت.میهن خپرندویه ټولنه صص۲۳،۵۴،۷۸،۹۰.
6. مشواني، عبدقیوم زاهد. (۲۰۰۲م). کورنۍ طبیب . دانش خپرندویه ټوله صص۷۶،۹۸،۹۰،۱۳۸.
7. ن، ک،حمزه خیل . (۱۳۵۹) . دنباتاتودتکثیر لارې، کابل پوهنتونصص۶۵،۷۹،۹۷.
8. قاسمي ، نورالدین. (۱۳۹۲هـ ش) . مېوه جات همیشه سبز.انتشارات سعیدصص ۹۷،۲۳۱.
9. راحل، زیارت ګل. (۱۳۷۶ هـ ش) . دافغانستان پاڼریژي میوې. کابل پوهنتون ص ۷۰.
10. :جویان،محمدیوسف،کیمیا یي غیرعضوي چاپ دوهم طبي علوم پوهنځي کابل(1387 هـ ش صص ۲۳، ۶۷،۸۰، ۱۲۴
11. ۱۰: مصمیم، سردارمحمد،عمومي کیمیا(13 تدریسوي کابل پوهنتون ۱۳۸۸ ش کال صص ۱۲۳،۲۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهندوی محمدالله مندوزی
د حقوقو او سیاسي علوموپوهنځی
اداره او دیپلوماسي څانګه
برېښنا لیک : prof.mandozay@yahoo.com
ګرځنده شمېرې : ۰۷۹۹۶۹۰۰۷۰ / ۰۷۷۲۳۰۰۳۵۸

د نړیوالو تړونونومسوده

لنډیز

نړیوال تړونونه د ټولونړیوالو (سیاسي، اقتصادي، نظامي، فرهنګي، مذهبي ....) اړیکو د تحکیم او ټینګښت یوه مهمه وسیله او تر ټولو غوره سرچېنه بلل کېږي، چې په خپل ذات کې لرغونی تاریخ لري، یعنې له هغې ورځې نه نیولې، کله چې د لومړي ځل له پاره د بین النهرین په سیمه کې ښاري دولتونه رامنځ ته شول، چې په خپلو منځو کې به یې کله دوستانه او کله غیر دوستانه اړیکې درلودې او کله نا کله به یې د یو او بل پرخاوره باندې تیری او تجاوز کاوه، چې د دغو تېریو د مخنیوي او د یو بل حاکمیت ته د درناوي په موخه تړونونه لاسلیک شول. دغه تړونونه د فرانسوي لرغون پوهانو له خوا، چې په دغه سیمه کې یې کندنې کړي کشف شول ، دا تړونونه په یوه ډبرینه تیږه په سومري ژبه لیکل شوې و او اوس مهال د فرانسې د (Laure) په موزیم کې د تاریخي یادګار په توګه ساتل شوې ده . د دغو پوهانو په نظر د دغې لیکنې تاریخ تقریباً (۳۰۰۰) مخکښې له میلاده اټکل شوی دی .

د کارمېتود

د ټولنیزو علومو په برخه کې څېړنه یوازې او یوازی له کتابتونونو او اوسنۍ تکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل دی . نو د دې مقالې په لیکنه کې د ملي او نړیوالو معتبرو کتابونو څخه کار اخیستل شوی دی. په دې هیله چې د قدرمنو لوستونکو تنده به تر یوه بریده ورباندې ماته شي.

موخه

د دې مقالې له لیکلو څخه موخه داده، چې د حقوقو او سیاسي علومو او نورو ټولنیزو علومو د پوهنځیو استادان او محصلان د نړیوالو تړونونو د متن په مسودې باندې پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

د هغې ورځې نه را په دې خوا کله چې انسان الله تعاله دځمکې پر مخ راڅرګند کړ په ابتدايي وخت کې يې تيت او پارګنده ژوند درلود، چې د وخت په تېرېدو سره يې د مدنيت لوري ته پام شو، چې په پايله کې بېلا بېلې بشري ټولنې رامنځ ته شوي . څه ډول، چې له انسان طبيعي جوړښت د انسانيت څخه متآثر دی.

بنآ د يو لړ ستونزو او مشکلاتو سره لاس او ګريوان شول . د دا ډول ستونـــزو د هوارۍ په موخه يې پـــه خپلو منځو کې يې د (ټولنيز تړون) پر بنسټ هوډ وکړ، څو د دولتدارۍ داسې يوه هسته جوړه کړې، چې د دوی د ټولنيز ژوند خونديتوب تضمين کړي. همغه و، چې د ټولنيز قرارداد پر بنسټ يې د دولتدارۍ داسې يوه هسته کېښوده، چې زياتره ستونزې هوارې کړي او د نورو دولتونو سره يې د خپل منځي اړيکو د ټينګښت او سمون په موخه نړيوال کنوانسيونونه لاسليک کړل دا سلسله اوس هم دوام لري .

د نړيوال تړون متن او دلاسليک بېلګه
دافغانستان او تاجکستان ترمنځ دپولو او نيک ګاونډېتوب په هکله !
نيټه : / /
دافغانستان ولسمشر ( )

د تاجکستان ولسمشر( )

د تړون سريزه

- ددواړو خواوو دصادقانه ارادو په پام کې نيول سره، چې د کابل / / نيټې په هوکړه کېږې انعکاس موندلی دپولو لنجې ددواړوخواوو ترمنځ دنورو ټولو مسايلو سوله ييز هوارۍ.
- که چېرې ددغو هېوادونو ترمنځ په دې هکله کوم پروتوکولونه په خوا لاسليک شوي وي په دې ځای کې بايد ذکر شي.
- دواړه خواوې اراده لري، چې دمتقابل احترام او اعتماد فضا رامنځ ته کړي، چې مذهبي، کلتوري، مشترکې اړيکې، چې د يو او بل سره يې لري په دې ځای کې بايد ورګډې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړون د دواړو خواوو لاسلیک کوونکي مقامات

دښه نیت(Bone Fide) او ګاونډیتوب، دخاورې تمامیت او دپولو دمصئونیت، په دې هکلهدانسانانو لپاره دتګ او راتګ د شرایطو برابرول.(۱:۵۵)
-د ملګرو ملتونوسازمان په منشورکي درج شوو اصولو ته په پام سره د یو او بل خپلواکی او حاکمیت تهدرناوی ددوستانه اړیکوټینګښت او پراختیا.(۲:۶۷)

دتړون ددواړو خواوو لاسلیک کوونکومقاماتو داختیاراتو وړاندی کول

- هغه څوک، چې دغه تړون لاسلیک کوي دپوره صلاحیت څخه برخمن دي، چې نومونه یې په لاندې ډول دي :
- دافغانستان ولسمشر ( )
- // دبهرنیو چارو وزیر ( )
- د تاجکستان ولسمشر)
- // د بهرنیو چارو وزیر( )
- موږ دتړون دواړه خواوې دتړون صحت او اعتبار ته په پوره درنښت قایل یو او دتړون په لاندې شرح باندې هوکړه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دترون اصلي ګټې

لومړی ماده: دترون دواړه خواوې مني او تائیدوي، چې د تاجکستان – افغانستان ترمنځ دولتي پولې دې په ځانګړو نښو نښانی او هغه پروتوکول، چې لا پخوا په دې باره کې لاسلیک شوي، په دې ترون پورې الحاق شي .(۶: ۱۴۴)

دویمه ماده:دواړه خواوې ژمنې دي، دهغه پروتوکول په اساس، چې دامنیت او همکارۍ په برخه کې لاسلیک شوې دي، دهرډول احلالګرومخنیوي به کوي او دپولو په اوږدو کې به دامنیت په ساتنه کې مرسته کوي.

درپیمه ماده: دغه نښانې شوې پولې په هېڅ صورت سره دبدلون وړ نه بلکې قطعي دي.

د ستونزو د هواریلارې چارې

څلورمه ماده: دپورته ذکر شوی ترون دتفسیر په هکله که کومه ستونزه رامنځ ته شي، باید په پوره درنښت په سوله ییز ډول هواره شي.که چېرې مسقیمې خبرې اترې، منځګړتوب اونور مېتودونه نتیجه ورنه کړې، موضوع باید محکمې ته واستول شي. دمحکمې پرېکړې ددواړو خواوو لپاره الازم لاجرا دي او دمحکمې لګښت به ددواړو خواوو په غاړه وي. (۳: ۳۵)

د حالاتو بدلون

پنځمه ماده: دفورس ماژور حالت(Force Majeure) له هغه حالت څخه عبارت دي، چې د ترون د پلي کېدو په بهېر کې په طبیعي بڼه رامنځ ته کېږي. لکه زلزله، اورلګیدنه، د ریل ګاډي چپه کېدل، په اوبو کې د کشتیو غرق کېدل، د الوتکې سقوط ..... د داسې پېښو په رامنځ ته کېدو سره خساره لېدونکې خوا په مقابل لوري باندې د خسارې د جبران حق نه لري او که په ترون کې له وړاندېدا ډول ماده ذکر نه شي یو او بللوری پر یو او بل باندې د خسارې د جبران حق لرې او د خسارې د غوښتلو دعوا کولی شي.(۹: ۵۶)

د ترون اجزاو ته کتنه

شپږمه ماده:- دم.م منشور(۱۰۲) مادې دحکم په اساس نړیوال ترونونه باید د ملګرو ملتونو سازمان په دارالانشآ کې ثبت او راجستر شي.(۴: ۱۰۲)

د نافذیدو نیټه

اومه ماده :- نوموړي ترون باید دکورنیو قوانینو پر بنسټ تصویب شی.(۷: ۹۲)

اتمه ماده :-داسنادو تبادلې ته دنافذېدو حالت وایي او داجرا وړ ګرځي.(۸: ۶۶)

د ترون لاسلیک کوونکي

نهمه ماده :-دترون خواوې، چې دپوره صلاحیت څخه برخمنې وي . دغه ترون لاسلیک کوي.

د ترون د لاسلیک نیټه او د لاسلیکوونکو نومونه او مسئولیتونه

کابل : نیټه :- / /

( ) د تاجکستان ولسمشر

( )دافغانستان ولسمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تړون د لاسلیک پرمهال د شاهدانو نومونه

اوسنی تړون او درې نور پروتوکولونه او ضمایم یې دښاغلو هریو:

( ) د ملګرو ملتونو سازمان سرمنشي

( ) دمتحده ایالاتو دبهرنیو چارو وزیر

( ) دروسیې دبهرنیو چارو وزیر

پایله

د نړیوالو عمومي حقوقو ټولو شخصیتونو ته لازمه ده، چې د خپلمنځي (اقتصادي، سیاسي، نظامي، فرهنګي، مذهبي او نورو) اړیکو د ټېینګښت په موخه ټول نړیوال تړونونه د ټولو نړیوالو معیارونو سره سم، چې د ملګرو ملتونو سازمان په منشور کې درج شوي لاسلیک کړي، څو یې حقوقي اعتبار ته صدمه ونه رسېږي. د نړیوالو کنوانسیونونو مفهوم ډېر لرغړنی تاریخ لري، چې د مقالې په متن کې یې یادونه هم شوې ده دا ډول کنوانسیونونه د دولتونو د رامنځ ته کېدو سره سم رامنځ ته شوې، څو د دغو دولتونو او نورو نړیوالو حقوقي شخصیتونو ترمنځ اړیکې تنظیم او اداره کړي . لدې پرته به نړیوالې اړیکې بې نظمه او هېڅکله به نړیوال نظم او انسجام رامنځ ته نشي.

مناقشه

په نړیواله ټولنه کې اوسېدل ددې سبب کېږي، چې دولتونه د خپلو متقابلو نړیوالو ګټو په ساتلو سره د نـړۍ د هېوادونو

سره اړیکو ته ور داخل شي، څو وکولی شي د خپلو خلکو اقتصادي، سیاسي او نورې اړتیاوې پوره کړي. دا هغه

اړتیاوې دي چې هېڅ یو دولت به ونشي کولی، چې په یوازې توګه هغې ته لاس رسی ولري. دولتونه د یوې ورځې

نه بلې ورځې ته د داسې حالاتو سره مخامخ کېږي، چې د نورو دولتـونو سره د اتـحاد او یووالي داسې تړونونه لاسلیک

کړي، چې په پایله کې په نړیواله او سیمه ییزه کچه د نړیــوالې سولې او امنیت د ټینګښت په لاره کې د دولتونو ترمنځ

په زړه پورې همکارۍ رامنځ ته شي، چې ډېرې مثبتې اغیزې د ځان سره لري. دلته پوښتنه پیدا کېږي، چې ایا دغه

نړیوال تړونونه به د نړیوالو شخړو په هوارۍ کې اغیزمن نقش لوبولی یا خیر؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هکله باید د ملګرو ملتونو سازمان هڅو ته مراجعه وشي، چې په خپل تشکیل کې یې د نړیوالو معتبرو اسنادو د تدوین

او تصویب لپاره د نړیوالو حقوقو کمیسیون (ILC) په نوم سره یوه ادراه جوړه او تاسیس کړه، چې د نړیوالو تړونونواو

نورو نړیوالو اسنادو په تدوین او تصویب کې ارزښتناک نقش لوبوي، چې اوس مهال د دا ډول نړیوالوتړونونو او نورو

نړیوالو اسناد شتون سلګونو ته رسېږي، چې په دې ځای کې یې یادونه لږ څه ستونزمنه ښکاري.

په هر صورت د دا ډول نړیوالو اسنادو شتون په نړیواله کچه نسبي سمون او انسجام راوستې او دا لړۍ اوس هم دوام لري.

او همدارنګه ملګري ملتونه د خپلو همکارو سیمه ییزو سازمانونو له لارې هم دغو ستونزو ته لاس رسی لري.

د یادولوور ده، چې نړیوال تړونونه د نړیوالي همکارۍ په برخه کې اغیزمن واقع شوې او تمام شوې دي . هیله دا ده،

چې پورته ذکر شوې نړیوال تړونونه د ورځني ژوند د اړتیاو له مخې د نړیوالي همکارۍ او د نړیوالي سولې او امنیت د

ساتنې لپاره ګټور تمام شي.

نتیجه ګیري

ګرانو لوستونکو! له دې څېړنې څخه لاندې نتیجې او پایلې په لاس راځي:

۱- بې له شکه، چې نړیوال تړونونه د ټول بشریت هر اخیز نظام اداره کوي، چې د کمزوریو او نیمګړتیاو څخه ډک دی،

نو د دغو کمزوریو او نیمګړتیاو د له منځه وړلو له پاره د نړیوالو تړونونو او کنوانسیونونو لاسلیک یوه اړتیا ده.

۲- نړیوال تړونونه د هغو مقرراتو څخه عبارت دي، چې ټاکلې حقوقي موضوعات کنټرولوی او اداره کوي.

۳- نړیوال تړونونه مو په نړیواله کچه د یوه ځانګړې نظم او انسجام سره مخ کوي، چې د دولتونو له خوا لاسلیک

او تصویبیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- نړیوال تړونونه، په نړیواله کچه د نړیوالو عمومي حقوقو د شخصیتونو ترمنځ فرهنګي، سیاسي، اقتصادي، نظامي .... اړیکی اداره کوي، نه یوازې په لاسلیک کوونکو هېوادونو؛ بلکې نا لاسلیک کوونکو هېوادونو باندې هم خپلې اغیزې شندي،

چې باید رعایت یې کړي.

۵- نړیوال عمومي حقوق د ټولو نړیوالو مسایلو اساس او بنسټ بلل کېږي، نو په کار ده، چې د نړۍ ټول دولتونه په

خپلو منځو کې دا ډول نړیوالو تړونونه لاسلیک او د پلي کېدو لپاره کلکه اراده ولري.

۶- د ځېړنې په پای کې دې تنیجې ته رسېږو، چې نړیوال تړونونه نه یوازې په سیاسي ژوند؛ بلکې په اقتصادي، فرهنګي .... برخو کې هم لاسلیک شوې دي.

۷- د نړیوالو تړونونو پلي کېدل د دولتونو په اخلاقي مسئولیت او ملي ګټو پر بنسټ ولاړ دی، چې اخلاقي، سیاسي، اقتصادي، حقوقي، علمي، فرهنګي، هنري او دېته ورته نورې لاسته راوړنې د ځان سره لري.

۸- د لیکنې په پایله کې ویلې ش، چې نړیوال تړونونه د دولتونو د ګټو د ټک، عدم دلچسپي او د نه همکارۍ له امله د سقوط

سره مخ کېدای شي.

سره ددې، چې په نړیواله کچه ښه پرېمانه نړیوال تړونونه او نور معتبر قوانین او اسناد شتون لري، ولې بیا هم څه

ډول، چې لیدل کېږي، نه دې مراعات شوې. دا چې نړیواله سوله او امنیت د ټول بشریت ګډ ارمان دی، لا تر اوسه نه

دی پوره شوی.

د نړیوالو عمومي حقوقوټولو شخصیتونو او په ځانګړي توګه دولتونو ته لازمه ده، چې د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت

، نړیوالې همکارۍ او تودو او ګرمو نړیوالو اړیکو د ټینګښت لپاره ګډه مبارزه وکړي؛ څو مطلوب هدف ته ورسېږي.

وړاندیزونه

افغانستان د نړۍ د هېوادونو څخه یو هېواد دی، چې خپل ملي او نړیوال مسؤولیتونه لري او د ټولو ملي او نړیوالو قوانینو

تابع دی، چې د خپلو ملي او نړیوالو ګټو د خوندېتوب په خاطر ورته لازمه ده چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د سیمه ییزو او نړیوالو تړونونو غړیتوب ترلاسه او په هغوی کې فعال ګډون وکړي.

۲- د ګاونډیو او د نړۍ د هېوادونو سره داسې تړونونه لاسلیک کړي، چې افغان ولس ته یې خیر ورسیږي او په دې توګه ملي

او نړیوالې ګټې خوندي شي.

۳- د سیمه ییزو او نړیوالو شخړو په هوارۍ کې باید د نړیوالو عمومي حقوقو او د ملګرو ملتونو په منشور کې د درج شوو

اصولو او مېتودونو څخه کار واخېستل شي.

٤- افغانستان باید په سیمه کې د ګاونډیو هېوادونو پر وړاندې متوازن سیاست غوره کړي، څو وکولی شي خلک یې د هر ډول

بهرنۍ لاسوهنې څخه مصؤون پاتې شي.

۵- افغانستان باید په ټولو تعلیمي (لوړو او نیمه لوړو) مؤسسو کې د نړیوالو مسایلو تدریس مروج کړي، چې وګړي یې وکولی شي د دا ډول مسایلو سره پیژنګلوي پیدا کړي.

۶- د افغانستان د بهرنیو چارو په وزارت کې باید ځوان او مسلکي وګړي په کار وګمارل شي، څو د افغانستان د بهرنې سیاست

په برخه کې اغیزمن ګامونه واخلي.

۷- افغانستان باید د تل لپاره یو ستراتیـژیک دوست هېواد ولري، چې د بهرنیو هېوادونو د لاسوهنې پر مهال یې ملاتړ وکړي.

۸- افغانستان باید د نړۍ د هېوادونو د مرستو څخه په پلانې او سالمه توګه ګټه واخلي.

۹- د پورته مقصدونو لپاره افغانستان باید یوه سالمه او کاري باتجربه اداره جوړه او د کارونو د اجرآ په خاطر مسلکي کادرونه

په مناسبو ځایونو کې ځای پر ځای کړي .

۱۰- ټولو نړیوالو حقوقي شخصیتونو ته لازمه ده، چې د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په خاطر په ټولو نړیوالو قوانینو

عمل وکړي او د یو او بل سره په دې برخه کې همکاری و کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Abstract

International treaties are an important tool and the best source of(political, economic, military, cultural and religious) for supporting and sustaining international relation which has an ancient history . It took place for the first time , when urban government appeared in areas of beninnahrin. Some time they would have friendly and some time unfriendly relationship and even some times they were trespassing on each other . in order to prevent these aggression and have mutual respect , they agreed and signed international treaties . these treaties discovered a language . This discovery is kept in the laure museum , fence . According to them, this piece of historical writing has aout 3000 bc.

ماخذونه

۱- دفتري، احمد.(۱۳٤٥هـ ش). سازمان ملل متحد ونقش ان درحفظ صلح جهاني،تهران:کتابخانه حبيبي.

۲- شيرزاده، حميرا.(۱۳۸۱ هـ ش) . فرهنگ روابط بين المللي، تهران: نشرات وزارت امورخارجه

۳-صدر جواد.(۱۳۵۰ هـ ش) . تاسيسات و سازمانهای بين المللي، تهران: موسسه علوم سياسي وحزبي.

۴- طراز کوهي، حسن شريفي.(۱۳۸۸ هـ ش)حقوق بين الملل عمومي، تهران: نشر ميزان. ۵ - قايم مقام فرهاني،سيد عبدالمجيد.(۱۳۷۹ هـ شيخ زايد پوهنتون).حقوق بين المللي و سازمانهای بين المللي، تهران: دانشگاه تهران.

۶-گنجي، منوچهر.(۱۳۵۲ هـ ش). سازمان ملل درتېوري، تهران: کتابخانه حبيبي.

۷- مندوزی، محمدالله.(۱۳۹۱ هـ ش). د نړيوالو سازمانونو د رامنځ ته کېدو تاريخي بهېر، خوست: خيدر خپل ادبي بهېر.

۸- مقتدر، هوشنگ. (۱۳۷۸هـ ش). حقوق بين الدول عمومي، تهران: وزارت امور خارجه.

۹ - موسی زاده.(۱۳۷۷ هـ ش).حقوق معاهدات بين المللي، تهران:دانشگاه روابط بين المللي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهندوی حکم خان حبیبي
کرنې پوهنځی
د باغداری څانګه
ګرځنده شمېره : ۰۷۴۴۶۷۷۰۷۱
ایمېل ادرس: hukumkhanhabibi@gmail.com

د منو په وده، کیفیت او حاصل باندې د نایتروجن اغېزې

لنډیز

د منو په وده،کیفیت او حاصل باندې نایتروجن مهم تاثیر لري. نایتروجن د کلوروفیل، نیوکلیک اسید او امینو اسیدونو ترکیبي جز شمېرل کیږي او نویو انساجو او حجراتو په تقسیم کې مهمه ونډه لري. خو نایتروجن هم د یوې غذایي منبع په توګه د منو په کیفیت او حاصل باندې ځانګړي تاثیرات لري.په نباتي تغذیه کې غذایي عناصر خصوصاً زیات مصرفه عناصرځانګړی ارزښت لري چې په نشتون کې یې نباتات نشي کولی چې خپله نورماله وده تکمیل او ښه حاصل ورکړي. د منو ونې نایتروجن له مختلفو لارو څخه ترلاسه کوي او د قلت د نښو څخه علاوه یې د پاڼو تغذیه یوه ښه طریقه شمېرل کیږي. د نایتروجن زیات مقدار استعمال هم د پاڼو او جسمي زیاتې ودې باعث ګرځي چې په نتیجه کې د میوې کیفیت خراب او د امراضو په مقابل کې حساسیت ډیروي او حتی د پخیدنې نه وړاندې د میوې د توییدنې سبب ګرځي.

سریزه

نایتروجن د منو په انکشاف،حاصل خېزې او کیفیت باندې ځانګړي اغېزې لري البته د نایتروجني سرو ورکړه، د خاورې د حاصل خېزي،نوع او د ونو په عمر پورې تړلي ده.په بعضو خاصلخیزو خاورو کې د غذایي عناصرو اندازه تر درېیمې برخې پورې هم راکمیږي، په ځینو سیمو کې یوې ونې ته د (۵۰) کیلوګرامه حیواني سرې ترڅنګ (۳۵۰) ګرام نایتروجن یوې ونې ته ورکول کیږي خو په پوره رسېدلو ونو کې (۲۵) کیلوګرامه حیواني سره او (۲۵۰) ګرامه نایتروجن کفایت کوي. د نایتروجن د قلت په صورت کې د منو وده ضعیفه،د ښاخونو اوږدوالی کم او د مېوو سایز او رنګ کم او تغیر وي. د منو د مېوې خالص وچ وزن د غوټې سپړلو څخه د مېوې د حاصل تر راټولولو پورې د نایتروجن د ټیټ استعمال څخه تر لوړ استعمال په تناسب دوه چنده شوي او د مېوې وزن د (۱۳۰) ګرامه څخه تر (۱۸۰) ګرامه پورې لوړ شوی دی اما پاتې دې نه وي چې د حد نه زیات استعمال یې خصوصاً په ناوخته د سپرلي په موسم کې په خاوره او بالاخره ونه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نایتروجن د زیاتوالي سبب ګرځي، چې په نتیجه کې یې جسمي وده زیاته،د مېوې رنګ ضعیف او د ساتنې په وخت کې د ستونزو د رامنځته کېدو باعث ګرځي.

د منو نوې ځانګې، پاڼې او مېوه،نایتروجن متفاوت مقدار ته ضرورت لري، په ځانګو او پاڼو کې د نایتروجن عمومي مقدار د غوټې له سپړلو څخه دځانګو تر نهایي ودې پورې زیاتیږي او له هغه وروسته د مېوې د حاصل ترټولولو پورې ثابت پاتې کیږي. په هغو خاورو کې چې درې فیصده عضوي مواد ولري د یو کال په موده کې د منرلاني تغیراتو په پروسه کې چېکوم نایتروجن خاورې ته ازادیږي یوازې ۶۰ سلنه یې د ونو په ذریعه جذبیږي.بناً د نایتروجن د جذب اندازه د یو مهم فکتور په توګه په نظر کې نیول کیږي.

موخې

ددې مقالې د لیکلو اساسي موخې د منو په حاصلاتو او کیفیت باندې د نایتروجن د استعمال اغېزې معلومول دي ترڅو له یوې خوا د هېواد په کچه ګرانو بزګرانو،محصلینو او استادانو ته اړین علمي معلومات تهیه او ترتیب او د هغوی نه په ګټې اخېستنې د منو د تولید په برخه کې د اړونده شته ستونزو ځواب ووایو، دا چې منه د هېواد د مهمو مېوو له جملې شمېرل کیږي نو بناً اړینه بلل کیږي چې پدغه برخه کې د موضوع اړونده موثق علمي معلومات راټول شي.پدې مقاله کې به دغه لاندې څو پوښتنو ته ځواب وویل شي.

۱: نایتروجن یا ناتیروجني سره په کومو مرحله کې د منو باغونو ته ورکړل شي؟

۲: په څومره مقدار ورکړل شي؟

۳: تاثیرات یې د مېوې په رنګ، سایز او خوند څه دي؟

۴: په حاصل او بالاخره په اقتصادي لحاظ کوم توپیرونه رامنځته کیږي؟

د کار مواد او مېتود

ددې علمي مقالې کړنلاره کتابخانه یي څېړنه ده او په ترتیب کې یې د معتبرو او موثقو علمي کتابونو،مقالو، د پوهنتونونو او علمي مراکزو له معتبرو وېب سایټونو او نورو علمي ماخذونو څخه ګټه پورته شوي او دیوه ځانګړي غوراوي او دقت نه وروسته ترتیب شوي ده.

د منو د ونو سره د نایتروجن ضرورت او ورکړې رابطه

کله چې د مېوه جاتو باغونو ته د کېمیاوي سرې د ورکړې په اړوند خبرې کیږي نو حتمي ده چې نایتروجن د ضرورت او عرضه کولو موضوع په نظر کې ونیول شي.د پسرلي په لومړیو کې د ونو جسمي وده او چتر جوړېدو او د مېوې د تشکیل او ودې لپاره د نایتروجن لوړ مقدار ته ضرورت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د نبمایي فصلپه وروستیوکي د مېوې د کیفیت لپاره د نایتروجن نورمال مقدار ته ضرورت دی. د منو نوې ځانګې، پاڼې او مېوه،نایتروجن متفاوت مقدار ته ضرورت لري، په ځانګو او پاڼوکي د نایتروجن عمومي مقدار د غوټې د سپرلو څخه دځانګو تر نهایي ودې پورې زیاتیږي او له هغه وروسته د مېوې د حاصل ترټولولو پورې ثابت پاتې کیږي.(۱)

د نایتروجن د قلت په صورت کي د منو وده ضعیفه،د ښاخونو اوږدوالی کم او د مېوو سایز کوچنی وی. د منو د مېوې خالص وچ وزن د غوټې د سپرلو څخه د مېوې د حاصل تر راټولولو پورې د نایتروجن د ټیټ استعمال څخه تر لوړ استعمال په تناسب دوه چنده شوي او د مېوې وزن د (۱۳۰) ګرامه څخه تر (۱۸۰) ګرامه پورې لوړ شوی دی اما پاتې دې نه وي چې د حد نه زیات استعمال یې خصوصاً په ناوخته د سپرلي په موسم کي په خاوره او بالاخره ونه کي د نایتروجن د زیاتوالي سبب ګرځي چې په نتیجه کي یې جسمي وده زیاته،د مېوې رنګ ضعیف او د ساتنې په وخت کي د ستونزو د رامنځته کېدو باعث ګرځي. چې یاده موضوع په لاندې ګرافونو کي واضح شویده. (۱۰)تحقیقاتو ښودلي دي چې تر یو منا سب حده پورې د نایتروجن د مقدار په زیادت سره د میوې وزن زیاتیږي چې په نتیجه کي یې عمومي حاصل هم ډیریږي لیکن زیات مقدار یې د مېوې د وزن د کموالي سبب کیږي ځکه چې هلته متقابله جسمي وده زیاتیږي او په جسمي وده کي د زیاتوغذایي موادو د مصرف له امله په میوه منفي تاثیرات پریوځي (۱- شکل). د ناتیروجن په زیاتوالي سره د انواعو په تفکیک د مېوې په قندي موادو کي زیاتوالی راځي، چې دلته د نایتروجن د استعمال او د TSS ترمنځ مستقیما رابطه موجوده ده (۲- شکل). همدارنګهد نایتروجن زیات مقدار استعمال د میوې په رنګ با ندې منفي اغیزې لري او د میوې رنګ ضعیفه کیږي (۴- شکل). په څنګ کي د میوې په نرم والي او سختوالي باندې هم برعکس اغیزې لري (۳- شکل).په شکل کي څرګندیږي چې د نایتروجن د مقدار په زیاتوالي سره په درې واړو مختلفو نوعو کي د نایتروجن د استعمال په زیادت سره د مېوې نرموالی زیاتیږي. چې دا د مېوې په انتقال او ساتلو باندې منفي اغېزې لري. نو د نایتروجن په استعمال کي باید پوره دقت وشي چې د نایتروجن په زیادت سره په حاصل او قندي موادو اندازه کي زیاتوالی راځي خو ځیني نورو خواصو باندې بر عکس منفي اغیزې لري نو د تجزیې او دقیق تحلیل نه وروسته باید د مناسب مقدار سپارښتنه وشی. پاتې د نه وي چې منو د انواعو او وراتییو تر مینځ هم د نایتروجن د ضرورت په برخه کي تفاوت لیدل کیږي چې په ګرافونو کي د) (Fuji, Gala, Red Delicious and Golden Delicious تر مینځ تفاوت په واضح ډول ښکاری . (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- شکل : د نایتروجن د استعمال او حاصل ترمنځ رابطه



۳- شکل : د نایتروجن د استعمال او د میوې د کلکوالي او نرموالي ترمنځ رابطه ښيي.



۲- شکل : د نایتروجن د استعمال او د میوې د



۴- شکل : د نایتروجن د استعمال او د میوې د رنګ ترمنځ اړیکه

ونو ته د نایتروجن علاوه کول د تېر موسم د ودې او د ونو د نایتروجن د مقدار پورې تړلی ده،ځکه د لومړنۍ ودې لپاره په ونو کې کافي مقدار نایتروجن په پسرلي کې موجود وي.تحقیقاتو ښودلي دي چې د منو په ونو کې د سپرونو د تشکیل او د پاڼو د ودې لپاره په ونو کې ذخیره شوي نایتروجن څخه ګټه اخېستل کېږي. (۳)

باغونو ته د سرې ورکړه،په خاوره کې د عضوي موادو په موجودیت،د خاورې د تودوخې په درجې او رطوبت پورې تړلي ده،د نایتروجن دوهمه منبع په طبیعیتوګه د خاورې د منرلایزېشن د پروسې په جریان کې د نایتروجن علاوه کېدل دي.د نایتروجن دریمه منبع خاورو ته د نایتروجن علاوه کول دي چې خاورو ته او یا هم پاڼو ته د محلول په شکل د سپرې یا پاشلو په ذریعه علاوه کېږي. (۶)

نایتروجن د عرضې او تقاضا موضوع په ونو کې د موجوده نایتروجن د اندازې پورې تړلي ده چې د منو په برخه کې د پاڼو تجزیه ښه مېکانېزم دی چې په لاندې جدول کې ښودل شوی دي.

جدول : د ونو عمر په نظر کې نیولو سره په پاڼو کې د ضرورت وړ نایتروجن فیصدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ونو نوع	د نایتروجن د ضرورت وړ اندازه (٪)
د منو خوان نیالګي	۲،۴ - ۲،۶ پورې
رسېدلي ونې البته هغه نوع چې د تازه خوراک لپاره وي	۱،۸ –۲،۲پورې
رسېدلي ونې چې د پروسس لپاره وي	۲،۰ –۲،۴پورې

د پاڼو په تجزیه کې باید له ډېر احتیاط څخه کار واخېستل شي،ځکه چې مختلف عوامل په پاڼو کې د منرالونو په ترکیب او موجودیت اغېزه لري.په خاصه توګه د حاصل مقدار او د ونو جسمي وده په هغو ونو کې چې زیات حاصل ورکوي د نایتروجن مقدار لوړ وي نسبت هغو ونو ته چې د مېوې او حاصل په نسبت یې جسمي وده زیاته وي.ځکه زیاته جسمي وده په زیات مقدار نایتروجن مصرفوي. په منو کې بې حاصله موسم (off season) د حاصل لرونکي (on season) کم نایتروجن لري.د یادونې وړ ده چې د پاڼو نمونې باید په ډېر دقت واخېستل شي او همدارنګه په تجزیه او تحلیل کې یې پوره احتیاط وشي، ترڅو یې په رڼا کې د نایتروجن د مقدار په هکله لازمي سپارښتنې وشي.(۴)

د ونو وده په سیده توګه د نایتروجن مقدار پورې تړلي ده، د ځوانو ونو سریعه نمو د جسمي ودې د تشکیل او وختي حاصل ورکونې په موخه کافي نایتروجن ته اړتیا لري. د ځوانو ونو د نمو لپاره د پاڼو د نایتروجن مقدار باید د ۴،۲ تر ۲،۶ فیصده پورې ورسېږي خو کله چې پوخوالي ته نږدې کېږي نو جسمي وده یې کمزوري کېږي نو د مېوې د ښه کیفیت،رنګ او د ساتنې مودې لپاره باید د نایتروجن اندازه کمه شي.(۱)

نایتروجن (یوریا) د ورکړې مناسب وخت

د نایتروجن د ورکړې لپاره کوم وخت مناسب دی؟ په اصولو کې نایتروجن هر وخت ونو ته ورکول کېږي پدې شرط چې په ونو کې په نمویي فصل کې د نایتروجن کمبود ولیدل شي، لاکن ښه نتیجه هغه وخت ورکوي چې د نمویي فصل د نایتروجن ضرورت په نظر کې ونیول شي هغه داسې چې د نمویي فصل په لومړیو کې د چتر د جوړېدو یا جسمي ودې او د مېوې د تشکیل او نمو لپاره زیات نایتروجن ته اړتیا لیدل کېږي.حال دا چې د مېوې د کیفیت لپاره یوازې نورمال سپارښت شوې اندازې ته ضرورت دی.(۲)

د نایتروجن د ورکړې لپاره دوه وختونه سپارښت شوي دي چې یو د غوټیو د سپېږدو څخه د څانګو د چټکې ودې له وخته او دوهم د نمویي فصل په اخرو کې کله چې د خاورو د لارې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نایتروجن علاوه کول د مېوې په کیفیت باندې تاثیر ونه لري یعني فقط د مېوې د راشکولو څخه لږه موده وړاندې او یا هم د حاصل د راټولولو څخه په عاجله توګه وروسته.

په ۵- شکل کې ښکاري چې د غوټې د سپړلو څخه وروسته تر ۴۰ ورځو پورې د نایتروجن کم مقدار ته ضرورت لري، ولې د ۴۰ ورځې څخه وروسته تر ۱۶۰ ورځو پورې د نایتروجن ضرورت د ورځو په تیریدو سره زیاتیږي. له بلې خوا د شاخونو او پاڼو لپاره د غوټې د سپړلو څخه تر ۱۰۰ ورځې پورې د نایتروجن ضرورت ډیریږي ولې وروسته ورځو کې د نایتروجن ضرورت ثابت حالت غوره کوي. په ۶- شکل کې ښکاري چې د غوټې د سپړلو څخه وروسته تر ۴۰ ورځو پورې د نایتروجن د ضرورت وړ اندازه ثابته (۱۵) ګرامه نایتروجن پر ونې ښودل شوی، ولې د ۴۰ ورځې څخه وروسته تر ۱۶۰ ورځو پورې د نایتروجن د ضرورت اندازه په تدریجي ډول د ورځو په زیاتوالي سره زیاتیږي.



۵- شکل : د غوټیو د سپړلو نه وروسته د ورځو د شمېرپه زیاتوالي سره په یوه ونه کې د نایتروجن مقدار ښیي.

ډېرو تحقیقاتو ښودلي ده چې د نېمایي فصل په لومړیو کې د نایتروجني سرې استعمال د پاڼو د انکشاف او د مېوې د غټوالي باعث ګرځي، حال دا چې د مني یا خزان په اواخرو کې د نایتروجن استعمال د راتلونکي کال لپاره د نایتروجن د ذخیرې سبب ګرځي چې په نتیجه کې د پاڼو د مېوې د انکشاف باعث ګرځي. ددې ترڅنګ باید په ژمي کې د مینځل کېدو (Leaching) په ذریعه د نایتروجن ضایع کېدل هم باید په نظر کې ونیول شي نو ښه داده چې د غوټیو د سپړلو د ګلپاڼو د تویېدو ترمنځ مرحله کې نایتروجني سره استعمال شي ترڅو د ونو د نوې شروع شوې فصل اړتیا پوره کړي. (۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرته (۲۰ پونډه) خالص نایتروجن په یوه جریب کې استعمال شي نو په دوه بېلو بېلو وختونو کې باید علاوه شي.لومړی نیمه برخه د غوټیو د سپړلو څخه دوه اونۍ وروسته او دوهمه نیمایي برخه د ګلپاڼو د تویولو څخه وروسته سپارښت شوي ده البته په شګلنو او هغو خاورو کې چې د عضوي موادو اندازه یې کمه وي او یا هغه ورایتیو کې چې د مېوې کیفیت یې دنایتروجن سره حساس نه وي ښه داده چې په مختلفو وختونو کې د پسرلي څخه د اوړي تر اخره پورې استعمال شي.(۴)

د نایتروجن د استعمال اندازه

څومره نایتروجني سره باید استعمال شي؟ ددې پوښتنې ځواب په لاندې دریو فکتورونو پورې تړلی دی. لومړی د ونې د نایتروجن د اندازې پورې،دوهم د خاورې څخه په طبیعي توګه دنایتروجن د اخېستلو پورې او دریم د ورکړل شوې سرې د جذب د اندازې او موثریت پورې.په ګڼو ونو لرونکو باغونو (High Density Plantings) د نایتروجن کلني استعمال اندازه (۲۵ ــ۴۰ پونډه) پورې په یوه جریب کې رسېږي. خو د خاورو په عضوي موادو اندازه تودوخې درجه او رطوبت هم په نظر کې نیول کېږي.په خاوره کې په طبیعي توګه د منرالي تغیراتو په پروسه کې د نایتروجن د ازادېدو اندازه د عضوي موادو په موجودیت پورې تړلي ده.په هغو منرالي خاورو کې چې ۳ ٪ عضوي مواد ولري د یو کال په موده کې د منرالي تغیراتو په پروسه کې چې کوم نایتروجن خاورې ته ازادېږي یوازې ۶۰ سلنه یې د ونو په ذریعه جذبېږي، په همدې اساس د نایتروجن د جذب اندازه د یو مهم فکتور په توګه په نظر کې نیول کېږي.(۲)

د نایتروجن د استعمال طریقه

تجاربو او تحقیقاتو ښودلي ده چې د نایتروجن داستعمال طریقه د ضرورت وړ اندازې سره تړاو لري، که چېرې نایتروجني سره د پاڼو د لارې د محلول په ذریعه ورکول شي نو په کمه پیمانه نایتروجن ته ضرورت لري.ځکه چې پدې طریقه کې د جذب موثریت زیات وي.د نمویي فصل په لومړیو کې د پاڼو په ذریعه پاشل (Foliar Spray) د مېوې تشکیل او نمو لپآره ډېر مهم او اړین دي البته په هغه صورت کې چې د پاڼو تجزیه د تېر فصل د نایتروجن اندازه د (۲،۲٪) څخه کمه وښیي.ددې په نتیجه کې ګرده افشاني موده هم زیاته او د حجراتو د وېش پروسه ګړندی کیږي.البته باید په یاد ولرو چې د پاشلو د محلول غلظت کم وي ترڅو د پاڼو د له منځه تللو باعث نه شي.(۵)

وروستې پایله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ونو وده په سیده توګه د نایتروجن مقدار پورې تړلي ده، د ځوانو ونو سریعه نمو د جسمي ودې د تشکیل او وختي حاصل ورکونې په موخه کافي نایتروجن ته اړتیا لري. د ځوانو ونو د نمو لپاره د پاڼو د نایتروجن مقدار باید د ۴،۲ تر ۲،۶ فیصده پورې ورسیږي خو کله چې پوخوالي ته نږدې کیږي نو جسمي وده یې کمزوري کیږي نو د مېوې د ښه کیفیت، رنګ او د ساتنې مودې لپاره باید د نایتروجن اندازه کمه شي. نود نایتروجن په استعمال کې باید پوره دقت وشي چې د نایتروجن په زیادت سره په حاصل او قندي موادو اندازه کې زیاتوالی راځي خو ځینېنورو خواصو باندې برعکس منفي اغیزې لري نو د تجزیې او دقیق تحلیل نه وروسته باید د مناسب مقدار سپارښتنه وشي.

Abstract

Nitrogen has a major effect on yield and quality. It is a component of the chlorophyll molecule and involved in nucleic acid synthesis and hence important for cell division and the growth of young tissues (e.g. buds, flowers, leaves). Determining a tree's nitrogen status is important for making decisions about whether and how much nitrogen fertilizer should be applied. Leaf analysis is highly recommended for this purpose. Over-use of nitrogen results in excess, luxuriant leaf growth at the expense of fruit development. Trees subjected to excess nitrogen applications can be more susceptible to disease attack (e.g. fire blight), and at risk of premature fruit fall. Fruit size is reduced and quality can deteriorate. N deficient leaves are small, narrow and pale green. The older leaves turn a yellowish orange to purplish color and drop prematurely.

(c) ketabton.com: The Digital Library

References

1. Cheng, L . and J Schupp 2004 , Nitrogen fertilization of apple orchards , New York Fruit Quarterly 12(1) : 22-25
2. Cheng, L., S.Dong , and L.H.Fuchigami 2002. Urea uptake and nitrogen mobilization of apple leaves in relation to tree nitrogen status in autumn. Journal of Horticultural Sciences and biotechnology 77: 13-18
3. J.S.Bal., Fruit growing ., 2006., P.134-135
4. Motosugi H. and Sugiura , Rootstock effect on fruit quality of Fuji apples grown with ammonium nitrate in sand culture .Sceintia Horticulturae (2005) 3-4: 205-214
5. Neilsen D., P. Millard, G.H. Neilsen , and E.J.Hogue . 1997. Sources of N for leaf growth in high density apples (Malus domestica) ,Tree physiology 17: 733-739
6. Oland, K. (1960). Nitrogen feeding of apple trees by post-harvest urea sprays. Nature , 185, 857
7. Schupp, J., L.Cheng , W.C.Stiles , E.Stover and K. Lungerman, 2001. Mineral nutrition as factor in cold tolerance af apple trees. New York Fruit Quarterly 9(3) :17-20
8. Stiles, W.C and W.S. Reid. 1991. Orchard Nutrition management. Cornell Cooperative Extension Bulletin P.219
9. T.K. Chattopadaya., A text book of Pomology Fundamentals. 2006., Vol. 1 ., page 313-314

Williams M.W., Billingsley H.D., 1994. Effect of Nitrogen fertilization on yield, size and color of golden delicious apple. J.Amer. Hort.Sci. 2: 144-145

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنمل ډاکټر سید رحیم شاه شمل وال
طب پوهنځی
فزیولوژي څانګه
ګرځنده شمېره: ۰۷۷۹۱۶۵۳۷۴
برېښنا لیک: rahim2shah@yahoo.com

د انساني حافظې فزیالوژیک بنسټونه

لنډیز

په دې څېړنیزه مقاله کې د انساني حافظې فزیولوژیک بنسټونه، د حافظې ډولونه او د هغې تقویه تر بحث لاندې نیول شوې ده. لنډ مهاله حافظه په شته عصبي سرکټونو کې بدلونونو ته اړتیا لري، په داسې حال کېچې اوږد مهالي حافظه نوي پروټین جوړوني او ودې ته اړتیا لري. دغه بدلونونه ګڼ شمېر حجروي میخانیکیتونه دي، چې د عصبي حجرو د ننه ترسره کیږي. ثانوي پیغام وړونکي سیستمونه په حجروي بدلونونو کې د منځګړي رول لوبوي. د حجروي غشا په چاینلونوکې بدلونونه د زده کړې او حافظې سره تړلي وي. حافظه د میل، شعور او زمان په اساس په بېلابېلو ډولونو ویشل کیږي. پهمرکزیعصبي سیستم کې د حافظې لپاره پیچلي میخانیکیتونه شتون لري، چې د مرکزي عصبي سیستم ځانګړي برخې دا کار ترسره کولی شي او په اساسي ډول د ساینپس د ساحې سره تړاو لري. د حافظې د غښتلتیا لپاره ګڼ شمېر لاملونه شتون لري،چې تر ټولو اساسي یې ورزش، مناسب غذایي رژیم او د کافي خوب کولو څخه عبارت دي.

کلیدي ټکي: synapse، limbic system، short term memory، long term memory، consolidation.

سریزه

انساني حافظه د تېرو پېښو د بېلابېلو معلوماتو، د انساني چاپېریال د عیني انعکاساتو د تحلیل او تجزیې څخه وروسته د ثبت او بېرته په یاد راوړلو اساسي مرکز دی، چې د مرکزي عصبي سیستم په لیمبیک سیستم کې موقعیت لري.

داچې تر دې دمه د عصبي سیستم د بشپړو دندو د پوهېدو په موخه زیاتې څېړنې روانې دي اما په دې اړه ډېر کم معلومات لاس ته راغلي دي له همدې امله د شیخ زاید پوهنتون د طب پوهنځي د فزیالوژي ډیپارټمنټ اړینه وګڼله تر څو د وروستیو څېړنیزو او علمي اسنادو پر بنسټ د انساني

(c) ketabton.com: The Digital Library

حافظې بنسټونه او هغه لارې چارې، چې کولی شي انساني حافظه تقویه کړي تر بحث لاندې ونیسي. او په دې اړوند وروستی پایلې د طب محصلینو او روغتیاپال قشر سره شریکې کړي.
په شعوري یا غیرشعوري حالت کې د تېرو واقعاتو په یاد راوړلو وړتیا ته حافظه ویل کیږي. یا په بل عبارت د دماغو په واسطه د معلوماتو ذخیرې ته حافظه ویل کیږي. د دماغو هغه برخېچې په انساني حافظه کې رول لري د hippocampus، para hippocampus، thalamus، amygdaloid، visual area، olfactory area او auditory area څخه عبارت دي. [۶]
د معلوماتو د خونديتوب پر بنسټ د حافظې مرکز انسانان د دې جوګه کوي، چې مختلفې ژبې زده کړي، معلومات او مهارتونه زده کړي اویادې زده کړې لاپیاوړي کړي. خپلې راتلونکې کړنې او ټولنیزې اړیکې تنظیم کړي، همدارنګه د همدې حافظې پر بنسټ خپل شخصي او ټولنیز هویت د خلکو په منځ کې مشخص کړي. د انسانانو په بېلابېلو توکمونو او همدارنګه د یوه توکم په ځینو کسانو کې د انساني حافظې د معلوماتو د ساتلو او په یاد راوړلو وړتیاوې سره توپیر لري، یاد توپیرونه دي، چې انسانان د ټولنیز هویت د ودې پر لور بیایي او په ټولنه کې یې مقام ټاکي.
لیمبیک سیستم د دماغ اکبر په انسي کنار او د ډاینسیفلون په ځمکه کې د قشري او تحت القشري برخو د اتصال د یوګروپ عصبي جوړښتونوڅخه جوړ شوی دی. د دې سیستم جوړوونکي برخې د دماغي ساقې او د ډاینسفلون چاپیرهیوه ساختماني حلقه جوړوي. یعنې لیمبیک سیستم د ډاینسفلون او دماغ اکبرد نورو برخو ترمنځ د یو سرحد په ډولځای اشغال کړی دی. [۹]
لیمبیک سیستمیواځینی قشري برخه ده، چې د هایپوتلاموسڅخه زیات شمېر تنبه رسوونکي عصبي تبارزات حاصلوي او د سلوک د کنټرول لپاره مرکزي ساحه ګڼل کیږي. برسېره پر دې لیمبیک سیستم په حافظه کې هم ستر رول لري. په حافظه کې د لیمبیک سیستم مرکزي رول په ۱۹۳۷ زیږدیز کال کې د James Papez په واسطه څرګند شو، چې د Papez circuit په نوم یادیږي. (۱- انځور)
دغه سرکټ په لنډ مهاله حافظه کې برخه لري. [۱]

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه امریکایي پوهان، چې د انسان د دماغي ساینپسونو ذخیره اندازه کوي، وایي چې د انسان مغز د نږدې 4.7 میلیونه کتابونو د ذخیره کولو وړتیا لري. څېړونکو موندلې، چې هر سیناپس په اوسط ډول د 4.7 بیټه معلوماتو د ذخیره کولو وړتیا لري،چې په دې توګه د انسان مغز ټولټال د 670 میلیونه وېبپاڼو د ذخیره کولو وړتیا لري. [۸]



۱- شکل:Papez circuit. [۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library

موخې

د دې مقالې اصلي موخه د انساني حافظې په فزیولوژیکو بنسټونو باندې د محصلینو، روغتیاپالو مسلکي کارکوونکو او ټولو روڼ آندو پوهاوی او د حافظې د تقویې اړوند اړینو نویو او تازه معلوماتو برابرول دي، کومچې د وروستیوڅېړنو په پایلو کې رابرسېره شوي دي.

د کار مواد او مېتود

دا څېړنه کتابتوني بڼه لري، چې د طب اړوند انټرنیټ سایټونوڅخه د معتبرو علمي مقالو تازه راټول شوي معلومات دي.همدارنګه د مسلک سره سم مې د مسلکي مشرانو او باصلاحیته استادانو لارښوونې ترلاسه کړي دي.

د انساني حافظېډولونه

۱ـ د علاقې او میل پر اساس

الف) مثبته حافظه: د انسان بدن له ټولو پنځوګونو حواسو څخه د مهمو او په زړه پوري معلوماتو ذخیرې ته ویل کیږي.

ب) منفي حافظه: په دېډول حافظه کېټول بې ارزښته معلومات، چې د پنځهګونو حواسو پواسطه مرکزي عصبي سیستم ته راځي د ذخیره کولو څخه یې مخنیوی کیږي.

له نیکه مرغه د پورتني میکانیزم پر اساس بې اهمیته معلومات زمونږ په حافظه کې نه ذخیره کیږي. که داسې نه وای، د خارجي محیطڅخه دماغ ته د بې شمېره سیالود دوامداره راتګ په پایله کې به د دماغو د حافظې برخېدکې شوي وای اود نویو او ارزښتناکو معلوماتو د ذخیره کولو قابلیت به یې نه درلود.

۲ـ د شعور پر اساس

شعوري حافظه: د بیداری په حالت کې د تېرو پېښو په یاد راوړلو ته شعوري حافظه ویل کیږي، چې کیدای شي دا په یاد راوړل فوري، بین البیني او یا اوږدمهاله وي.

غیر شعوري حافظه : د بې هوشی په حالت کې د تېرو پېښو په یاد راوړلو قابلیت ته ویل کیږي، چې کیدای شي دا په یاد راوړل فوري ، بین البیني ، اویا اوږدمهاله وي.

[https://en.wikipedia.org/wiki/Human_memory_process]

۳ـ د وخت پر اساس

الف ـ فوري حافظه: په دېډول حافظه کې پېښې د لنډ وخت لپاره په حافظه پاتې کیږیا په بل عبارت دا ډول حافظه د هغو واقعاتو سره تړاو لري، کوم چې همدا څو ثانیبیا دقیقې د مخه واقع شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب- متوسطه ، تازه او لنډ مهاله حافظه: دا ډول حافظه د هغو پېښو سره تړاو لري، کومې چې یوڅو ساعته یا اونۍ د مخه واقع شوي وي. یا په بل عبارت په دېډول حافظه کې معلومات د ساعتونو او یا د اونیو لپاره ساتل کیږي.

ج - اوږدمهاله یا بعیده حافظه : د دېډول حافظې لرونکي اشخاص کولی شي هغه پېښې، چې میاشتې اویا کلونه پخوا واقع شوي وي په یاد راوړي. او یا په بل عبارت په دېډول حافظه کې معلومات د میاشتو او یا د کلونو لپاره ساتل کیږي.

د حافظې اساسي میخانیکیت: حافظه په کامل ډول د سایناپسونو دنده ده، چې په لاندې اساس ترسره کیږي: کلهچې یوه وصفي سیاله په یوهځانګړي ترتیب د سایناپسونو څخه عبور وکړي،دغه سایناپسونه په راتلونکي کې د عبنې سیالې د لیږد لپاره باسهولته یا اسانه کیږي او یا هم نوموړي سایناپسونه د عبنې سیالې د د لیږد لپاره لا مساعدیږي. که چېرې په همدې لاره عبنې سیالېڅو وارې په پرلپسېډول د سایناپسونو څخه تیرې شي د نوموړو سایناپسونو وړتیا نوره هم زیاتیږي، چې حتا په دماغو کېیو واحد په یاد راوړونکی سیګنال کولی شي، چې د سایناپسونوڅخه د عبنېترتیب له لارې د پخوانیو سیالو د انتقال لامل شي یعني پخواني سیګنالونه را برسیره کړي، چې دغې پروسې ته حافظه وایي.



۲- شکل: د حافظې لپاره د کوډ ورکولو سیناپتیک نهایت. [۶]

اوس دا ثابته شوې ده کله چې یو ماشوم د ودې او زده کړې په حالت کې وي د هغه د دماغو د سایناپسونو شمېر هم زیاتیږي. د انساني حافظې فزیولوژیک مالیکولي میخانیکیت په دریم انځور کې ښودل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- شکل: د حافظيengram. [۶]

د حافظي استحکام: د تازه حافظي په اوږدمهاله حافظه باندې بدلېدل د حافظي د استحکام په نوم یادیږي. پدې معنا، چې شخص کولی شي هغه پیښې، چې مخکې واقع شوې دي، میاشتې او کالونه وروسته یې بیرته په یاد راوړي. البته د یادونې وړ ده، چې استحکام په دوه ډوله دی: یوته اصغري استحکام او بل ته یې اعظمي استحکام ویل کیږي، چې د لومړي ډول استحکام لپاره د ۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه تر ۱۰ دقیقو پورې وخت ته اړتیآ ده، په داسې حال کې، چې اعظمی استحکام یو ساعت وخت ته اړتیا لري. [۶]

د استحکام میخانیکیت

لومړی یو مطلب مرکزي عصبي سیستم ته انتقالیږي، وروسته نوموړی مطلب ثبت کیږي او په اخر کې هڅه کیږي، چې نوموړی مطلب د اړتیا پر مهال بیرته په یاد راولي. [۹, ۸, ۷, ۶]

د انساني حافظې د تقویې لپاره خورا زیاتې څیړني تر سره شوي دي، چې د ټولو ذکر کول دلته ناشوني دي، خو هڅه شوي، چې د اساسي او بنسټیز ټکي یې په ګوته شي. د انساني حافظې د تقویې لپاره ځیني اساسي او بنسټیز ټکي په لاندې ډول دي.

ورزشي تمرینات: ورزشي تمرینات نه یوازې دا چې د انسان په دماغو بوج او فشار له منځه وړي بلکه حافظه هم غښتلي کوي. د بیلګې په توګه هغه څېړنه، چې د جنوبي کارولینا په پوهنتون کې ترسره شوي، ښیي، چې د بدني فعالیت په وخت کې د عضلاتو سربیره په دماغي حجرو کې هم مایتوکاندریاوې تولیدیږي، چې د ماغي فعالیت ته زیاتوالی او چټکتیا ورکوي. [۱]

مناسبه تغذیه: هغه کبان، چې Omega 3لري ، د توتانو بیلابیل ډولونه ، میوې او شنه سابه، قهوه، شین چای، چارمغز، ګازرې او داسې نور هغه غذایي مواد دي، چې په زیآته اندازه انتی اکسیدانټونه لري. انتی اکسیدانټونه هغه مواد دي، چې په بدن کې د آزادو راډیکالونو مخه نیسي او په دې توګه دماغي حجرې د آزادو راډیکالونو د تخریب څخه ساتي .

[https://articles.mercola.com/sites/articles/archive/2014/04/24/memory-improvement-tricks.aspx]

د rosemary بویول: څیړنو ښودلې ده، چې د rosemary (یو ډول تل زرغون بوټی، چې د نعناع ویلني بوی لري او د څانګو څخه یې عطر جوړیږي) بویول حافظه غښتلي کوي. پخوانیو یونانیانو به د دې بوټي کوچنی څانګې د ازموینو په ورځو کې د غوړونو شاته ایښودلي تر څو حافظه یې غښتلي شي.

[https://www.wikihow.com/Improve-Your-Memory]

د ژاولو ژوول: ځینو څیړنو ښودلې ده، چې د ژاولو ژوول حافظه غښتلي کوي، چې دقیق میخانیکیت یې معلوم نه دی، په داسې حال کې، چې بیا نورو څیړنو د حافظې په غښتلي کولو کې د ژاولو د ژوولو رول رد کړی دی.

[http://www.digiato.com/article/2014/07/09/6.13]

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب کول: یو کاهل کس په ۲۴ساعتونو کې ۸-۷ ساعته خوب ته اړتیا لري. څیړنو ښودلې ده، چې په کافي اندازه خوب کول حافظه غښتلي کوي. څیړنو دا هم ښودلې ده، هغه کسان، چې کم خوب لري ښه حافظه نه لري.

روحي فشار(stress): څیړنو ښودلې ده هغه کسان، چې روحي فشار لري ښه حافظه نه لري.

ناروغی: ځینې ناروغی لکه د شکري ناروغي حافظه کمزوري کوي.

ارثیت: دا موضوع تر دې دمه تر څیړنې لاندې ده.

۴- انځور: د توتانو بیلابیل ډولونه، چې د حافظې په تقویه کولو کې ارزښت لري [http://digiato.com/article/2014/07/09/6].

درمل: ځینې درمل هم شتون لري، چې په حیواناتو کې یې حافظه غښتلي کړې ده، چې د کافیین، پیژوستګمین، امپیټمین ، جنکوبا مستحضرات، نیکوټین، سټرګنین او میټرازول څخه عبارت دي. یاد درمل د حافظې استحکام غښتلی کوي. [۶]

روژه نیول : ځینو څیړنو ښودلې ده، چې روژه نیول حافظه غښتلي کوي. روژه نیول د اکسیدانت موادو سویه په وینه کې راکموي او د انتي اکسېدانت موادو پې توګه کار کوي، چې په دې ډول د دماغي حجرو ودې ته زمینه برابروي.

[https://www.articles.mercola.com/sites/articles/archive/2014/04/24/memory-improvement-tricks.aspx.1]

د کالوري او مشبوع شحمیاتو محدودول: څیړنو ښودلې ده، هغه څوک، چې د مشبوع شحمیاتو غني رژیم لکه سره غوښه، خالصې شیدې، کوچ، پنیر، پیروی او ایسکریم خورا زیات کاروي، په هغوی کې د هېرېدنې ، د تمرکز او حافظې د زیانمنیدو خطر زیاتیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[https://www.helpguide.org/articles/healthy-living/how-to-improve-your-memory.htm]

عمر: څیړنو دا هم ښودلې ده، چې په ټولو زړو کسانو کې حافظه زیان نه مومي اما حافظه یې د ځوانانو په پرتله ورو کار کوي. په هغو زړو کسانو کې، چې حافظه زیانمنه شوې وي لاملونه بې جسمي یا روحي ناروغی ښودل شوې دي.

پایله

۱- په دماغو کې د حافظې ګڼ شمېر سیستمونه شتون لري.

۲- فعالیت کوونکي یا لنډ مهاله حافظه په شته عصبي سرکټونو کې بدلونونو ته اړتیا لري، په داسې حال کې چې اوږدمهاله حافظه د نوي پروټین جوړولو او ودې ته اړتیا لري.

۳- دغه بدلونونه ګڼ شمېر حجروي میخانیکیتونه دي، چې د واحد عصبي حجرو د ننه ترسره کیږي.

۴- ثانوي انتقالي سیستمونه په حجروي بدلونونو کې د منځګړي رول لوبوي.

۵- د حجروي غشا په چاینلونوکې بدلونونه د زده کړې او حافظې سره تړلي وي.

۶- حافظه د میل، شعور او زمان په بېلابېلو ډولونو ویشل کیږي.

۷- هغه لوی لاملونه، چې د حافظې په غښتلتیا کې رول لري د بدني ورزش، مناسب غذایي رژیم او کافي خوب کولو څخه عبارت دي.

وروستۍ پایلې

په مرکزي عصبي سیستم کې د حافظې لپاره پیچلي میخانیکیتونه شتون لري، چې د مرکزي عصبي سیستم ځانګړي برخې دا کار ترسره کولی شي کوم چې په اساسي ډول د ساینپس د ساحې سره تړاو لري. د حافظې د غښتلتیا لپاره ګڼ شمېر لاملونه شتون لري، چې تر ټولو اساسي یې ورزش، مناسب غذایي رژیم او د کافي خوب کولو څخه عبارت دي. ځیني درمل هم شتون لري، چې په حیواناتو کې یې حافظه غښتلي کړې ده، چې د کافیین، جنکوبا مستحضرات، نیکوټین، سټرګنین او میټرازول څخه عبارت دي. ځینو څیړنو ښودلې ده، چې روژه نیول حافظه غښتلي کوي. روژه نیول د اکسیدانت موادو سویه په وینه کې راکموي او د انتي اکسېدانت موادو په توګه کار کوي، چې په دې ډول د دماغي حجرو ودې ته زمینه برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Abstract

In this scientific article physiological basis, types, mechanisms and promotion of human memory have been discussed. To know the mechanisms of physiological basis, types, mechanisms and promotion of human memory and to inform the related staff with before mentioned topics. This is a scientific review article which is written from internet and different standard scientific articles. There are multiple memory systems in the brain. Working memory requires changes in existing neural circuits, whereas long-term memory requires new protein synthesis and growth. These changes may involve multiple cellular mechanisms within single neurons. Second-messenger systems appear to play a role in mediating cellular changes. Changes in the properties of membrane channels are often correlated with learning and memory. There are multiple complicated mechanisms and particular areas in human central nervous system for memory. There are multiple factors for promotion of memory that some important are body exercise, suitable diet and adequate sleep.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه

1. Alivand Farzaneh, Karimzadeh Fariba. “The Effect of Exercise on the Memory Improvement: a Review of Cellular and Molecular Mechanisms” (1394) Vol. 3, No. 4; pp.1-8.

2. Banerjee Ashis. (2005) Clinical Physiology Cambridge University pressNew York 1st ed. P.213.

3. Brady Timothy F. Konkle Talia,” Alvarez George A.et al.Visual long-term memory has a massive storage capacity for object details” (2008).

4. Karpicke JD and Blunt JR (2011). “Retrieval Practice Produces More Learning than Elaborative Studying with Concept Mapping” Science, 331(6018) 772.

5. Phelps Elizabeth A. (2006) “EMOTION AND COGNITION: Insights from Studies of the Human Amygdala”Annu. Rev. Psychol. 2006. 57:27–53.

6. Sembulingam K and Sembulingam. (2013) Essentials of Medical Physiology. 6thed. New Delhi: Jaypee Brothers Medical Publishers; p. 838.

7. Sumrall William, Sumrall Reid, Doss Daniel Adrian. (2016) “A Review of Memory Theory” International Journal of Humanities and Social Science.Vol. 6, No. 5; pp.1-8.

8. Tigner RB (1999). “Putting Memory Research to Good Use” College Teaching, 47(4) 149.

9. Vander et al. (2001) The Mechanism of Body Function, Eighth Edition,The McGraw−Hill Companies. P- 367.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنمل دوکتور طاهرشاه (نیکمل)
طب پوهنځی
مایکروبیولوژي دپپارتمنت
ګرځنده شمېره: ۰۰۹۳۷۹۹۱۳۶۶۵۹
برېښنالیک: tahirmekmal@gmail.com

چاغوالی (Obesity) او د وزن زیاتوالی (Overwieght)

لنډیز

چاغوالی او د وزن زیاتوالی یو مزمن حالت دی په بدن کې د زیات مقدار وازدې تولېدو ته چاغوالی ویل کیږي . څرنګه چې یوې خوا چاغوالی او د وزن زیاتوالی د ځینو مزمنو او ژوند ته ګواښ پېښوونکو ناروغیو لکه Type II diabetes, د زړه او د رګونو ناروغیو، hyperlipidemia او sleep apnea خطر لوړوي او په تعقیب یې د ژوند د پاتې کېدو موده یانې Life expectancy د ۷ کلونو په شاوخوا راکموي. له بلې خوا د نورې نړۍ په شان په ګران هېواد افغانستان کې د یادې ستونزې شیوع نه یواځې داچې مخ په زیاتیدو ده بلکه د زیاتره هېوادوالو د پامه هم غورځېدلي ده.

کلیدي ټکي:چاغوالی، وزن زیاتوالی، میتابولیک ناروغی او د ژوند د پاتې کېدو موده.

سریزه

څرنګه چې چاغوالی او د وزن زیاتوالی د ځینو مزمنو او ژوند تحدیداونکو ناروغیو لکه Type II diabetes, د زړه او د رګونو ناروغیو، hyperlipidemia او sleep apnea خطر لوړوي او په تعقیب یې د ژوند د پاتې کېدو موده یانې Life expectancy د ۷ کلونو په شاوخوا راکموي. نوځکه مې وپتېله چې په دې اړه کتابتوني څېړنه وکړم ترڅو ټول طبي کارکوونکي او هېوادوال د چاغوالي او وزن زیاتوالي څخه راولاړیدونکو ناروغیو او له هغو څخه د مخنیوي او ځان ساتنې په اړه معلومات او پوهاوی ترلاسه کړي. د ګران هېواد افغانستان د عامې روغیتا وزارت د National Public Health Institute لخوا د خواجه میراسلم سعید لخوا د جلال آباد په ولایت کې په ترسره شوي څېړنه کې په ټولیز ډول د چاغوالي سلنه ۲۷,۴٪ ښودل شویده، چې د جنس د نظره په ښځینه جنس کې ۳۵,۹ سلنه او په نارینه جنس کې ۱۶ سلنه ښودل شویده [۷].

د ګران هېواد افغانستان د عامې روغیتا وزارت د Head of Grant and Service Contract Management Unit (GCMU) لخوا په پلازمینه کابل کې د خواجه میر اسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سعید لخوا په ترسره شوي څېړنه کې په تولیز ډول د چاغوالي سلنه په ښځینه جنس کې ۵۱,۱ سلنه او په نارینه جنس کې ۴۸,۹ سلنه ښودل شویده.[۸]. همدارنګه یوه بله څېړنه د National Health and Nutrition Examination Survey (NHANES) څېړنه ده چې د امریکا متحده ایالاتو د National Center for Health Statistic of U.S. Center for Disease Control and Prevention لخوا د Dang M او نوموړي ملګرو لخوا په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ میلادي کلونو کې ترسره شویده، په دې څېړنه کې په تولیز ډول ۶۶,۲٪ کاهلو امریکایانو چې عمر یې ۲۰—۷۴ کاله وو د وزن زیاتوالی یا چاغوالی درلود، چې ۳۳,۴ سلنه د وزن زیاتوالی او ۳۲,۹ سلنه چاغوالی درلود[۵].

همدارنګه یوه بله د ایران د تهران پوهنتون د میډیکل ساینس د Endocrinology او Metabolism- Cellular Sceince Institute لخوا د Shahzadr Jafari Adli او د هغه د ملګرو لخوا ترسره شوي څېړنه ده، په دې څېړنه کې ۲۷ سلنه کاهلو ایرانیانو چاغوالی او ۳۸,۵ سلنه د وزن زیاتوالی درلودو [۲]. د پاکستان د کراچی ښار د آغاخان پوهنتون د اپیډیمیولوژي، نیفرلوژي او Medicine and Community Health Sceinece دیپارتمنتونو لخوا د Tazeen H او د نوموړي ملګرو لخوا په ترسره شوي څېړنه ده، په دې څېړنه کې ۲۵٪ پاکستانیانو د وزن زیاتوالی او او ۱۰,۳٪ چاغوالي درلودو [۴]. چاغوالی یو مزمن حالت دې په بدن کې د زیات مقدار وازدې تولېدو ته چاغوالی ویل کیږي. چاغوالی د (BMI) body mass index د لاندې فورمول پواسطه چې د بدن وزن نظر جګوالي ته توضیح کوي په ښه شان معلومیږي. د نوموړي فورمول صورت د شخص وزن ښایي چې په کلوګرام ښودل کیږي او مخرج یې د شخص جګوالی ښایي چې په متر مربع (m^2) ښودل کیږي.

$$BMI = \frac{Weight\ (Kg)}{Height\ (m^2)}$$

هغو کاهلان چې BMI یې ۱۸,۵ – ۲۴,۹ ترمینځ وي د نورمال وزن لرونکي شمېرل کیږي. هغه کاهلان چې BMI یې ۲۹,۹ – ۲۵ وي د زیات وزن (overweight) لرونکي شمیرل کیږي، ولې هغه کاهلان چې BMI یې ۳۰ یا زیات وي چاغوالی لري [۴].

د خطر هغه فکتورونه چې د چاغوالي سره اړه لري: ۱. نژاد: نژادي فکتورونه کېدای شي چې د وزن اخستل چټک کړي. افریقایي نژاده امریکایی ښځې او هسپانیایی ښځې د اسیایي او سپین نژاده ښځو په پرتله زیات وزن اخستنې ته میلان لري او د عمر سره سم چاغوالي اندازه (age-adjusted

(c) ketabton.com: The Digital Library

(obesity rate) یې لوړ وي. ۲. د ماشومتوب د وخت وزن زیاتوالی: هغه څوک چې د ماشتومتوب په وخت، د ۱۳- ۱۹ کلونو د عمر ترمینځ (teenage) او د کاهلی د وخت په لمړیو کې زیات وزن ولري کېدای شي چې د کاهلی د وخت په چاغوالي باندې تاثیر ولري. د بیلګې په توګه، هغه څوک چې په ۲۰ کلنې کې د وزن زیاتوالی ولري د ۳۵ کلنې د عمر د اساسي چاغوالي سره اړیکه لري. هغه څوک چې د ماشومتوب د دورې په وروستي عمر کې د وزن زیاتوالی ولري د کاهلی د وخت چاغوالي ته زیات مساعد دي. هغه څوک چې د ۱۳- ۱۹ کلونو د عمر ترمینځ (teenage) د وزن زیاتوالی ولري د کاهلی د عمر د وزن زیاتوالي ته ډېر زیات مساعد دي. ۳.هورمونونه: ښځې خصوصاً په ټاکلي وختونو لکه حمل، menopause او د خولې د لارې د استعمالیدونکو د حمل ضد درملو د استعمال په وخت کې وزن اخستنې ته میلان لري، خوبیاهم د استروجن کم مقدار لرونکو ګولیو شتون له کبله د وزن اخستل دومره خطر نه لري [۱].

شالید

چاغوالی او د وزن زیاتوالی یو مزمن حالت دی په بدن کې د زیات مقدار وازدې تولېدو ته چاغوالی ویل کیږي . څرنګه چې یوې خوا چاغوالی او د وزن زیاتوالی د ځینو مزمنو او ژوند ته ګواښ پېښوونکو ناروغیو لکه Type II diabetes,، د زړه او د رګونو ناروغیو، hyperlipidemia او sleep apnea خطر لوړوي او په تعقیب یې د ژوند د پاتې کېدو موده یانې Life expectancy د ۷ کلونو په شاوخوا راکموي [۵].

د چاغوالي لاملونه

د وزن اخستل د کالوري د اخستلو او انرجي د مصرفولو ترمینځ د نه سمون له لارې رامنځ ته کیږي. که چیرته یو شخص د هغه کالوری په مقایسه چې نوموړی شخص یې مصرفوي زیاته کالوري واخلي نو شخص وزن اخلي (بدن اضافي انرجي د وازدېFat) (په ډول ذخیره کوي). که چیرته یو شخص د هغه کالوری په مقایسه چې نوموړی شخص یې مصرفوي کمه کالوري واخلي نو نوموړي شخص خپل وزن د لاسه ورکوي. له دې کبله د چاغوالي ډېر عام لاملونه زیات خوراک او فزیکي لټې دی. د وزن زیاتوالی د جینیتیکي، میتوبولیک، محیطي، behaviour او کلتوري لاملونه په پایله کې هم رامنځ ته کیږي [۳].

جینیتک: هغه شخص زیات په چاغي اخته کیږي چې پلار مور یې یا یو ددوی څخه چاغ وي. جینیتیک هغه هورمونونه چې د وازدې په تنظیم کې رول لري هم متاثره کوي. د بیلګې په توګه د چاغوالي یو لامل د leptin هورمون کموالی ده، لیپتین هغه هورمون ده چې د شحمي حجراتو پواسطه افرازیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې چې د بدن وازده په زیاته اندازه ذخیره شي لیپتین دماغ ته د پیغامونو په ورکولو سره د بدن وزن کنترلوي. د ځینو لاملونو له کبله که چیرته بدن په کافي اندازه لیپتین افراز نه کړي یا لیپتین دماغ ته خبر ورنه کړي دغه موازنه د منځه ځي او چاغوالی رامنځ ته کیږي. د چاغوالي په درملنه کې د لیپتین هورمون معاوضه کول تراوسه د چیرنې لاندې دی [۳].

زیات خوراک کول: زیات خوراک کول د وزن اخستنې لامل کیږي خصوصاً کچیرته خواړه زیاته وازده ولري. هغه خواړه چې د وازدې یا بورې زیاته اندازه ولري (د بېلګې په ډول زر تیاریدونکي خواړه ، سره شوي خواړه او خواږه) د انرجي لوړه اندازه لري (په کمه اندازه هغه خواړه چې زیاته کالوري لري). اپیډیمولوژیکو څېړنو ښودلې ده چې هغه خواړه چې زیاته وازده ولري د وزن اخستنې لامل کیږي [۳].

هغه خواړه چې د ساده کاربوهایدریتو لوړه اندازه لري: د وزن په اخستنه کې د کاربوهایدریتو رول واضح نه دی. کاربوهایدریت د وینې د ګلوکوز اندازه لوړه وي، کوم چې د پانقراص څخه د انسولین افراز تنبه کوي، او انسولین د شحمي انساجو وده پرمخ بیایي او د وزن د اخستنې لامل کیږي. ځینې ساینس پوهان عقیده لري چې ساده کاربوهایدریت (ګلوکوز، فرکتوز، desssert، خواږه شربت، بیر، شراب وغیره) په وزن اخستنه کې برخه اخلي ځکه چې دوی د مغلق کاربوهایدریتو (pasta، سرو وریجو، غله، سبزي ، خامې میوې وغیره) په پرتله په چټکی سره د وینې بهیر ته جذبیږي او لدې کبله د خوراک څخه وروسته د مغلقو کاربوهایدریتو په پرتله د ډیر زیات انسولین د افراز لامل کیږي، د ځینو ساینس پوهانو په عقیده د انسولین دغه لوړ افراز په وزن اخستنه کې سهم اخلي[۳].

د خوراک وختونه: د خوراک خواړلو دفعاتو (څو ځلې خوراک کول) او وزن ترمینځ ارتباط یوڅه د پوښتنې لاندې ده، هغه داچې د هغه خلکو په پرتله چې نورمال وزن لري د زیات وزن لرونکو خلکو د شتون راپورونه شته پداسې حال کې چې په کم دفعاتو سره خواړه خوري. ساینس پوهانو څېړلي ده چې هغه خلک په ورځ کې څلور یا پنځه ځلې خوراک کوي، د کلولیسترول ټیټه اندازه او د وینې د ګلوکوز اندازه یې ډیره ثابته وي د هغو خلکو په پرتله چې په کم دفعاتو سره خواړه خوري (په ورځ دوه یا درې ځلې د خواړو زیاته اندازه خوري). شوني ده چې د خوراک مکرر کم مقدار د انسولین ثابته اندازه تولیدوي، ولې د خواړو لوړ مقدار د انسولین لوړه اندازه تولیدوي[۳].

فزیکي لټې: ځای پرځای ناست خلک د هغو خلکو په پرتله چې فعال وي د کالوري کمه اندازه مصرفوي. National Healthاو(Nutrition Examination Survey(NHNES اوښودله چې فزیکي لټې په دواړو جنسونو کې په زیاته اندازه د وزن اخستنې سره تړاو لري[۳].

(c) ketabton.com: The Digital Library

درمل: هغه درمل چې د وزن اخستنې سره تړاو لري د ډیپریشن ضد درمل (درمل چې د ډیپریشن درملنې لپاره کارول کیږي)، د احتلاج ضد درمل (هغه درمل چې د احتلاج د کنترولولو لپاره کارول کیږي لکه کاربامازاپین) یا valproate، ځینې د شکر ضد درمل (هغه درمل چې د وینې د ګلوکوز سویه ټیټوي لکه انسولین، سلفانایل یوریا او thiazolidinedione) ځینې هورمونونه لکه د خولې د لارې استعمالیدونکي د حمل ضد درمل (oral contraceptives) او زیاتره corticosteroids لکه پریډنیسولون. د وزن اخستل د ځینو فشار ضد درملو او هستامین ضد درملو د استعمال سره هم لیدل شوی دي[۳].

فزیالوژیک فکتورونه: ځینو خلکو کې هیجان د خواړو خواړلو په عادت باندې تاثیر لري. زیاتره خلک هیجان لکه زړه تکانونه، خفګان، فشار یا ناراختي) ته په غبرګون ښودنې کې زیات خواړه خوري[۳].

ناروغی : ځینې ناروغی لکه hypothyroidism،(Polycystic ovary (PCO او Cushing's syndrome هم په چاغوالي کې برخه اخلي[۳].

اجتماعي موضوع ګانې: د اجتماعي موضوع ګانو او چاغوالي ترمینځ ارتباط شته. د صحي خواړو د رانیولو لپاره د پیسو نشتوالی یا د منډې یا تمرین کولو لپاره د مصوون ځای نشتوالی د چاغوالي خطر زیاتوي [۳].

د چاغوالي او وزن زیاتوالي له کبله پېښودونکي روغتیایي ستونزې

د وینې لوړ فشار

د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) مطابق د پرمختللي هېوادونو ۲۰ سلنه وګړي کېدای شي د چاغوالي پورې تړلي هایپرتینشن ښکار وي. یواځې چاغوالی ښایي په نارینه او ښځینه جنس کې په ترتیب سره ۷۸٪ او ۶۵٪ د essential hypertension لامل وګڼل شي. د وینې د لوړ فشار شیوع په چاغو نارینه کاهلانو کې ۳۸,۴ ٪ او په ښځینه کې ۳۲,۲ ٪ ده[۱].

د شکرې ناروغي

د چاغوالي او Type II Diabetes mellitus ترمینځ اړیکه په ښه شان پیژندل شویده. د وګړو په زیاترو چېرنو کې تخمیناً ۸۵—۹۵ سلنه د Type II Diabetes زیاتره ناروغان چاغ وي، خوبیاهم یواځې ۱۰ سلنه چاغو ډیابیټ لرونکو ناروغانو باندې شک کیږي چې یواځې چاغوالي کافي نه ده چې د Type II Diabetes لامل شي، نوره فکتورونه خصوصاً د islet beta-cell د وظیفې ناغیرې هم اړینه ده[۱].

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه د رګونو ناروغي

په بدن او قلبي وعايي ناروغيو باندې د چاغوالي منفي اغېزې روښانه دي. د et alWillett يوې څېړنې اوښوده چې زيات وزن لرونکي او چاغې ښځې د CHD لوړ خطر لري. هرکله چې د بدن وزن ۱۱ کيلوګرامه زياتيږي د يادې ناورغۍ خطر ۱,۶ ځلې لوړيږي، ولې هرکله چې د بدن وزن ۱۱—۱۹ کيلوګرامه زياتيږي د يادې ناروغۍ خطر ۱,۹ ځلې لوړيږي. کله چې BMI د kg/m2 29 ته ورسيږي د CHD خطر ۳ ته رسيږي[۱].

سرطان

د تيونو سرطان د ښځينه جنس د ټولو سرطانونو تخمينآ ۲۰ سلنه حسابيږي چې ۸۰ سلنه پيښې يې په postmenopausal ښځو کې ليدل کيږي. د ۱۰۰ څخه زياتو اپيډيميولوژيک مطالعاتو د تيونو سرطان او BMI، د وازدې توضيع او وزن اخستنه په مختلفو عمرونو کې وازمويله. دغو څېړنو جوته کړه چې هغه ښځې چې زيات وزن او چاغوالی لري د ډنګرو ښځو په پرتله ۳۰-۵۰ سلنه د postmenopausal breast cancer زيات خطر لري. د Agency for Research on Cancer (IARC) International د اټکل له مخې په نړۍ کې ۲۵ سلنه د کانسر پيښو لاملونه چاغوالی او د بې فعاليته ژوند ډول (Sedentary life style) دې[۱].

د تريخي تيږې

د تريخي تيږې چې په اساسي دول د کوليسترول د مخلوط، calcium bilirubinate او calcium carbonate څخه ترکيب شوي وي. ځيني وخت کله کله داسې تيږې هم پيدا کيږي چې د پورته ذکر شويو موادو څخه يواځې د يو څخه جوړې شوي وي. د تريخي تيږو شيوع د چاغوالي د موضوع سره اړه لري. د تريخي د تيږو جوړيدل په هغه ښځو کې ۲,۷ ځلې fold-2.7 ځلې زياته وي چې BMIs 40kg/m2 څخه پورته وي نسبت هغه ښځو ته چې BMIs 29kg/m2 کمه وي، ولې په نارينه جنس کې په عين کتګوري د BMIs کې يې احتمال ۲,۳ ځلې fold– 2.3 زياتيږي[۱].

Osteoarthritis

Osteoarthritis په لمړي ډول يا په دويمې ډول د ضربې يا نورو حالاتو له امله د cartilage articular د توړنې پواسطه پيژندل کيږي. Cartilage نرم او نرۍ کيږي، subchondral هډوکی لشم او سختيږي او د osteophytes څندې خارج ته وده کوي، درد او د وظيفوي ضياع ليدل کيږي. دغه په بنيادي ډول وزن لرونکي بندونه اخته کوي او په زاړو خلکو کې ډير عام وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات وزن لرونکي او چاغ خلک زیات په خطر کې دي چې په Osteoarthritis اخته شي. یوه څېړنه چې په منځني عمر لرونکو ښځو باندې ترسره شوې ده داسې اټکل کوي چې د وزن په هر کیلوګرام زیاتوالي سره د Osteoarthritis د اخته کېدو خطر ۹—۱۳٪ زیاتیږي ولې یوې بلې څېړنې اوښوده چې د Osteoarthritis کم ترکمه ۲ پر ۳ برخه ناروغان د عملیاتو په وخت چاغوالی درلوده[۱].

Sleep apnoeaاو د تنفسي جهاز نوره ستونزې

چاغوالی په سږو باندې منفي اغېزه کوي. یوه څېړنه چې په حیواناتو باندې ترسره شوې ده داسې اوښودله، چې چاغوالی د سږو جمله حجم او functional residual capacity د کموالي له کبله تنفسي جهاز اغېزمن کوي. د ګیډې چاغوالی په حجاب حاجز باندې د فشار لامل کیږي او ساه اخستنې (inspiration) په وخت کې د سږو د توسع قابلیت کموي، ولې په سینه کې د وازدې ټولیدل د سینې د جوف مسافه کموي. Sleep apnoea د تنفس د قطع کېدو د تکراري حملو پواسطه پیژندل کیږي چې د خوب په وخت د تنفسي لارې د بندیدو له امله رامنځ ته کیږي او د آکسیجن د مشبوع کېدو د کموالي لامل کیږي. په Sleep apnoea اخته خلکو کې چاغوالی د مهم فکتور په توګه پیژندل شوی دې. څېړنو ښودلي ده چې په ۴۰٪ چاغو خلکو کې څرګنده Sleep apnoea موجوده وه، ولې ۷۰ سلنه د Sleep apnoea ناروغان چاغ وو. یوې بلې څېړنې ښودلي ده چې ۱۰٪ د وزن زیاتوالی ۶ ځلې 6-fold د Sleep apnoea د پیدا کېدو خطر زیاتوي[۱].

د تناسلی سیستم ستونزې

چاغوالی د ښځې د میاشتني عادت د ستونزو لکه د ۳۶ ورځو څخه زیات د عادت اوږدیدل، د عادت غیرمنظم کیدل او په مخ باندې د نر په شان د ویښتو د پیدا کېدو، عقامت او خوبخودي زیان سره اړه لري. څېړنو ښودلي ده چې په حمل کې چاغوالی د فشار د زیاتوالي، شکرې ناروغی، ولادي سوشکل او د مور او ماشوم دواړو د مرګ سره ملګري وي [۱].

د چاغوالي درملنه

د چاغوالي د درملنې موخه د بدن د وزن کمول او د اوږد وخت لپاره ساتل دي. نوموړي موخې ته د رسېدو لپاره د درملنې لاندې کړنلارې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غذا پواسطه درملنه

کالورۍ اخستل باید په ورځ کې ۱۰۰۰ څخه تر ۱۲۰۰ کیلوکالوري پورې ښځو ته او ۱۲۰۰ څخه تر ۱۶۰۰ کیلوکالوري نارینه وو ته انتخاب شي. زیاتره زیات وزن لرونکي او چاغ خلک باید د کمې کالورۍ اخستلو د غذا سره اوږد مهاله ځان عیار کړي. په غذایي درملنې کې د غذایي رژیم تغییر شامل ده ترڅو دغې موخو ته ورسیږو[۶].

فزیکي فعالیت

فزیکي فعالیت د بدن په روغتیا باندې مستقیمې او غیرمستقیمې اغېزې لري. د فزیکي فعالیت ترسره کول د وزن د ضیاع لامل کیږي ځکه چې فزیکي فعالیت د انرژی مصرف زیاتوي او وزن په ثابت ساتلو کې عمده رول لري. فزیکي فعالیت د زړه د ناروغیو خطر هم کموي. ددې سره سره فزیکي فعالیت کېدای شي د بدن د وازدې په کمولو کې مرسته وکړي او د عضلي کتلې د کموالي څخه مخنیوي کوي کوم چې زیاتره د وزن ضیاع له کبله رامنځ ته کیږي. چاغ ناروغان باید فعالیت په تدریجي ډول زیات کړي او د تپې کېدو څخه د مخنیوې په خاطر باید احتیاط ترسره شي. ۳۰ دقیقې د فزیکي فعالیت مختلف ډولونه لکه د کور سپک کارونو ترسره کول، منډه وهل، ګډه کول، باغباني کول، ګروپي یا انفرادي ډول د سپورټ کول، بایسیکل زغلول، په څرخیدونکي ماشین (Threadmill) باندې تلل یا ورو منډه وهل، زینه باندې پورته کیدل او لمبا کول د متوسط تمرین د ډولونو څخه عبارت دي. د وزن بایللو څخه علاوه د تمرین کولو نورې ګټې عبارت دي له:

د وینې د ګلوکوز په کنترلولو کې رول لري او د انسولین په مقابل کې حساسیت زیاتوي (د انسولین په مقابل کې مقاومت ټیټوي).

په وینه کې د Triglycerides اندازه ښکته کوي او د ښو کولیسترول (good HDL Cholesterole) اندازه پورته کوي.

د ګېډې وازده کموي.

Endorphine افرازوي چې د خلکو د ښه والي د احساس لامل کیږي.

یادونه: د فزیکي فعالیت پواسطه د وزن بایلل که ترلاسه شي یا نه، پورته یادې شوي ګټې ترلاسه کیږي[۶].

د سلوک درملنه

د سلوک درملنه د خوړو اخیستنې او فزیکي فعالیت لپاره د پلان په جوړولو کې اغېزمنه طریقه ده. په خپله د خپل ځان ځارل، د فشاراداره کول، د تنبهاتو کنترولول، د مشکل حلول، د احتمالي پیښو اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول او اجتماعي ملاتړ د سلوک د وصفي کړنلارو څخه عبارت دي. د سلوک درملنه کېدای شي د غذا پواسطه درملني (غذايي رژيم محدودول) د پرمختګ او فعاليت سره د ځان عياريدو په خاطر وکارول شي[۶].

د دوا پواسطه درملنه

فارماکوتيراپي کېدای شي په لوړ خطر لرونکو ناروغانو کې اغېزمنه وي. د FDA لخوا د اوږد وخت لپاره د دوا پواسطه تاييد شوي درملنه کېدای شي په ځينو چاغو ناروغانو کې اغېزمنه ثابته شي. کچيرته د ژوند ډول تغيير د ۶ مياشتو څخه وروسته هم وزن کم نه کړي فارماکوتيراپي بايد په نظر کې ونيول شي. موجوده وخت فارماکوتيراپي هغو ناروغاتو ته توصيه کيږي چې BMI ≥ 30 يا BMI ≥ 27 وي خو د چاغوالي سره تړلي فکتورونه يا ناروغۍ ولري. بياهم ټول ناروغان درملني ته ځواب نه وايي. کچيرته ناروغ ۲,۲ پونډه يا ۲ کلوګرامه وزن د ۴ اوونيو درملني سره کم نه کړي، نو نوموړې ناروغ يادې دوا سره ځواب نه وايي. موجوده وخت Sibutramine او Orlistate د FDA لخوا تاييد شوي دي. Sibutramine اشتها د منځه وړي ولې orlistate د کولمو څخه د وازدې جذب نهي کوي[۶].

جراحي درملنه

جراحي پواسطه درملنه په هغه ناروغانوته چې شديد چاغوالی (BMI ≥ 40) ولري يا BMI ≥ 35 وي ولې ددې سره سره يوځای جدې حالت ولري توصيه کيږي. عمليات شوي مريضان بايد د اختلاطاتو لپاره وڅارل شي او د ژوند کولو طرز بايد د خپل ژوند تر پايه عيار کړي[۶].

موخې

- د چاغوالي او وزن زياتوالي له کبله د راوولاړيدونکو ناروغيو او ستونزو په اړه د روغتيايي کارکوونکو او هېوادوالو د پوهاوي کچې لوړول.
- د چاغوالي تشخيص، درملنې او د مخنيوي تدابيرو ته ددوې پام رااړول

وروستی پايلې

په نوره نړۍ او ګران هېواد افغانستان کې د ترسره شويو چېړنو په بنسټ د چاغوالي لوړې شيوع شتون ته په کتو سره د وروستې پايلې په توګه داسې ويلی شو چې خوست ولايت هم د يادې ستونزې څخه خالي نه دې خو که چيرته د چاغوالي او وزن زياتوالي د لاملونو او د هغې څخه د راولاړيدونکو روغتيايي ستونزو په په اړه عام پوهاوي ته سمه پاملرنه وشي نو پيښې يې راټيټيدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندیزونه

- **د عامې روغتیا وزارت اړوند چارواکو ته وړاندیز کیږي چې د چاغوالي، وزن زیاتوالي او د هغې څخه د راوولاړیدونکو ستونزو په اړه ټول هېوادوال او خوست میشتې وپوهوي.**
- **څرنګه چې د شکرې ناروغي په زیاته سلنه د چاغوالی له کبله پیدا کیږي او چاغوالي مخنیوي د د فزیکي کړنو پواسطه کېدای شي نو فزیکي کړنې باید د خپل ژوند برخه وګرځوي.**
- **اطلاعات کلتور ریاست او نوره میډیاوې باید په خپلو خپرونې کې د چاغوالي، وزن زیاتوالي او د هغې له کبله د پیدا کېدونکو روغتیایي ستونزو په اړه پیغامونو ته ځای ورکړي.**
- **ښه به وي چې د تعلیم او تربیې وزارت د مکتبونو په نصابي کتابونو کې د وزن زیاتوالي، چاغوالي ، د هغې څخه د راولاړیدونکو روغتیایي ستونزو او هغې څخه د مخنیوي په اړه ساده معلوماتو ته ځای ورکړل شي.**

Abstract

Obesity and Overwieght is a chronic condition, excessive amount of fat collection in body is called Obesity. While from one side obesity and overweight increased the risk of some chronic and life threathening disease like type II diabetes, cardio vascular disease, hyperlipidemia and sleep apnea and decreased Life expectancy almost 7 years, from otherside like other world in dear country Afghanistan not only mention problem prevalence is increasing but is ignore from most of Afghan civilian.

Reference

1. Aus Tariq Ali & Crowther Nigel John (2005) Health Risk associated with obesity, published by: University of the Withwalersrand Medical School, Johanneshurg page(56,57,58 & 59).
https://www.cdc.gov/healthyweight/effects/index.htm

2. Adli Shahrzad Jafari, Jouyandeh Zahra , Qorbani Mostafa, Soroush Ahmadreza , Larijani Bagher and Ranjbar Shirin Hasani (2014) prevalence of obesity and overweight in adults and children in Iran' a

(c) ketabton.com: The Digital Library

systemic review, published by: Journal of Diabetes & Metabolic disorder page (1-10).
https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC4301060/pdf/40200_2014_Article

3. Balentine Jerry R. (2015) Medicine Net page (2).
http:// www.medicine.com/obesity-weight-loss/page

4. Jafar Tazeen H, Chaturvedi Nish, Pappas Gregory (2006) prevalence of overweight and obesity an Indo-Asian population, pulished by: Pakistan Medical Research Council and the US department of health and human services page (1017).
https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC1609152/pdf/20061024s00018p

5. Nguyen Dang M & El-Serag Hashem (2010) The epidemiology & obesity, published by: Gastroenteral Clin North AM page (2).
https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC2833287

6. Pi- Sunyer F. Xavier (2011) The practical Guide identification, evaluation and treatment of overweight and obesity in Adult, published by: National Institute of health hearth, lung and blood Institule North American association for the study of obesity page (2,3,4).https://www.nhlbi.nih.gov/files/docs/guidelines/prctgd_c.pdf

7. Saeed Khwaja Mir Islam (2015) Prevalence and association Risk factors for obesity in Jalalabad city-Afghanistan, published by: Alexadria journal of Medicine page (348).
http://www.sciencedirect.com/science/article/pii/S209050681400117

8.Saeed Khwaja Mir Islam (2015) Pattern of Adult obesity in Kabul Capital of Afghanistan a cross sectional study using IOSR journal of pharmacy page (89).
http://www.iosrphr.org/papers/v6i11V2/L0611028996.pdf

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنمل میاولي شاه میاخېل
د ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پښتو څانګه
ګرځنده شمېره: 0777858384

د څېړنې شکلي قالبونه

لنډیز

(دڅېړنې شکلي قالبونه) عنوان لاندې مقاله کې لومړی سریزه لیکل شوې؛ په سریزه کې د مقالې موخه، اهمیت، او د اصل موضوع بیان لیکل شوی، ورپسې بیا د څېړنې په عامو او خاصو کالبونو باندې خبرې شوې، چې د عامو کالبونو په برخه کې: مقاله، د تحقیقي مقالې اوصاف، رساله، او کتاب معرفي شوي دي، په دویمه برخه کې د څېړنې خاص شکلي کالبونه تشریح شوي، چې په دې لړ کې ټرم پیپر Term paper، مونوګراف، تیزس او ډیزرټیشن ښودل شوي او په اخر کې د مقالې پایله او هم د هغو ماخذونو فهرست، چې د یادې مقالې د لیکلو پر وخت ګټه ترې اخیستل شوې، لیکل شوي دي.

سریزه

د شرق د فرهنګي اثارو له مطالعې څرګندیږي، چې له پخوا زمانو څخه تاریخي، معلوماتي، دیني، فقهي، طبي، نجومي او نورو عقلي او نقلي علومو په خصوص کې لیکل شوي اثار په دریو شکلي کالبونو کې، لکه: مقاله، رساله، کتاب لیکل شوي او تر موږ پورې رسیدلي دي؛ خو په ورستیو پیړیو کې د علومو له پراختیا او د لوړو تحصیلاتو له ترویج او عامیدلو سره سم د څېړنو لپاره ځینې نور شکلي کالبونه هم پیدا شول، چې زیاتره د تحصیلي سندونو د حاصلولو د علمي کار کوونکو او استادانو د علمي ترفیعاتو لپاره لیکل کیږي، نو په دې بحث کې موږ دا کالبونه د عام او خاص تر مقولو لاندې په دوو برخو کې مطالعه کړي دي، چې د عامو په برخه کې مقاله، رساله او کتاب شامل دي او د خاصو کالبونو په برخه کې ټرم پیپر، مونوګراف، تیزس او ډیزرټیشن مطالعه شوي دي؛ ترڅو موږ په دې و پوهیږو، چې د څېړنې کالبونه په لومړي سر کې په څو برخو ویشل شوي او هم کومې، کومې برخې په دې ځای کې د مطالعې ځای لري.

1. عام قالبونه

دا کالبونه لرغوني دي، په دې کالبونو کې مقاله، رساله او کتاب شامل دي، پخوا ټولې څېړنې او نور معلوماتي او تاریخي اثار موږ په همدغو درېیو کالبونو کې موندلی شو، دا کالبونه تر اوسه زموږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ کې معمول دي او اوسنۍ څېړنې هم زیاتره په کلي ډول په همدغو دریو کالبو کې ترسره کېږي، چې په خپل وار سره به په هر یوه باندې خبرې وکړو.

الف: مقاله

په فرهنګونو کې یې د مقالې په باب داسې کښلي دي: په افغان دری – پښتو قاموس کې لیکلي: ((مضمون مفصل درتخت یک مضمون و موضوع که عموماً برای درج در یک روزنامه نوشته شود.)) (۱:۱۲۳۶)

په دریاب کې د مقالې په هکله داسې لیکي: ((لیکلی مضمون، د کتاب حصه، د معلوماتو مفصل مضمون.)) (۷:۱۲۰۲)

په پښتو—پښتو سیند کې داسې لیکلي: ((لیکلی مضمون، د کتاب برخه.)) (۵:۹۷۳)

د مقالې په هکله سید محی الدین هاشمي د لیکوالۍ فن په نوم اثر کې وایي، چې: ((هره موضوع چې د لیکنې او سپړنې څېړنیز ارزښت ولري په هغې مقاله لیکلی شو.)) (۹:۵۵)

له پورته یادونو څخه موږ دې نتیجې ته رسېږو، چې هرهغه مضمون، که هغه په هره موضوع وي؛ خو چې له رسالې او کتاب څخخه کوچنی وي، مقاله بلله کېږي.

مقاله په عام ډول په مجلو، ورځپاڼو کې چاپېږي او یا هم په علمي مجامعو (سیمینارونو، کنفرانسونو او سیمپوزیمونو، د فرهنګي شخصیتونو د زوکړې د کلیزو او تلینونو غونډو) کې وړاندې کېږي. استاد هېوادمل د څېړنې مېتودولوژۍ کې د مقالې په هکله زیاتوي: د هند په نیمه وچه کې په تېره پاکستان او د هند په اردو ژبو کې بیا د مقالې تعبیر داسې دی: دوی په عامه محاوره کې د حجم په لحاظ وړې لیکنې ته مضمون، منځنۍ لیکنې ته کتابچه او غټ کتاب ته مقاله وایي او حتی دا هم وایي د ((Ph.D)) مقاله، معنا دا چې په دې سیمه کې تر ټولو د غټ حجم لرونکي لیکنه مقاله بولي؛ یعنې د حجم د لږوالي او ډېروالي له پلوه دغو دریو شکلي قالبونو ته د مضمون، کتابچې او مقالې تعبیرونه کارول کېږي. (۸:۳۳)

د تحقیقي مقالې اوصاف

کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهي د یوې تحقیقي مقالې د اوصافو د څرګندولو په نیامت یوه نسبتاً مفصله مقاله لیکلې ده، چې نه یوازې د تحقیقي مقالې اوصاف موږ ته راښیي، بلکې د څېړنې په باب په عام ډول ډېرې د کار خبرې لري، که مبالغه یې ونه بولو، د میتود پوهنې په ډېرو تازه کتابونو کې هم تردې نوې خبرې نشو موندلی، زه دلته په ډېر لنډیز د یوې تحقیقي مقالې اوصاف ترې را اخلم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. تر ټولو غوره تحقیقي مقاله هغه ده، چې یوه نوې فرضیه اثبات ته ورسوي، د علومو په ساحه کې یو نوی قانون، پرنسیپ یا تیوري، چې پخوا نه وي څېړل شوې رامنځ ته کړي.
2. هغه مقاله چې که څه هم نوي پرنسیپونه او قوانین نه بیانوي، خو بیا هم د موضوع حق په داسې توګه ادا کړي، چې له ابتکاره خالي نه وي.
3. هغه مقاله چې په یوه ټاکلي ساحه کې پخوانۍ څېړنې له سره په انتقادي ډول مطالعه کوي، ښېګڼې او نیمګړتیاوې یې رابرسېره کوي او هدف یې داوي، چې د زیان رسوونکو او غیر علمي مفکورو د رواجېدو مخه ونیسي.
4. هغه مقاله چې په یوه ځانګړې موضوع کې خورې ورې او پراګنده څېړنې په سیستماتیک ډول راغونډې کړي، د موضوع تاریخي سوابق اوپس منظر وڅېړي او وروستي انکشافات یې هم وڅېړي. (۱۵:۲) استاد روهي زیاتوي، چې هره مقاله له یادو څلورو درجو راکښته شي، نو بیا د تحقیقي مقالې په چوکاټ کې ځای نه لري او د خرابو مقالو په کتګورۍ کې باید مطالعه شي.

ب: رساله

په (افغان دری – پښتو) قاموس کې د رسالې معنا (لیک) ده. (۶۱۹:۱)

او هم په یو بل پښتو قاموس (دریاب) کې یې معنا: لیک، مکتوب او وړوکی کتاب ده. (۷۶۰:۷)

په عام ډول د کتاب په تناسب د لږ او د مقالې په نسبت د زیات حجم لرونکي او نسبي اوږدې لیکنې ته، چې د یوې خاصې موضوع لیکلو ته وقف شوې وي رساله وایي، په شرقي فرهنګ کې زموږ پخوانیو فرهنګیانو د فقهي، عرفاني، اخلاقي، تاریخي، طبي، ریاضي، نجوم، ژوند پېښنو، بلاغي علومو، تجوید او نورو پوهنو په باب په زرګونو رسالې لیکلي دي.

استاد هېوادمل د څېړنې په مېتودلوژي کې په دې هکله وایي: رسالې کېدای شي منظومې وي او یا هم منثورې، لکه: بایزید روښان، چې خپلو ځینو منظومو اثارو ته د رسالې نوم ورکړی دی، بایزید د خپلې یوې منظومې رسالې په پای کې ویلي دي: (دا تذکره د علم رساله نمینه) یا د یوې بلې رسالې په پای کې یو ځای ویلي دي: (دا رساله مې فرحت المجتبی). (۳۶:۸)

په شرقي فرهنګ کې د رسالې د استعمال دایره ورو ورو پراخه شوه او په معاصر دوران کې پر لږ حجمه تحقیقي اثارو هم د رسالې اطلاق عام شوی دی. زموږ د هېواد په فرهنګي کړیو کې، چې یوه لیکنه د مقالې له دایرې ووزي او حجم یې نسبي غټ شي، رساله ورته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج: کتاب

د کتاب په هکله یې په (پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس) کې داسې لیکلي دي: ((چاپي یا خطي جونګ، کتاب له مجلې څخه د طول او فورم پر اساس توپیر لري، د حسابو، ریکارډو... د داخلولو لپاره څو پاڼې خط کشي شوې، یا د هوسې پوستکي... چې پر یوه خط سره ګنډل شوي، څه ور باندې لیکل شوي یا چاپ شوي وي او معمولاً د دوو پوښو (وقایه، اړانه) په منځ کې وي، اسماني کتابونه، لکه: زبور، تورات، انجیل او قران، چې په ترتیب سره پر خپل پیغمبر نازل شوي دي. د څو سیاسي اسنادو مجموعه ده، چې د صفت په توګه د رنګونو نومونه ورسره یادیږي، لکه: د فرانسې ژېړ کتاب، د بلجیم خړ کتاب، د ایتالیې شین کتاب... (۳۴۸۸:۴)

په (افغان درې ـ پښتو) قاموس کې د کتاب په هکله داسې لیکلي: ((نوشته که دارای اوراق متعدد باشد.)) (۹۸۶:۱)

په (پښتو ـ پښتو سیند) کې د کتاب معنا په دې ډول ده: چاپي یا خطي جونګ، مجلد شوې پاڼې. (۷۷۱:۵)

استاد هېوادمل د څېړنې په مېتودلوژي کې د کتاب په هکله د (فرهنګ سخن) په حواله لیکي: د لیکنو او یا تصاویرو مجموعه، چې په نازکو ورقو کښل شوي، صحافي شوې وي، جلد پښتې ولري، که خطي وي یا چاپي هغه کتاب بلل کیږي.

د کتاب په تېره د تحقیقي کتاب د محتوی په باب پوهان وایي، چې د کتاب محتوی مفصله، عالي، پخه او پیاوړې وي او د طرح شوې موضوع په اړه هر اړخیز او دقیق معلومات په منظم ډول لوستونکي ته وړاندې کوي، تحقیقي کتاب مقدمه، فصلونه، خاتمه، پیشنهادونه، ماخذونه، اصطلاحات او د اعلامو فهرستونه لري. (۳۶:۸)

2. خاص شکلي کالبونه

د څېړنې خاص کالبونه په نړۍ کې د علمي او تحصیلي ډګریو او درجو د حاصلولو او یا هم په تحقیقي عالي او تعلیمي موسسو کې د علمي وجایبو د پوره کولو لپاره ایجاد شوي دي او پیدایښت یې د نړۍ په هېوادونو کې د عالي تحصیلاتو او علمي تحقیقي مراکزو له پرمختیا سره نېغه اړیکه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تحقیق ډولونه، روشونه، مېتودونه او لارې چارې د څېړنو په عامو او خاصو شکلي کالبونو کې په کلي ډول ډېر توپیرونه نه لري، اما په جزیاتو کې ښایي څه توپیرونه موجود وي؛ د تحقیق وسایل او شرایط هم ښایي ونه مومي.

د څېړنې هغه خاص شکلي کالبونه چې زموږ په هېواد او نورو هېوادونو کې معمول دي په لاندې ډول ښودل کېږي.

الف: ټرم پیپر Term Paper

د ټرم پیپر په هکله استاد هېواد مل د (Kate L. Turabian) په حواله لیکي: د امریکا په مکاتبو او پوهنتونو کې شاګردان د کورسونو او سمېسترونو په پای کې یوه لیکنه تهیه کوي، چې دکورس برخه جوړوي، دې لیکنې ته ټرم پیپر وایي، دا پیپر هم د څېړنې یو کالب دی، چې د مأخذ او ریفرنسونو پر بنا برابرېږي. (۳۷:۸)

ب: مونوګراف

زموږ په هېواد کې، چې څوک د لیسانس تحصیلي دوره پای ته ورسوي فارغ ته د مونوګراف لیکنې سپارښتنه کېږي، چې د بېلا بېلو علومو په بېلا بېلو څانګو کې موضوعات ټاکل کېږي.

د مونوګراف په اړه ګل رحمن رحماني په (مونوګراف لیکنه) اثر کې داسې لیکي: په افغانستان کې هغې تحقیقي لیکنې ته، چې محصلان یې تر فراغت دمخه یا وروسته له خپلې تحصیلي څانګې سره په یوې اړوندې موضوع لیکي مونوګراف بلل کېږي او مونوګراف معمولاً تر مقالې اوږد او تر کتاب ووړ وي، کتاب ممکن د مختلفو موضوعاتو ټولګه وي؛ خو مونوګراف په واحده یا څانګرې موضوع لیکل کېږي، کتاب شاید دویم ټوک ولري، خو مونوګراف دویم ټوک نه لري او موضوع پکې بشپړه شوې او نتیجې ته رسول شوې په کار ده. (۱:۳)

ج: تیزس Thesis

د انګلیسي ـ پښتو قاموس، چې په ۱۳۸۵ کال کې چاپ شوی د تیزس معنا یې علمي رساله لیکلې ده. (۴۵۳:۶)

په Oxford Dictionary، چې په ۲۰۰۴ کال کې لیکل شوې ده، هغه بیا د پوهنتون Ph.D. او M.A. ډګریو د تر لاسه کولو لپاره تیزس لیکي.

کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهي د ماستری ډګری د تر لاسه کولو لپاره، چې محصل د تحصیلي دورې په پای کې، چې کوم اثر لیکي هغه ته تیزس وایي اما دوکتور ګیان چند بیا M.A او M.Phil. ډګریو د ترلاسه کولو لپاره لیکل شوي اثر ته Dissertation وایي. (۳۷:۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د: ډیزرټیشن

څرنګه، چې مو د تیزس په برخه کې ولوستل، چې دوکتور ګیان چند ډیزرټیشن هغه تحقیقي اثر ته وایي، چې د .M.Phil او M.A د کورسونو فارغان یې د ډګریو د حاصلو لپاره لیکي اما مرحوم روهي، چې د .Ph.D ډګرۍ د حاصلولو لپاره، چې Scholar کوم تحقیقي اثر لیکي هغه ته ډیزرټیشن وایي، خو دوکتور ګیان چند بیا د .Ph.D د ډګرۍ د تر لاسه کولو لپاره، چې Scholar کوم اثر لیکي هغه Thesis بولي.

پهOxford Dictionary او Longman Dictionary کې یې بیا د ډیزرټیشن په باب لیکلي دي چې: ډیزرټیشن په یوه خاصه موضوع کې یو تحقیقي کار دی، چې د پوهنتون د ډګرۍ د حاصلو لپاره لیکل کیږي په دې ډکشنریو کې یې دا نه دي ویلي، چې ډیزرټیشن د کومې ډګرۍ د حاصلو لپاره لیکل کیږي. (۳۹۶:۱۰)

موږ ولوستل، چې د هرې تحصیلي درجې د حاصلو لپاره، چې کوم اثر لیکل کیږي هر یو بېل نوم لري، استاد هېوادمل د څېړنې په مېتودولوژي کې د (راهکارهای پژوهش) لیکوال په حواله زیاتوي، چې: نوموړي د لیسانس، ماسترۍ او دوکتورا د تحصیلي دورې په پای کې، چې کوم اثار لیکل کیږي، ټولو ته یې د (رسالې) اصطلاح استعمال کړې ده، لکه: رساله پایان تحصیلي لیسانس، رساله ماسترۍ، رساله دوکتورا او حتی د علمي درجو د حاصلو لپاره، چې کوم اثار لیکل کیږي هغوی ته یې هم (رساله های نیل به رتبه های علمي) ویلي دي.

استاد هېوادمل د (روش تحقیق) په حواله بل ځای کې داسې لیکي: په ځینو عربي هېوادونو، لکه مصر او نورو کې هم ماسترۍ او دوکتورا د تحصیلي درجو اخیستلو لپاره، چې کوم اثار لیکل کیږي هغې ته رساله وایي، د قاهرې د جامع لازهر استاد دوکتور احمد شلبي د ماسترۍ تیزس او دوکتورا ډیزرټیشن دواړه رسالې بللې دي، خو له دغو ټولو توپیرونو سره سره د نړۍ په معتبرو پوهنتونونو او د تحقیق په مراکزو کې د ماسترۍ لپاره لیکل شوی اثر تیزس او د دوکتورا لپاره لیکل شوی اثر ډیزرټیشن بلل کیږي. (۳۸:۸)

پایله

دغو ټولو توضیحاتو څخه وروسته دې نتیجې ته رسیږو، چې کوم کالبونه د څېړنې په ساحه کې استعمالیږي او یا ایجادیږي، هر یو یې بېل، بېل نوم لري او په هېوادونو او ټولنو کې دا نومونه فرق کوي، زموږ په هېواد کې د لیسانس دورې د تکمیل لپاره مونوګراف لیکل کیږي. د ماسترۍ دورې د تکمیل لپاره تیزس او دوکتورا لپاره د ډیزرټیشن اصطلاحات کارول کیږي او مروج دي. په داسې حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې، چې په نوره دنیا کې دا نومونه او اصطلاحات د یو هېواد او ټولنې د بل هیواد او ټولنې سره یو شان نه دي.

د میتود پوهانو ترمنځ د اصطلاحاتو د تعابیر او د اصولو د تفاسیرو او تعاریفو په خصوص کې واړه، غټ اختلافات موجود وي او دا اختلافات طبیعي هم دي، اما په عام ډول څېړونکي له بې لاریو سره نه مخامخ کېږي، له دغو توپیرونو سره سره د نړۍ په معتبرو پوهنتونونو او د تحقیق په مراکزو کې د ماسترۍ لپاره لیکل شوی اثر تیزس او دوکتورا لپاره لیکل شوي اثر ډیزرټیشن بلل کېږي.

Abstract

This article is intended to introduce Kinds of Research Styles. This article provides a step-by-step approach to the Research Styles. The goals, importance, and the actual topic are introduced in the preface. After preface, a discussion is carried out on the common and proper styles of research. In common styles, I have discussed on the article, characteristics of research article (paper), booklet, and books. In the second part of the article, I have explained specific (proper) styles of research, in which term paper, monograph, thesis, and dissertations are explained in details. The last part of the article has a summary and prefaces, which were used in writing this article.

ماخذونه

1. افغان نویس. (۱۹۹۱). افغان درې ـ پښتو قاموس. پېښور: میهن خپروندویه ټولنه.
2. روهي، محمد صدیق. (۱۳۸۹). د څېړنې بنسټونه او ډولونه. کابل: د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز.
3. رحماني، ګل رحمن. (۱۳۸۹). مونوګراف لیکنه. جلال آباد: ګودر خپرندویه ټولنه.
4. ریس خیل، مسافر. (۱۳۶۵). پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس څلورم ټوک. کابل: د علومو اکاډیمي د ژبپوهنې څانګه.
5. زاهد مشوانی، عبدالقیوم. (۱۳۸۵). پښتو ـ پښتو سیند. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
6. سید جلالدین. (۱۳۸۵). انګلیسي ـ پښتو قاموس. پېښور: اریانا خپروندویه موسسه.
7. مومند، قلندر. (۱۹۹۴). دریاب. لارهور: امید پرنټرز.
8. هیوادمل، زلمی. (۱۳۹۲). د څېړنې میتودولوژي. کابل: ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ماسترۍ پروګرام.
9. هاشمي، سید محي الدین. (۱۳۸۳). لیکوالی فن. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
10. Della, Summers. (2006). *Longman Dictionary*. Language and Culture

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنیار ماستر محمدقاسم ګربز
شیخ زاید پوهنتون
ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پښتو ډیپارټمنټ
اړیکه: ۰۷۷۱۱۲۶۷۶۷
ایمېل: qasim.gurbaz@gmail.com

په پښتو ګرامر کې د (یا) ډولونه او سمه کارونه یې

لنډیز

په پښتو ژبه کې د یاګانو د ډولونو او سمې کاورنې سره ډېرې لیکوال لاس او ګرېوان دي، ممکن د ګوتو په شمېر به داسې شخصیتونه وموندل شي، چې د یاګانو د ډولونو او سم استعمال سره به اشنا وي او په اهمیت او ارزښت به یې پوهېږي؛ زما په اند پر یاده موضوع پوهه او حاکمیت لرل ډېر اړین دي، ځکه د یاګانو ناسمه کارونه د مورفیمونو، کلمو، عبارتونو، ترکیبونو او جملو کې د بڼې او محتوا له مخې ګډوډي رامنځ ته کوي او د یادو واحدونو مطلوبه ِغایه له منځه وړي. په دې څېړنه کې مې پر ذکر شوې سکالو کار کړی او په تفصیل سره مې د یاګانو پر ډولونو او د هغوی د استعمال پر ځانګړو ځایونو بحث کړی دی.

سریزه

ژبپوهنه په عمومي ډول پر دوو لویو برخو وېشل شوې ده، چې لومړۍ برخه یې د نظري ژبپوهنې په نوم یادېږي او دویمې برخې ته یې تطبیقي ژبپوهنه وایي. نظري ژبپوهنه په خپل منځ کې بیا پر دریو څانګو تقیسم شوې ده، چې نومونه یې په دې ډول دي: تشریحي ژبپوهنه، تاریخي ژبپوهنه او مقایسوي ژبپوهنه. ګرامر د تشریحي ژبپوهنې لویه برخه جوړوي، چې همدغه ګرامر بیا درې لویې او عمده څانګې لري، چې لومړۍ عمده څانګه یې د فونولوژي په نوم یادېږي، دویمه د مورفولوژي او دریمې څانګې ته یې سینټکس وایي.

فونولوژي د ګرامر هغه برخه ده، چې په هغه کې د یوې ژبې اوازونه او د هغوی د پیدایښت ډولونه او نورې ځانګړتیاوې په علمي او سیستماتیک ډول تر څېړنې او مطالعې لاندې نیول کېږي. یاده څانګه د ژبپوهنې یوه نوې او تازه سکالو ده، چې د شلمې پېړۍ په پیل کې په دغه برخه کې نوي علمي څېړنې او مطالعات وشول؛ ځکه پخوا داسې فکر کېده چې ګرافیم د ژبې یا وینا بنسټ دی، خو اوس دا ثابته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه چې ژبه د انساني غږونو څخه ترکیب او جوړه شوې ده، یانې لومړی فونیم رامنځ ته کیږي او بیا ګرافیم.

په دې کې شک نشته چې زموږ د پښتو ژبې په الفبایي سېستم کې نیمګړتیاوې او ستونزې زیاتې دي، نه غواړم چې دلته یې رابرسېره کړم او یوازې د موضوع سره په تړاو مې پر یوه ستونزه رڼا اچولې، هغه دا ده چې زموږ په الفبایي لیکنه کې یو توری یا ګرافیم (یا) د څو بېلابېلو اوازونو لپاره ټاکل شوی او یا هم یو ګرافیم له څو فونیمونو څخه استازیتوب کوي. د بېلګې په توګه یو همدا د (ی) ګرافیم دی، چې دوه یې خپلواک غږونه او دوه یې دېفتانګ اوازونه دي.

پښتو ژبپوهانو د څلورو مختلفو غږونو لپاره یو ګرافیم ټاکلی او اصلاً ستونزه له همدغه ځایه پیلیږي، که څه هم دا ستونزه تر یوې اندازې په یاګانو کې د شکلي بدلون او د ټکو د تغییر په وجه تر یوه بریده له منځه وړل شوې ده.عام لوستونکي دغو څلورو مختلفو غږونو ته په یوه سترګه ګوري او د توپیر په کیسه کې یې نه دي، بیا ډېری داسې لیکوال هم شته چې د کاربدنې پر ځای، اهمیت، ارزښت او بڼو باندې یې پوهیږي، ځینې بیا داسې هم شته چې په لیک کې یې مراعت ته ډېره پاملرنه نه کوي، خو بیا ځینې یې په مراعتولو ځان نه ستړی کوي. ما په خپله لیکنه کې په تفصیل سره د یاګانو پر ډولونو او د سم استعمال پر اهمیت، ارزښت او اړتیا باندې رڼا اچولې ده او ټولو هغو ستونزو او ګډوډیو ته مې نغوته کړې چې د یاګانو د ناسمې کارونې څخه رامنځ ته کیږي. هغه کسان چې لا تر اوسه د دغو تورو په دقیق استعمال کې ستونزې لري، په دې هیله چې یاده مقاله لاس ته راوړي، په سم ډول یې ولولي او د یاګانو د ډولونو او د سم استعمال د مناسبو ځایونو څخه یې ځانونه خبر کړي او په دې امید چې نور د یادې ستونزې سره لاس او ګرېوان نه شي.

موخې

الف: د یاګانو د ډولونو په اړه له درنو لیکوالو سره د معلوماتو شریکول

ب: د یاګانو د سمې کارونې په اړه د دقیقو معلوماتو شریکول له لیکوالو او عامو لوستونکو سره

ج: د یاګانو له ناسمې کارونې څخه د مورفیمونو، کلیمو، عبارتونو، ترکیبونو او جملو په بڼه او محتوا کې د تغییراتو د رامنځ ته کېدو په اړه د پوهې تر لاسه کول

د: د یاګانو د سم او ناسم استعمال پر اهمیت، ارزښت او اړتیا رڼا اچول

هـ: په ځانګړې ډول د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو ډیپارټمنټ محصلانو ته د یادې موضوع په اړه د شته ستونزو او اشتبهاتو د له منځه وړولو په موخه د موثقو معلوماتو ورسپارول

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کار مواد او مېتود

په دې څېړنیزه مقاله کې مې له کتابتوني مېتود څخه استفاده کړې ده او په یاده لیکنه کې مې له معتبرو موثقو او قوي ماخذونو څخه ګټه اخیستې ده. په دې کې شکه نشته چې د یادې مقالې په بشپړولو کې د مسلک سره سم د مشرانو استادانو د اندونو او مشورو څخه هم مستفید شوی او د موضوع اړوند په ټولو اړخونو مې په عمیق ډول رڼا اچولې ده.

د یاګانو د سمې کارونې اهمیت، ارزښت او اړتیا ته لنډه کتنه

بې ځایه به نه وي، که ووایم چې تر دې دمه پښتانه او غیر پښتانه د (یا) د ډولونو او سمې کارونې سره لاس او ګرېوان دي؛ بې له شکه چې غیر پښتانه او عام پښتانه ورونه د همدې ستونزې سره مخامخ دي خو وینم چې ډېرې سواد لرونکي شخصیتونه لکه: د پوهنتونونو استادان، د ښوونځیو ښوونکي، محصلان او شاګردان او داسې نور د بېلابېلو ادارو تعلیم یافته قشر یې هم له سم استعمال څخه عاجزه دی؛ ځینې بیا داسې هم شته چې د (یا) د ډولونو او سم استعمال په اړه به بشپړ مالومات او حاکمیت هم لري خو دغې لویې او درندې سکالو ته به په اهمیت او ارزښت قایل نه وي، خو ځینې بیا داسې درندې ستې هم لرو، چې فیصدي یې د نورو په نسبت کمه ده چې د هرې (یا) په خپل مناسب ځای کې د کارونې په اهمیت، ارزښت او اړتیا پوهېږي او دې ته ژمن هم پاتې شوي دي.

په دې پوهېدل اړین دي، چې د بل هر ګرافیم په څېر د یاګانو د استعمال ځانګړي ځایونه معلوم دي؛ که چېرې په نثر او نظم کې هره یوه پر خپل ځای وکارول شي، د متن په روانتیا، اسانتیا اومانیزې څرګندونې کې به ډېره مرسته شوې وي.

که چېرې یاګانې پر خپل مناسب ځای او خپله بڼه ونه کارول شي، لوستونکی د متن په لوستلو کې د ستونزو سره مخامخېږي او کله دې ته هم اړ کېږي، چې د غونډلې پای ته ځان ورسوي او بیا له پیله د جملې روغه بڼه ولولي. دا د دې مانا ورکوي چې د پښتو هر لوستونکی د پښتو د هر کتاب متن دوه ځله لولي. کله کله د یاګانو ناسمې کارېدنې له امله یو ویې، ترکیب یا غونډله د لیکوال غوښتې مانا هم نه شي رسولی او لوستونکی له ذهني ستړیا سره مخامخوي.

هغه کسان خو لا له ډېرو ستونزو سره مخامخوي، چې پر پښتو لیک او لوست پوره او بشپړ حاکمیت نه لري. د راډیو، ټیلیویژن او د نورو غونډو ویاندویان هم د یاګانو د نه مراعت له کبله له سختو ستونزو سره مخاخېږي او کله کله دومره سخته تېروتنه کوي، چې د متن اصلي مانا ته باالکل بدلون ورکوي. باید وکاږم چې په پښتو کې د بل هر ګرافیم په اندول د یاګانو کارېدنه زیاته ده، دا ځکه چې پښتو یاګانې په حقیقت کې څلور بېل بېل غږونه دي، چې دوه یې واول او دوه یې دېفتانګ اوازونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفتي سیف الرحمن هاشمي د یاګانو د استعمال ستونزه څه داسې بیانوي: ((پښتو ژبپوهانو د څلورو بېلابېلو غږونو لپاره یو ګرافیم (انځور) ټاکلی او اصلاً ستونزه له همدغه ځایه پیلیږي، خو دا ستونزه په یاګانو کې د شکلي بدلون او د ټکو د تغییر په وجه تر یوه بریده له منځه وړل شوې ده.)) (۱۴۷:۹)

محمد هارون خپل شعشعي هم د یادې موضوع په اړه داسې وایي: ((د غږپوهنې (فونولوژۍ) د قواعدو او اصولو له مخې باید هر غږ (phoneme) ته بېل توری (grapheme) یا نخښه (symbol) ومومو؛ ځکه د ډول ډول غږونو لپاره د یوه توري کارول له یوې خوا پوخ علمي او منطقي جواز نه لري؛ او له بلې خوا په زده کړه او ښوونه کې بې شمېره رېړې پیدا کوي. هېڅوک به دا خبره ونه مني چې د موټر او موټرسایکل یا خره او آس لپاره یو نوم استعمال شي، لکه: څنګه چې د دغو وسیلو او موجوداتو ترمنځ لوی توپیرونه شته، په ژبو کې هم د بېلا بېلو غږونو ترمنځ همدومره توپیرونه لیدل کېږي.)) (۱۴۹:۸)

هره (یا) باید په خپل مناسب ځای کې وکارولے شي، که یوه (یا) د بلې پر ځای استعمال کړو، لویه ګډوډي به یې رامنځ ته کړې وي، په دې مانا چې د مورفیمونو او کلیمو په مانا، بڼه او ګرامري جوړښت کې به لوی تغییر راغلی وي او مطلوبه مانا او محتوا به یې له لاسه ورکړې وي، د بېلګې په توګه د (لیکي، لیکې) او داسې نورو لسګونو وییو ترمنځ په مانا او ګرامري جوړښت کې لوی توپیرونه شته، لکه: بریالیه لیک لیکې؟ او بریالی لیک لیکي. یادې دوې بېلا بېلې غونډلې دي؛ ځکه په لومړۍ جمله کې بریالی دویم مفرد شخص دی، چې پوښتنه ور څخه شوې ده او فعل یې جاري بڼه لري؛ په داسې حال کې چې په دویمه غونډله کې بریالی درېیم مفرد شخص دی، چې د وینا پر مهال حاضر نه دی او د لیکلو فعل یې ساده حال بڼه لري. که په دواړو جملو کې د لیکلو فعل په اوږده یا مجهوله (ې) ولیکل شي، نو په دواړو غونډلو کې بریالی د حاضر په توګه بیانیږي، حال دا چې حقیقت داسې نه دی. لومړۍ جمله د پوښتنې یا سوالیه په ډول او دویمه غونډله د بیانیې په ډول ویل شوې ده. په دې کې شک نشته چې په هره ژبه کې د زمانې په اړولو سره کړ بېل شکل غوره کوي.

د دې لپاره چې د موضوع عمق ته مې ورکوز کړي وئ، د حمید بابا د دیوان له خطي نسخې څخه درته یو ساری راوړم:

لکه ته و ساده روییو ته پخسیږې!

نه پخسیږي ونارنج ته رنځور هسې

(۱۴۶:۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

که موږ تاسې د حمید بابا په دغه بیت کې د (پخسیږې!) او (پخسیږي) دواړې کلمې په اوږده یا مجهوله (ې) ولیکو، نو د بیت محتوا په بشپړ ډول له منځه ځي؛ نو ځکه په لومړۍ مسره کې د (پخسیږې!) کلمه دویم شخص (مخاطب) ته خطاب دی او فعل یې جاري بڼه لري. په دویمه مسره کې د (نه پخسیږي) ترکیب مفرد غایب شخص ته اشاره ده او د جملې فعل د ساده حال په زماني پورې تړاو لري.

د یادې موضوع د لاروښنتیا په موخه مو یو بل مثال ته هم پام رااړوم: (مستي - مستې) کلیمو ته که وګورئ چې لومړۍ یوه یې په لنډه (ي) او دویمه یوه یې په اوږده (ې) لیکل کېږي، دواړې کلمې د رېښې، تلفظ او مانا له پلوه ډېر زیات توپیر لري؛ مګر په مجهوله (ې) د دواړو کښل لویې سرګردانۍ پېښوي، ځکه مستي د بې خودۍ، بې هوشۍ، نشه، وجد، بې حالي، لوبې، بازۍ او ساتېرۍ په مانا ده خو مستې له شیدو څخه جوړ شوو خواړو ته وایي.

یو بل ساري ته هم نغوته کوم، لکه: (سړي) کلمه که په اوږده (ې) ولیکل شي، باید د مېوې، ډېوې، کوې او داسې نورو وییو په شان وویل شي. په داسې حال کې چې هېڅوک دا کلمه د (سړۍ) په ډول نه وایي؛ ځکه په اوږده (ې) د دې کلمې ویل، د مانا له اړخه بدلون راولي؛ د مثال په توګه سړې د تودې په مقابل کې استعمالیږي، چې له سړي سره په غږ او مانا کې مځکه او اسمان توپیر لري.

د یاګانو د ناسمې کاروني موضوع محمد اقا شیرزاد او جمشید رشیدي په دې ډول توضیح کړې ده: ((د دغو یاګانو په بدلون کله یو لغت په بل لغت بدلیږي او په مانا کې یې تغییر راځي، لکه: (مېنه - مینه، غړۍ - غړۍ، شړۍ - شړۍ) د یاګانو برخه په پښتو ګرامر کې هم ډېره زیاته ده یاني مفرد، جمع، مذکر او مونث فعل او اسم، غایب او مخاطب د همدغو یاګانو په وجه معلومیږي. که دا یاګاني په لیکلو کې فرق ونه لري نو(وړۍ) د (پشم) په مانا او (وړۍ) د وړلو په مانا به یو راز لیکو، (راځئ) چې د امر صیغه ده، د (راځي) سره به په لیک کې یو ډول وي.)) (۱۲۹:۷)

دادی، نور مو د انتظار شېبې نه اوږدوم، د یاګانو په ډولونو او د سم استعمال په هکله یې مالومات درسره شریک کوم:

۱- (ي= i)

دغه (یا) ژبپوهانو، ګرامرپوهانو، لیکوالانو او عالمانو په بېلابېلو آثارو کې په مختلفو نومونو یاده کړې ده. صدیق الله رښتین یاده یا د څرګنده (یا) په نوم سره یادوي. (۹:۴)

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو ډیپارټمنټ ښاغلی استاد اسماعیل یون ور ته د څرګنده، لنډه او معروفه (یا) نومونه اخلي. محمد اقا شېرزاد او جمشید رشیدي یې په نسبتي (یا) سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپېژني او محمد هارون خپل شعشعي ورته د ضرفي (یا) نوم اخیستی دی. دا (ي) په پښتو کې یو واول فونیم دی، چې په پښتو متن کې ډېر زیات کارېږي، چې د استعمال ځینې مهم ځایونه یې دادي:

الف: د هغو یوګړو نرینه نومونو د جمعې لپاره راځي، چې په نرینه (ی) پای ته رسېدلي وي، لکه: افغانی ـ افغاني، پردی- پردي، لمسی- لمسي، منګی- منګي، لرګی ـ لرګي او داسې نور.

ب: د هغو یوګړو نرینه نومونو د مغیره یا دویم حالت لپاره هم راځي، چې په نرینه (ی) پای ته رسېدلي وي، لکه: زمری ښکار کوي او زمري ښکار وکړ.

موږ تاسې وینو چې په لومړی غونډله کې (زمری) په اصلي حالت راغلی او په دویمه جمله کې چې په ماضي مطلق زمانه پورې تړاو لري، په غیراصلي بڼه یا مغیره حالت کې قرار لري.

ج: په یو شمېر کسبي نومونو کې چې د یوې پېښې یا کسب ښکارندويي کوي، راځي، لکه: موچي، دوبي، توپچي، ربابي، کبابي، تبله چي، دوکانداري، صرافي، اشپازي، بزګري، شپني، مزدوري، موټرواني، ...

د: د ځینو نسبتي نومونو او ستاینومونو په پای کې هم راځي، لکه: رحیمي، کریمي، قاسمي، نظري، فریادي، رحماني، سوکالي، خوشالي، غریبي، عاجزي، شوخي، مستي، ...

هـ: د حال زماني د یو شمېر فعلونو په پای کې د درېیم شخص د مفرد مذکر، جمع مذکر، مفرد مونث او جمع مونث د بڼې څرګندولو لپاره هم راځي، لکه: سیف الله لیک لیکي. شریف الله او جاوید الله د خپلو استادانو ډېر درناوی کوي. عاطفه درس لولي. شریفه او جمیله ښوونځي ته په ټاکلي وخت ځي. که پورتنیو جملو ته ځیر شو، د هرې غونډلې په پای کې چې کوم کړ راغلی دی، وینو چې په پای کې یې څرګنده (ي) شتون لري.

۲- (ي= e)

د دغې (یا) لپاره هم بېلابېل نومونه اخیستل شوي دي، د بېلګې په توګه یون صاحب ور ته دغه نومونه راوړي دي: ((اوږده، مجهوله، ښځینه)) (۴۴:۱۰)

دا هم یو واول فونیم دی، چې په پښتو وییو په تېره بیا په مونث نومونو کې زیات راځي. د کارونې ځایونه یې دادي:

الف: خوپشکی یې په اړه وایي چې: ((اوږده یا د ښځینه نوم د جمعې نښې په توګه د هغو نومونو په پای کې راځي، چې په (a) خپلواک فونیم پای ته رسېدلي وي.)) (۴۲:۳)

لکه: ښځه - ښځې، کوتره - کوترې، چرګه - چرګې، ګیدړه - ګیدړې، وزه - وزې، غومبسه - غومبسې، پشه - پشې، رمه - رمې، لښته - لښتې، پڼه - پڼې، غرمه - غرمې، ونه - ونې، تخته - تختې، کوټه - کوټې، سترګه - سترګې، زنه - زنې او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: د هغو یوګړو ښځینه نومونو په غیراصلي حالت کې راځي، چې په زور (a) پای ته رسېدلي وي، لکه: (زرمینه کتاب لولي.) په جمله کې زرمینه مفرد مونث نوم دی، چې اصلي حالت لري او (زرمینې کتاب ولوست.) په غونډله کې بیا زرمینه غیراصلي حالت لري.

ج: د هغو مونثو ستاینومونو د جمعې او غیر اصلي حالت لپاره هم کارول کېږي، چې په ګرده (ه) یا زور پای ته رسیدلي وي، لکه: (اوږده لښته) یې مفرد او اصلي حالت او (اوږدې لښتې) یې جمع او غیراصلي حالت را په ګوته کوي.

د: په هغو نسبتي ستاینومونو او فعلونو کې استعمالیږي، چې د مونث نومونو لپاره کارول شوي او یا ګردان شوي وي، لکه: محصلې خاندېدلې. خویندې ژاړېدلې. له بدې ورځې ویرېږم. د ښې ورځې ځښتن شې.

هـ: د ځینو مونث نومځرو په غیراصلي حالت کې راځي، لکه: دې، دغې، هغې، هوغې

یادونه: (دې) یوشخصي کمزوری ضمیر دی، چې د دویم شخص د مفرد مذکر او مفرد مونث دواړو لپاره کارول کېږي او بل د (دا) شخصي قوي ضمیر غیراصلي حالت هم (دې) دی.

و: د ځینو یوګړو حقیقي ښځینه نومونو په پای کې هم راځي، لکه: ناوې، ادې، خواښې.

۳- (ی=ay)

دې (یا) ته هم عالمانو مختلف نومونه کارولي دي، رښتین ور ته د ساکنه (یا) نوم اخلي. (۵:۴۰). محمد اقا شیرزاد او جمشید رشیدي بیا ورته معروفه (یا) وایي. (۷:۱۲۸)

یون صاحب یې په بې ټکو، نرمه، زوروواله او نرینه نومونو سره راپېژني او پوهاند محمد صابر خوپشکي بیا دې یا ته د ملینه (یا) نوم کارولی دی. (۲:۴۳)

دا فونیم هم په اصل کې یو دېفتانګ فونیم دی، چې له یوه واول فونیم (a) او یوه سیمي واول (y) څخه تشکیل شوی دی او د یوه سیلاب په شان په یو وار له خولې څخه راوځي. د استعمال ځایونه یې دادي:

الف: د حقیقي او غیرحقیقي یوګړو نرینه نومونو په پای کې ځای نیسي، لکه: ځلمی، لېونی، کودی، لمسی

، ملګری، ژنی، سړی، تنی، سپی، غړی، ستوری، لوښی، مرغومی، اغزی، ژمی، منی، وری، سپرلی او داسې نور.

ب: په ځینو نسبتي نومونو کې هم راځي، لکه: خوستی، کابلی، کندهاری، ننګرهاری، ګردېزی، لغمانی، صبری، ...

ج: په ځینو نسبتي ستاینومونو کې هم راځي، لکه: بریالی، توریالی، ننګیالی، مېړنی، ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د: د هغو فعلونو په پای کې هم راځي، چې د مفرد نرینه نوم لپاره یې اوړون په برخه شوی وي، لکه: هارون ډېر زیار ګاللی دی. استاد ګربز د خپلو علمي کارونو د ترسره کولو په موخه کابل ته تللی دی. استاد نېکمل له دوبی څخه راغلی دی. محصل په ټولګي دی.

موږ تاسې که د پورتنیو غونډلو فعلونو ته ځیر شو، وینو چې د اصلي او کومکي فعلونو په پای کې نرمه (ی) راغلې او په دې کې شک نشته چې د بلې (یا) په شتون کې به یاد فعلونه خپل مفهوم له لاسه ورکړي.

هـ: د هغو نومونو په پای کې هم راځي، چې په ای(āy)، وی(oy)، وی(uy) دېفتانګ اوازونو پای ته رسېدلي وي، لکه: پای pāy - چای Čāy، زوی zoy - لوی loy، خوی xuy - بوی buy او داسې نور.

یادونه: زما په اند دغه درې پورتني دېفتانګ اوازونه په حقیقت کې بېل او ځان ته فونیمونه دي، خو د نورو فونیمونو په نسبت یې د نرمه (یا) سره ورتوالی زیات دی، نو په همدې اساس یې د مورفیمونو او کلیمو په پای کې په همدغه (یا) سره لیکو.

۴- (ی=Əy)

لکی‌داره (یا) ته هم ګرامرپوهانو په خپلو اثارو کې ډول ډول نومونه اخیستي دي او عموما په همدغو نومونو سره یې یاده کړې ده: زورکیواله، لکی‌داره، تانیثي، اسمي. دا هم یو دېفتانګ فونیم دی، له دوو فونیمونو څخه جوړ دی، چې لومړی یو یې زورکی(Ə) چې یو واول اواز دی او دویم یې سیمي واول(y)غږ دی. د استعمال ځایونه یې په دې ډول دي:

الف: د مفرد حقیقي او غیرحقیقي ښځینه نومونو په پای کې راځي، لکه: ابی، انی، بوډی، لمسی، جینی، ګلالی، کابلی، زمری، هوسی، سپی، شړی، ځولی، خولی، څوکی، ډوډی، رسی، څپلی، شپېلی او داسې نور.

ب: زیار صاحب لیکي چې: ((زورکي والا (ی) هغه ښځینه نومونه ډېرګړي کوي، چې په لنډه (ي) ته پای ته رسېدلي وي، لکه: ودانی، خپلوی، ناروغی، ښادی، خوښی، نېکمرغی ...)) (۹۱:۶)

ج: د هغو نسبتي ستاینومونو په غیراصلي حالت کې راځي، چې په څرګنده (ي) پای ته رسېدلي وي، لکه: د (دوستي) کلمه چې په څرګنده (ي) پای ته رسېدلی نسبتي ستاینوم دی او غیر اصلي حالت یې (دوستی) دی. په لاندې غونډلو کې د یاد مثال اصلي او غیراصلي حالت کتلی شئ.

د هارون او بلال ترمنځ ښه دوستي ده. د فهیم او رشید ترمنځ د دوستی خوند او مزه نشته.

یادونه: که څه هم دلته د دې اړتیا نه لیدل کېږي، چې د (حالت) پر موضوع په تفصیلي ډول رڼا واچوم، ځکه دا ځان ته او بېل سرلیک جوړوي؛ غواړم چې په لنډه توګه ورته یوازې دومره نغوته وکړم، چې کله کله یو اوښتونکی نوم په غونډله کې په بېلابېلو حالاتو کې واقع کېږي، د بېلګې په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله یو نوم په جمله کې د فاعلي، غیرمستقیم مفعولي، مستقیم مفعولي، اضافي او ندايي حالاتو څخه برخمن کېږي، چې په پورتنۍ غونډله کې د (دوستۍ) کلمه په اضافي حالت کې قرار لري، باید واضحه کړم چې په پښتو ګرامر کې دا عمومي فارمول او قاعده ده، چې هر اوښتنونکی نوم په ترکیب یا جمله کې چې اضافي حالت ولري، په غیراصلي بڼه به راځي.

۵- (ئ= Ə̆y)

همزه لرونکې (ئ) هم عالمانو په بېلابېلو نومونو سره یاده کړې ده، ځینې ورته د فعلي (یا) نوم اخلي، بیا ځینو نورو ور ته د امریه (یا) نوم اخیستی دی. ژبپوه هربرت پنزل بیا ورته د ثقیله (یا) نوم کارولی دی. (۲۳:۱)

باید وکاږم چې دا (ئ) له لکۍ دارې (ی) سره په تلفظ کې هېڅ توپیر نه لري او دواړې یاګانې کټ مټ یو وینګ لري، ځکه چې د دواړو یاګانو په جوړښت کې یو ډول فونیمونو برخه اخېستې ده. دا هم د لکۍ دارې (یا) په څېر یو دېفتانګ فونیم دی، چې لومړنۍ یې زورکی او دویم یې نیمواک فونیم دی؛ د لکۍ دارې (یا) سره یې کوم توپیر نشته او دواړه اوازونه کټ مټ ورته دي او یوازې د استعمال په ځایونو کې فرق شتون لري. د یادې(ې) د کارونې ځایونه دا دي:

الف: فعلي(ئ) زیاتره د جمع مخاطب د امر فعلونو په اخر کې راځي، لکه: ولیکئ، ولولئ، وخاندئ، وژاړئ، وخورئ، وځښئ، واخلئ، ...

ب: د جمع مخاطب د نهي فعلونو په پای کې هم راځي، لکه: مه لیکئ، مه لولئ، مه خاندئ، مه ژاړئ، مه خورئ، مه ځښئ، مه اخلئ، ...

ج: په سوالیه غونډلو کې د جمع مخاطب د فعلونو په پای کې هم راځي، لکه: تاسې پوهنتون ته راځئ؟ تاسې د کانکور په ازموینه کې ګډون کوئ؟ تاسې د والي صاحب په کور کې جوړېدونکې مشاعرې ته تشریف راوړئ؟ د کرکټ فاینل لوبې ته راځئ؟ او داسې نور.

باید روښانه کړم، چې نرینه او تانیثي یاګانې د وییو په منځ کې خپل هویت ساتلی نه شي او ځای یې څرګنده(ې) نیسي، یوازې د وییو په پای کې یادې یاګانې د بڼو له پلوه خپل هویت ساتلی شي، لکه: کلی+وال= کلیوال، لوی+والی= لویوالی، نړی+وال= نړیوال، ګاډی+وان= ګاډیوان، ...

یادونه: په کوزه پښتونخوا کې یو بل ډول یا (ے) هم کارولې کېږي، چې دا اصلاً په اردو ژبه کې شتون لري؛ په بره پښتونخوا کې یې په عوض نرمه (ی) کارولې کېږي، چې دواړې یاګانې په حقیقت کې د یو فونیم ښکارندويي کوي. زما په اند همدغې (ے) ته هېڅ اړتیا نشته او استعمال به یې یوازې پر پښتو ژبه د اردو ژبې اغېز وي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایله

په یاده څېړنه کې مې په پښتو ژبه کې د (یا) پر ډولونو او د هرې یا د سم استعمال پر سکالو په علمي او منطقي ډول ژور او تفصیلي بحث کړی دی. د پښتو ژبې په الفبا کې ډېرې نیمګړتیاوې شتون لري، یوه یې همدغه ذکر شوې ستونزه ده چې زیاتره پښتانه او غیرپښتانه وروڼه ورسره مخامخ دي، ما په یاده مقاله کې د موضوع د سم تشریح، تفسیر او تحلیل په موخه د پیاوړو ګرامرپوهانو اندونه راخیستي او بیا مې د خپلې پوهې او تجربو څخه په استفادې سره د بېلابېلو یاګانو د سم استعمال پر اهمیت، ارزښت او اړتیا رڼا اچولې ده.

په خپله لیکنه کې مې دا روښانه کړې ده چې په حقیقت کې موږ تاسې د څلورو مختلفو فونیمونو لپاره یو ګرافیم کاروو، چې دا د فونولوژي د علم سره هېڅ سمون نه خوري او د یاد علم له مخې باید هر فونیم بېل او ځانه ته ګرافیم ولري. د څېړنې په بهیر کې ټولو هغو ستونزو، ګډوډیو او تېروتنو ته اشاره شوې ده، چې په ژبنیو ټوټو کې د یوې (یا) پر ځای د بلې (یا) د کارونې څخه رامنځ ته کېږي. د فونولوژي د علم له نظره د هرې (یا) د فونیم پر جوړښت غږېدلی یم. انسان ضعیف او کمزوری دی، پوره یو الله ج دی؛ که د یاد تحقیق په بهیر کې د سکالو اړوند کوم بعد مجهول او ګونګ را څخه پاتې وي، په دې هیله چې نور څېړونکي ور ته متوجه شي او د پای ټکی ورته کېږدي.

Abstract

Many writers are faced with the problem of correct usage and types of (y) in Pashto Language. Maybe a few people will be found who are familiar with the types and usage of (y) and they know the value and importance of them. In my opinion knowing and having control on the mentioned subject is very important, because the wrong usage of (y) will cause disarrangement of morphemes, words, phrases, structures, form and content in sentences. So it distorts the main objective of mentioned units. I have worked on the mentioned subject in this research, and I have discussed on the specific places of (y) usage and its types in detail.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه

۱- پنزل، هربرت.(۱۳۸۹ل). د پښتو ګرامر، دویم چاپ. ژباړن: محمد رحیم الهام. کابل: دانش خپرندویه ټولنه

۲- خوپشکی، محمد صابر.(۱۳۹۵ل). پښتو معاصر ګرامر. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه

۳- خوپشکی، محمد صار.(۱۳۸۸ل). غږپوهنه - وییپوهنه. کابل: صمیم ادبي ټولنه

۴- رښتین، صدیق الله.(۱۳۹۰ل). ژب ښودنه. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه

۵- رښتین، صدیق الله.(۱۳۷۲ل). پښتو ګرامر. ژباړن: سید محی الدین هاشمي. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي

۶- زیار، مجاور احمد.(۱۳۸۴ل). پښتو پښویه.کابل: دانش خپرندویه ټولنه

۷- شیر زاد، محمد اقا او رشیدي، جمشید.(۱۳۹۰ل). پښتو ژبه او ادبیات. کابل

۸- شعشعي، محمد هارون خپل.(۱۳۸۹ل). د پښتو ژبې ننني مسالې. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه

۹- هاشمي، سیف الله.(۱۳۹۳ل). د علمي څېړنې لارښود. ننګرهار: ګودر خپرندویه ټولنه

۱۰- یون، محمد اسمعیل.(۱۳۸۷ل). پښتو لیکنی سمون. کابل: یون کلتوري یون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنیار ایمل هاند
انجینري پوهنځی
سپول ځانګه
تیلیفونشمېره: ۰۰۹۳-۷۹۲۹۸۳۳۳۱
برېښنالیک: emalhand1@gmail.com

د اوسپنیز کانکریټي پوښښ په واسطه د اوسپنیزو کانکریټي پایو تقویه کول

لنډیز

د ودانیو تقویه او بیارغونه له هغې کړنلارې څخه عبارت ده چې په ترسره کولو سره یې د ساختماني عنصر مقاومت، سختي، مداومت او نورې میخانیکي ځانګړتیاوې لوړیږي. مختلف ډولونه لري لکه اوسپنیز کانکریټي پوښښ، فولادي پوښښ، فایبر او نور. په یاده څېړنه کې د اوسپنیز کانکریټي پایو بیا رغونه او تقویه کول د اوسپنیز کانکریټي پوښښونو په واسطه، د مختلفو عملي اړخونو په پام کې نیولو سره ارزول شویدي. چې د سلب سره وصلیدونکي او تیریدونکي طولي سیخانو اچول، د تماس سطحو تیارول، د عرضي سیخانو تر منځ فاصلې، ساختماني عنصر لپاره مؤقته اتکاء ورکول او د تازه کانکریټ اچول شامل دي. د یادې موضوع اړونده دغه څېړنه کې کوښښ شویدیچې تر ټولو غوره اوسپنیز کانکریټي پوښښ پیدا او عملي کولو ته وړاندې کړل شي. پایله دا ښیي چې اوسپنیز کانکریټي پوښښ د اوسپنیز کانکریټي پایو لپاره غوره عنصر دی، او د ترسره کولو کړنلاره یې په ښه شان سره په کې واضح کړل شویده.

کلیدي ټکي: اوسپنیز کانکریټي پوښښ، دپایو میخانیکي ځانګړتیاوې، د نویو ساختماني عناصرو اضافه کول، د ساختمان بیا رغونه او تقویه کول

سریزه

بشر د خپل هوسا ژوند تېرولو لپاره په سیمه او نړۍ کې په زیاته اندازه اوسپنیز کانکریټي ساختمانونه جوړ کړي او دا لړۍ همداسې روانه ده. اوسپنیز کانکریټ یوه نا متجانسه ساختماني ماده ده چې د فولادي سیخانو او کانکریټو څخه جوړه شوي ده. مختلف عوامل لکه اضافه باري، د اساس کښیناستل، زلزله، زیات عمر او نورد دې سبب ګرځي چې کانکریټي ساختمانونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتېدنې او تخریب سره مخامخ شي. (۱-شکل) نو پدې اساس اړتیا لیدل کیږي، هغه ودانۍ چې وړاندې جوړې شویدي د موجوده او راتلونکو خطرونو او تهدیدونو څخه د ژغورلو او مخنیوي لپاره بیارغونه او تقویه کړل شي.

د ساختمانونو بیارغونه او تقویه کول د ساختماني شرکتونو یو مهم اړخ جوړوي کوم چې مؤثریت یې ورځ تر بلې په نړیواله کچه مخ په زیاتېدو دی. مختلفې کړنلارې شتون لري چې هره یوه یېیو شمېر مثبت او هم منفي اړخونه لري، چې نظر د ساختماني عنصر ډول، د ماتېدنې ډول او اندازې او نورو شرایطو په پام کې نېولو سره غوره کیږي. که څه هم ډېر کم معلومات شتون نلري او یا هم په ډېرو کمو کوډونو کې هم غیر مؤثرو معلوماتو ته لاس رسی کیږي. په حقیقت کې زیاتره بیارغونه او د تقویه کولو ډیزاین د انجېنري تیم مسلکي غړو په واسطه د ساحې د لیدو په اساس کیږي، او په ځینو وختونو کې محاسبوي پوهې ته هم اړتیا پکې پیدا کیږي، یاده څېړنه به د ساختمان تقویه او بیا رغونه د ماتېدنې پر وړاندې پر ښه شان سره ترسره کړل شي.

پورتنیو مشکیلاتو ته په کتو سره اړتیا لیدل کیږي، چې د ساختمانونو د تقویه کولو تر ټولو عمده کړنـــلارو ته کتنه وکړو،لکه د اوسپنیز کانکریټي پایو پوښ کول (۲- شکل)، دغه کړنلاره مختلفو ځانګړتیاو ته په کتو سره ارزول شویده، د دې لپاره چې د ساختماني ډیزاین کوونکو سره کومک وکړي تر څو د حل غوره لاره ورته وړاندې کړل شي. یاده څېړنه پخوانیو څېړنو او تجروبو ته په کتو ترسره شویده.

۱- شکل (اوسپنیز کانکریټیتخریب شوی



.شکل (اوسپنیز کانکریټی پوښښ ډیټایل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

موخې

په سیمه او نړۍ کې د مختلفو عواملو لکه اضافه باری، زلزله، د موادو ټیټ کیفیت، د اساس کښېناستل او داسې نورو عواملو په اساس اوسپنیز کانکریټي ساختمانونه او ساختماني عناصر لکه پایې، ګاډرونه، سلبونه، تهدابونه او نوردرزونه کوي او ماتېږي چې په پایله کې ودانۍ له نورمالې ګټې اخیستنې څخه لوېږي او یا هم ساختمان ویجاړېږي. ماتېدنه اقتصادي زیانونه لري او که پر وخت یې رغونه ونه شي نو د انساني تلفاتو لامل هم ګرځي. د څېړنې موخې دا دي چې څنګه کولای شو اوسپنیز کانکریټي عمودي عنصر (پایه) د اوسپنیز کانکریټي پوښښ په مرسته تقویه کړو او هم یې د تقویه کولو تر ټولو غوره کړنلاره واضح کړل شي.

د ساختمان د بیارغونې او تقویه کولو اړتیا او لارې چارې

الف- کله د ساختمان بیارغونې او تقویه کولو ته اړتیا پیدا کیږي: د ساختمان د بیا رغونې اړتیا کېدای شي هر وخت رامنځته شي، د جوړېدو له مرحلې څخه نیولې د ساختمان د ژوند تر پایه پورې وي.

د جوړېدو په مرحله کې د لاندې سببونو لـه امله کېدای شي درزونه رامنځته شي: ۱- د ډیـزاین اړونده غـلطي.

۲- په ناسم ډول د ســاختماني مرحــلو بشپړکېدل.

۳- په کانکریټو کې د سمنټو (نښلونکو موادو) کمښت یا ناسم مخلوط کیدل

د ګټې اخېستنې پر مهال ساختمان د لاندې سببونو له امله ماتېږي، بیارغونې او تقویې ته اړتیا پیداکوي:

- د زلزلې د واقع کېدو په حالت کې
- د یوې پېښې د وقوع په صورت کې لکه: ټکر، اورلګیدنه، چاودنه او نور...
- له ساختمان څخه د ګټې اخېستنې تغیر په صورت کې
- په کوډ کې د زیاتو تغیراتو (باد، زلزله او نور) راتللو په صورت کې

ب- ولې ساختماني عنصر تقویه کوو

د ساختمان د بیارغونې او تقویه کولو پرېکړه یواځې هغه مهال ترسره کیږي چې د مسلکي انجېنري ټیم لخوا له ساختمان څخه لیدنه ترسره شي، یاده پرېکړه د ساختمان ارزښت، ګټې اخیستنې او مصارفو ته په کتو د حل مختلفو کړنلارو ارزولـو وروسته ترسره کیږي. رودریګـویز پارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

[10] Rodriguez Parkعالم چې زیاتره څېړني یې په زلزله لرونکو سېمو (بلکان، جاپان، مکسیکو، پیرو او امریکا متحده ایالاتو) کې د اوسپنیز کانکریټو په بیا رغونه کې ترسره کړي، د مصارفو او ګټې اخیستنې تحلیل پر بنیاد په ۱۹۸۵ میلادي کال د مکسیکو په هېواد کې د شوې زلزلې وروسته ځینې ساختمانونه بیاترمیم او تقویه کړل چېد بیا رغونې د مصارفو درې یا څلور چنده ارزښت یې درلود.

ج - د بیا رغونې او تحکیم کارې څرنګوالی

د بیارغونې او تحکیم کارې کړنلارې ټاکل د ساختماني عناصرو په ځانګړتیاوو پورې اړه لري. په ۱۹۸۱ میلادي کال کې د سوګانو[12] Sugano لخوا په چاپان هېواد کې د زلزلې په وړاندې د تحکیم کارې یوه څېړنیزه مقاله خپره شوه، چې وروسته بیا په ۱۹۶۸ میلادي کال کې د ټوکاچای – اوکای Tokachi-Oki لخوا هم تعقیب شوه، د لیکوال په وینا د تحکیم کارې د ستراتیژۍ هدفونه کولای شو چې په لاندې برخو ووېشو:

- د افقیقواوو په وړاندې د ساختمان د مقاومت زیاتوالی
- د پاڼې کېدو قابلیت (Ductility) زیاتوالی
- یا هم دواړه حالتونه همزمان

همدارنګه د اوسپنیز کانکریټي ساختمانونو د تحکیم کارې تخنیکونه کولای شو په لاندې برخو ووېشو:

- د نویو عناصرو اضافه کول
- د موجوده عناصرو تحکیم کول

اګیولر او همکارانو [2] .Aguilar et al په ۱۹۸۹ میلادي کال کې د ۱۱۴ اوسپنیز کانکریټیودانۍ چې په ۱۹۸۵ میلادي کال د مکسیکو په هېواد کې د شوي زلزلې له امله تخریب شوې دي، یوه احصایوي څېړنه ترسره کړي چې پر بنأ یې تر ټولو مناسبه کړنلاره اوسپنیز کانکریټي دیوالونه (Shear walls)او پایو ته د اوسپنیز کانکریټي پوښښونو اضافه کول ښودل شوي دي.

بیا رغونه، تقویه کول او یا په یو وخت کې د دواړو ترسره کول

۱--د اوسپنیز کانکریټي ساختماني عناصرو بیارغونه: د اوسپنیزو کانکریټي عناصرو بیارغونه د هغې هڅې او عمل څخه عبارت ده، چې په اجرأ کولو سره مات یا وراسته شوي ساختماني عناصرو مقاومت او شخي لومړني حالت ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رازمایریز او همکارانو [9] .Razmirezي یوه تجربوي څېړنه خپره کړي چې په کې د سطحي بیارغونه او ساختماني بیا رغونه په واضح ډول تعریف شویده، سطحي بیارغونه د هغې رغونې څخه عبارت ده چې د عنصر مقاومت د لس سلنې څخه کم له منځته تللی وي او که چېرې مقاومت د لس سلنې څخه زیات له منځه تللی وي نو د ساختماني بیارغونې په نوم یادیږي.

د پورتنۍ نظریې په تعقیب که چېرې د اوسپنیز کانکریټي عناصرو یواځې سطحي مواد لرې او بیا جوړ شي نو دغه ډول بیارغونه د سطحي بیارغونې په حالت کې صورت موندلی شي (پلاستر کاري، رنګ او نور...)، چې په دغه حالت کې د عناصرولومړنۍ اساسي ځانګړتیاوې منځته نه راځي.

۲--د اوسپنیز کانکریټي عناصرو تقویه کول: د اوسپنیز کانکریټي عناصرو تقویه کول کولای شو داسې تعریف کړو،چې هغه عمل څخه عبارت ده چې په اجرأ کولو سره د ساختماني عنصر په لومړنۍ وړتیا کې زیاتوالی رامنځته شي. هغه مهال ورته اړتیا پیدا کیږي چې ساختماني عناصرو یو د پورته ذکر شویو لاملونو په اساس ساختماني ماتېدنه کړي وي.

۳--په یو وخت بیارغونه او تقویه کول: که چېرې ساختماني عناصرو مات او یا خوسا شوي وي، نوپر بیا رغونې علاوه تقویه کېدنې ته هم اړتیا ده چې باید ترسره شي. لومړی باید د تقویه کولو پروسه ترسره او بیا د بیارغونې کارونه بشپړ شي.

د اوسپنیزې کانکریټي پایې د پوښښ جوړونې مرحلې

د تقویه کولو دغه کړنلاره د نورو هغو کړنلارو په نسبت چېرې چې فولادي عناصر په کې استعمالیږي، برعکس زیات کاري تخصص ته اړتیا نه لري او هر هغه شخص یا کمپني چې د نویو فولادي ساختمانونو د جوړیدو وړتیا لري په اسانۍ سره کولای شي چې اوسپنیز کانکریټي پوښښ جوړ کړي.

نظر مختلفو فکتورونو ته دغه کړنلاره په لاندې ډول تشریح کوو:

- د سلب څخه د طولي فولادي سیخانو تېریدل او نښلول
- د کانکریټي سطحو اماده کول
- د اضافه شویو عرضی سیخانو تر منځ فاصلې ټاکل
- د کانکریټ اچول

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **د طولي سیخانو اچول او د اساس سره نښلول**

اوسپنیز پوښښ په مرسته تقویه کول د فولادي مایلو عناصرو (Steel bracing) او اوسپنیز کانکریټي دیوالونو(Shear Walls) په نسبت دا غوره والی لري چې پوښښ د عنصر سختي او مقاومت په متجانس ویشلې ډول سره زیاتوي او د ساختمان سره د قواوو په زغملو کې کومک کوي. دغه ډول کلکیدني لپاره باید نوی تهداب جوړ کړل شي او یا هم طولي اچول شویو سیخانو باندې د پخواني اصلي تهداب سره په منظم ډول وصل کړل شي.

د تهداب سره د نویو اچول شویو سیخانو د تحکیم کولو لپاره په مارکیټ کې مختلف ډوله نښلوونکې (کلک کوونکې) مواد شتون لري، لومړی باید په ښه شان سره په تهداب کې سوري وکړل شي، سورې پاک کړل شي او د سیخانو د وصل کیدو کړنلاره یې په مؤثر ډول ترسره شي.

۳- شکل (د پوښښ طولي سیخانو ښوئیدنه)

جیولایو[7] Julioد یوې پایې چې د اوسپنیز پوښښ په مرسته تحکیم کړل شوي وه تر څېړنې لاندې ونیوله،پداسې حال کې چې د اوسپنیز کانکریټي پوښښ طولي سیخان د پایې اساسي تهداب سره د ایپوکسی سریخ (Epoxy resin) په واسطه کلک کړل شوي وو. پایه د مونوتونیک ازموینې په واسطه چې ثابت محوري فشاري قوه ، زیاتیدونکي انحنایي مومنټ او غوڅوونکي قوې تر اثر لاندې وازمایل شوه، چې په پایله کې د پایې اصلي سیخان ویجاړ او د پوښښ سیخانو د تهداب سره د اتصال په برخه کې ښوئیدنه رامنځته شوه، چې نمونه یې په (۳- شکل) کې ښودل شوې ده.

همدا ډول ورته نمونه د کششي قواوو تر اثر لاندې هم وازمایل شوه، او د دواړو نمونو په پایله کې په ډاګه شوه چې عمده مشکل د پوښښ په طولي اچول شویو سیخانو کې وو چې په سم ډول ورته سوري شوي نه وواو په سم ډول سره پاک شوي هم نه وؤ. د هوأ په مرسته د سورېو پاکول تر ټولو غوره کړنلاره ده تر څو سیخان د ښه نښلیدو وړتیا پیداکړي او د کشش په وړاندې د ښوئیدني څخه وژغورل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **د سلب څخه د طولي سیخانو تېریدل**

که چېرې د منزلونو تر منځ د اوسپنیز پوښښ تسلسل ضروري وي، نو د سلب سوري کول او د هغې څخه د طولي سیخانو تېریدل اړین دي. د سلب پایې ساختماني سیستم په صورت کې د پوښښ طولي سیخانو لپاره د سلب سوري کولو کار اسانه او په وړاندې یې خنډ شتون نه لري مګر د بیم پایې په صورت کې د سلب سورې کولو په وړاندې بیم ستر مانع او خنډ شمېرل کېږي، د دې لپاره چې د سیخانو د غوڅیدو مخنیوی شوی وي نو طولي سیخان یواځې د پوښښ په کونجونو کې ځای پر ځای کوو. نوموړی تخنیک هغه مهال د پلیکېدو وړ دی، چې د پایې عرضي تشنجاتو مقاومت، پاڼې کېدو قابلیت لوړیدل مطلوب وي، د پایې او پوښښ تر منځ آزاده فاصله باید شتون ولري.

- **د تماس د سطحې تیارونه**

کومې څېړنې چې د اوسپنیز پوښښ جوړونې په برخه کې تر سره شوي، د تماس سطحې په اماده کولو باندې زیات ټینګار شویدي. تر څو وکولای شو د دوو سطحو تر منځ قوي اتصال رامنځته کړو او دواړه سطحې د یو واحد جسم په شان د قواوو په مقابل کې مقاومت وښايي. اوسنۍ عملي کړنلارې په اکثره هېوادونو کې د اساسپایې د تماس سطحې د اصطکاک زیاتوالیاو ورپسې د نښلوونکو موادو کارونه او په ځینو حالاتو کې اوسپنیز اتصالات هم په پام کې نیول کېږي.

- **د تماس سطحې د اصطکاک زیاتوالی**

د تماس سطحې د اصطکاک زیاتوالي لپاره مختلفې کړنلارې استعمالېږي لکه د لاس په مرسته چک کول، د شګو ویشتلو کړنلاره، جیک ځیټک، بریښنائي ځیټک، اوسپنیز برش، اوبو وینځلو کړنلاره اونور. زیاتره څېړونکو په خپلو څېړنو کې ویلي چې د سطحو اماده کول او پاک کول اړین دي، مګر اغیزې یې د پام وړ ندي.

- **د کانکریټ اچونې وړاندې د سطحې اوبول یا اوبه ورکول**

د اوسپنیز کانکریټي پایو د سطحو اوبولو لپاره مختلف نظریات په ساختماني کوډونو او لارښود کتابونو کې ورکړل شویدي. AASHTO-AGB-ARTBA یوه امریکائي اداره ده چې د سطحو اوبولو لپاره یې داسې لارښوونه کړې،چې تازه کانکریټ اچونه دې د وچې سطحې پر مخ واچول شي په استثنأ د ګرمې او وچې هوا (د اوړې په ګرم موسم کې). مګر د کاناډا معیار جوړونې ادارې د A23.1 معیار له مخې د پوښښ تازه کانکریټ اچولو لږ تر لږه څلورویشت ساعته د مخه باید د پایو سطحو ته اوبه ورکړل شوي دي. ایمونز [5] Emmons د څېړنې له مخې د سطحو د رطوبت کچه یو بحراني حالت دی، تر څو وکولای شو د نښلیدو غوره کیفیت لاسته راوړو. مطلقې وچې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سطحي د تازه اچول شویو موادو څخه په زیاته اندازه اوبه جذبوي،چې د زیات غونجیدو او هم د نښلوونکو موادو د کیمیاوي تعامل لپاره اړینو اوبو د کموالي سبب ګرځي. همدا ډول د سطحي رطوبت په زیاتیدو سره سوري د اوبو په واسطه ډکیږي چې په پایله کې سوریو ته د نښلونکو موادو د نفوذ مخینوی کوي، تر ټولو غوره یې د وچو سطحوحالت ښودل شوی دی.

- د سریخناکو موادو اچول

د ترمیماتي موادو (پوښښ) او د کانکریټي سطحو ترمنځ د اتصال لپاره په ځینو نښلوونکو موادو څېړنې ترسره شوي او خپرې شوي دي، چې ترلاسه شوي پایلې یې د مختلفو لیکوالانو په واسطه تل یو شان ندي[11,3] او پایلې یې هم د زیات تفاوت له امله د پرتله کولو وړ ندي.

- د فولادي اتصالاتو اچول

۴- شکل (د تماس سطحي لپاره فولادي سیخانو نصب

د فابریکه ئی ګانکریټي ګاډرونو او په ساحه کې جوړ شویو کانکریټي سلبونو په حالت کې د فولادي اتصالاتو استعمال ډېر اړین دی. دا خبره په زیاتره ساختماني کوډونو او لارښود کتابونو کې ذکر شوي ده. [8, 1, 6]

جیولایو او ملګري Julio et al. [7, 8] د سطحو نښلیدنې مقاومت لپاره د فولادي اتصال د اثر لپاره کششي ازموینه ترسره او تحلیل یې وړاندې کړی(۴--شکل).

اووه نمونې چې مختلف ډوله سطحیي ترتیب شوي تر تجربې لاندې نیول شویدي، او داسې پایلې ته ورسیدل چې فولادي اتصالات کوم چې د سطحي څخه تېرېږي په مؤثر ډول د نښلولو وړتیا نه زیاتوي مګر د طولي غوڅوونکي مقاومت او ښوئیدنې مقاومت زیاتوي.

د اوسپنیز کانکریټي پوښښ د جوړښت ترتیب

جیولایو Julio[7] د سالمو اوسپنیزو کانکریټي پایو نمونې چې د اوسپنیز کانکریټي پوښښ پواسطه تقویه شوي وي د یکوانخت او دورانیقواوو تر اغېزي لاندې ازموینه ترسره کړه. د تماس سطحو مختلف ډولونه یې تر څېړنې لاندې ونیول، ساده پایه (یو ریخت موډل)، تقویه شوي پایه چې د تماس سطحیي نه وي اماده کړل شوي، تقویه شوي پایه چې د تماس سطحیي اماده شوي وي، هغه نمونه چې د تماس سطحي د ښه وصل لپاره سیخ کارول شویوو او هغه نمونه چې د سطحو د تماس لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې سریښناکي ژاولي کارول شوي وي او پوښښ په مصنوعی ډول ورته اچول شویؤ، د تجربې پایلې دا په ډاګه کړي چې اکثره نموني د وارده یکوانخت او دوراني قواوو پر وړاندې یکنواخت خواص درلودل.

د پورتنۍ څېړنې پایلې د هغه عملي کړنو چې په مختلفو هېوادونو کې د پایې د تقویه کولو لپاره ترسره کېږي مخالفت په ډاګه کوي او ثابتوي چې د سالمو پایو لپاره د تماس سطحې ترتیب او جوړلو ته اړتیا نه لیدل کېږي. یاده څېړونکي دا هم ثابته کړه چې لنډې پایې د پوښښ سره ښه اتصال پیدا کوي.

بیټ او همکارانو Bett et al. [4] د بیارغونې او تقویه کولو مختلفو کړنلارو مؤثریت پر لنډو اوسپنیز کانکریټي پایو چې د عرضي قواوو تر اغیزې لاندې واقع وي تر مطالعې لاندې ونیولې، چې په پایله کې تر ټولو زیات مقاومت اوسپنیز کانکریټي پوښښ درلودلو.

ـ د عرضي سیخانو تر منځ فاصله

ګومیز او اپلیټون Gomes & Appleton [6] د محوري او دوراني قواوو د عمل په صورت کې د اوسپنیز کانکریټي پوښښ د عرضي سیخانو مختلف مقدار ارزوني لپاره یې نموني جوړې او تر ازموینې لاندې یې ونیولې، چې د هرې نموني ځانګړتیاوې د قواوو د عمل په صورت کې ترلاسه او ثبت کړلې. په پایله کې هغه نمونه چې د عرضي سیخانو اندازه یې زیاته وه د لوړ مقاومت او یو ریخت ځانګړتیاوې یې زیاتې وې، دوی داسې وړاندېز وکړ چې د اوسپنیز کانکریټي پوښښ د عرضي سیخانو تر منځ فاصله باید د اساسي پایې د عرضي سیخانو د فاصلې نیمایي غوره کړل شي.

ـ د ساختماني عناصرو لپاره لنډ مهاله اتکاء

د ساختماني عنصر د تقویه کولو او بیارغونې لپاره تر ټولو مهم د ساختماني عنصر د تقویه کولو تکنالوژي ده، چې څنګه یې جوړ کړو. د ساختماني وزن زغمونکي عناصرو او وزن نه زغمونکي عناصرو د تقویه کولو تر منځ د پام وړ توپیر شتون لري. په لومړي حالت کې هڅه کېږي چې د ټولو قواوؤ د برداشت مسؤلیت اوسپنیز پوښښ په غاړه لري، مګر په دویم حالت کې اوسپنیز کانکریټي پوښښ او پایه یو ځای د قواوو د برداشت مسؤلیت په غاړه لري. که چېرې د ساختماني عناصرو د تقویه کولو حل لاره د ډیزاین انجینر لخوا دویم حالت (غېرې وزن برداره) ثابت کړل شو نو په اسانۍ سره لنډمهاله ساده قالبندي د پوښښ لپاره ترسره کېږي او که چېرې تقویه کوونکي غناصرو وزن برداره ثابت کړل شو نو د هایدرولیکي جیکونو څخه استفاده کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د پوښښ کانکریټ اچونه

په عادي ډول د اوسپنیز کانکریټي پوښښ لپاره د جغل اعظمي اندازه 2cm ښودل شوي چې سبب یې د پوښښ په داخل کې د سیخانو اچولو له امله د فاصلې کمښت ښودل شوی، بل علت یې دا دی چې اکثره وخت په کانکریټي پوښښ کــې خپله تخته کېدونکي کانکریټ Self-Compacting Concrete**کارول کیږي. او هم د دې لپاره چې د پوښښ ضخامت راکم کړل شي نو لوړ مقاومت لرونکي کانکریټو څخه استفاده کیږي. د لوړ مقاومت لرونکي کانکریټ په ترکیب کې سلیکا-فیوم** Slica Fume **کارول کیږي، چې د مداومت یا لوړو ځانګړتیاؤ درلودونکي کانکریټو په نوم هم یادیږي. د دې لپاره چې د پایې کانکریټ معمولاً زاړه وي نو داسې توصیه کیږي چې پوښښ لپاره استعمال کېدونکي کانکریټ باید زیاته غونجیدنه ونه کړي. همدا ډول جیولایو او همکارانو** Julio et al **څېړونکو د تازه اچول کېدونکو کانکریټي موادو اغیز د کانکریټي پوښښ او پایې د تماس سطحو لپاره ترسره کړی، چې د لوړ مقاومت لرونکي کانکریټ د تماس سطحې اړیکه تقویه کوي چې په نتیجه کې پایه او پوښښ د یو ریخت عناصرو په ډول کار کوي.**

مناقشه

اوسپنیز کانکریټي پوښښ د نورو تقویه کوونکو کړنلارو په پرتله د پایې مقاومت او سختي په متجانس ډول سره لوړوي او همدا ډول د عناصرو عمر (مداومت) هم زیاتوي. د پورته عواملو په اساس ویلای شو چې پوښښ تر ټولو غوره کړنلاره ده. د ساختمان د نورو تقویه کوونکو تخنیکونو په شان د اوسپنیز کانکریټي پوښښ په مرسته تقویه کړل شوي پایې ساختماني خواص هم د کړنلارې د ترسره کولو په غوره تشریح پورې تړاو لري. د دغه کړنلارې د غوره ترسره کولو لپاره لاندې مرحلې په پام کې نیول کیږي.

- **فولادي اتصالاتو نصب کول: که چېرې پایه لنډه او د دورانې قواوو تر اغیز لاندې واقع وي نو د مقاومت او سختی د لوړولو لپاره فولادي اتصالات باید په پام کې ونیول شي.**
- **لنډمهاله اتکاء: لنډمهاله اتکاء باید په داسې ډول عملي شي چې پوښښ په اساسي پایه د وارده بارونو یوې برخې د برداشت مسؤلیت په غاړه واخلي، نه یواځې د اضافه کېدونکو بارونو.**
- **د پوښښ د طولي سیخانو وصل کول: طولي سیخان باید د پایې د تهداب او یا پوښښ ته نوي جوړ شوي تهداب سره کلک کړل شوي وي. د پایې تهداب سره د اتصال لپاره باید په تهداب کې د برمې په مرسته سوري جوړ شي او بیا د هوأ یا فشاري اوبو په مرسته پاک کړل شي او بیا د ایپوکسی سریښو** (Epoxy resin) **په مرسته په سوریو کې نصب کیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د منزلونو تر منځ د طولي سیخانو تسلسل: د پوښښ د طولي سیخانو د تېریدلو لپاره باید په سلب کې سوري وکیندل شي. مګر که چېرې یواځې د پایې د غوځیدنې او الاستیکیت مقاومت زیاتیدنه مطلوب وي نو بیا د سلب څخه د سیخانو تېریدلو ته اړتیا نشته، مګر دغه حالت کې د پوښښ او پایې تر منځ خلا رامنځته کول غوره دي.
- د طولي سیخانو موقعیت: طولي سیخان باید په مساوي ډول د پوښښ د مقطع په ټولو برخو کې وویشل شي. که چېرې د ځینو عواملو لکه بیمونو او نورو موانعو شتون له امله په مساوي ډول ویشل امکان ونه لري نو کوښښ باید وشي چې سیخان داسې ځای پر ځای شي چې په کونجونو کې د زیات انحنایي مومنټ مخنیوی وکړي.
- د عرضي سیخانو ځای پر ځای کول: د دې لپاره چې پایه او پوښښ د یو واحد ساختماني عناصرو په شان د وارده قواوو پر وړاندې عکس العمل ولري نو د پوښښ د عرضي سیخانو تر منځ فاصله د اساسي پایې د عرضي سیخانو نیمایي ثابته شوي ده.
- کانکریټ اچونه: معمولاً په تقویه کوونکو پوښښونو کې په خپله تخته کېدونکي کانکریټ کارول کیږي، نو باید تازه کانکریټ داسې ډول ډیزاین کړل شي چې په زیاته اندازه غونجیدنه ونکړي. لوړ مقاومت او زیات عمر لرونکي کانکریټ کارول کیږي.

پایله

د څېړنې پایله دا په ډاګه کوي چې اوسپنیز کانکریټي پوښښ د پایې مقاومت او شخي، مداومت او د اور په مقابل کې مقاومت اضافه کوي. اوسپنیز کانکریټي پوښښ نسبت نورو تقویه کوونکو کړنلارو ته اقتصادي، اسانه او لوړ مقاومت لرونکي دي، چې د ترسره کولو لپاره یې زیات فني کسانو او لوړې تکنالوژۍ ته اړتیا نه لیدل کیږي. د تماس سطحې تیارول، د طولي سیخانو لپاره په تهداب کې سوري کول او سریښناکو موادو کارول اړین دي. لوړ مقاومت لرونکي کانکریټ باید د پوښښ په جوړولو کې وکارول شي.

Abstract

Retrofitting is a technique to enhance the structural capacities such as the strength, stiffness, ductility, stability, and integrity of a building that is found to be deficient or vulnerable. It can effectively raise the performance of a building against earthquake and other loads to a desired level, and to even satisfy the requirements of an upgraded

(c) ketabton.com: The Digital Library

design seismic code. The building need not be deteriorated or damaged. The purpose of this paper is to study the behavior and efficiency of reinforced concrete columns strengthened byreinforcement jacket.

Most of the research and expert professional have studied experimentally and have and covered to find out effective way and arrangement of this strengthening technic. Size of the steel bars, arrangement of longitudinal bars and how to bond it, strip spacing, types of RCC concrete use in Jacket, formwork, and temporary support if needed and also the surface preparation are the parameters which are used in the studies.

Keywords - Concrete Jacketing, Structural Properties of member, Repairing, Strengthening

ماخذونه

[1] ACI 318-95. Manual of concrete practice, Part 3: Use of Concrete in Buildings Design, Specifications and Related Topics 1996.

[2] Aguilar J, Juarez H, Ortega R & Iglesias J. The Mexico earthquake ofSeptember 19, 1985. Statistics of damage and retrofitting techniques in reinforcedconcrete buildings affected by the 1985 earthquake. Earthquake Spectra 2006: 5(1):145–151.

[3] Austin S, Robins P & Pan Y. Tensile bond testing of concrete repairs. Materials and Structures 1995: 28: 249–259.

[4] Bett BJ, Klingner RE & Jirsa JO. Lateral load response of strengthened and repaired reinforced concrete columns, ACI Structural Journal 2003: 85(5): 499–508.

[5] Emmons PH. Concrete Repair and Maintenance. Part 3: Surface Repair, Section 6: Bonding Repair Materials to Existing Concrete. RS Means Company, MA: 2001: 154–163.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[6] Eurocode 2, Env 1992-1-3:1994. Design of Concrete Structures. Part 1-3: {General Rules} Precast Concrete Elements and Structures CEN, 1994.

[7] Hellesland J & Green R. Tests of repaired reinforced concrete columns,Journal of the American Concrete Institute, December 2010: 770–774.

[8] Julio ES, Branco F & Dias da Silva V. A influencia da interface no comportamento de pilares reforc¸ados por encamisamento de betao armado. Proceedings of the Congresso Construc¸a˜o 2001, IST, Lisbon, 17–19 December 2001: 1: 439–446

[9] Ram2rez JL, Barcena JM, Urreta JI, de Val B & Aurrekoetxea JR.Repair of concrete columns with localized partial loss of corners or coverProceedings of the Conference on Structure Faults and Repair, Edinburgh, 2004: 195–203.

[10] Rodriguez M & Park R. Repair and strengthening of reinforced concretebuildings for earthquake resistance. Earthquake Spectra 2004: 7(3): 439–459.

[11] Saucier F & Pigeon M. Durability of new-to-old concrete bonding.Proceedings of the ACI International Conference on Evaluation and Rehabilitation ofConcrete Structures and Innovations in Design, Hong Kong, 2000: 1: 689–707.

[**12]** Sugano S. Seismic strengthening of existing reinforced buildings in Japan.Bulletin of the New Zealand National Society for Earthquake Engineering 2000: 14(4):209–222.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنیار ذاکرالله ذکي
شیخ زاید پوهنتون
شرعیاتو پوهنځی
فقه اوقانون څانګه
اړیکه:۰۷۶۶۷۰۰۷۰۸

دړیرې حکم داسلامي شریعت له انده

لنډیز

اسلام تر ټولو دینونو کامل او بشپړ دین دی،چې تر قیامته پورې به جاري وي او نه منسوخ کېدونکی دی، نو فلهذا د انسانانو د هر ډول کمیابۍ ژمنه یې کړې ده، ړیره چې د انسانانو ښکلا ده او د سړیتوب نښه ده په قرآني ایاتو او نبوي احادیثو سره یې اثبات شوی دی ړیره د نبي (صلی الله علیه السلام) داسې اهم سنت دی، چې ټولوانبیاوو علیهم السلام، صحباوو او سلفو صالحینو پریښني ده او هېڅ یو پکې ړیره خریلې نه ده.

موخې

له همدې مقالې څخه مې موخې په لاندې ډول دي:

۱-لوستونکي به د نبوي سنتو په لړ کې د مهم او اړین سنت (ړیرې) په حکم په بشپړه توګه پوه شي.

۲- لوستونکي به د ړیرې د خریلو په جزا پوه شي .

۳- لوستونکي به د ړیرې درلودلو په حکمت پوه شي .

د موضوع اهمیت

په نننۍ اسلامي ټولنه کې باید د ټولنې ځوانان د ړیرې په اهمیت باندې پوه او خبر شي د ړیرې پرېښودل د انبیاوو علیهم السلام سنت طریقه ده او خریل یې د انبیاوو علیهم د سنتو پر خلاف عمل دی .

د بحث منهج او تګلاره

ما د خپل تحقیق او څېړنې په اوږدو کې داسې تګلاره غوره کړې ده،چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې لومړی د الله (جل جلاله) سپیڅلي کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې،ورپسې مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې، همدا راز د څېړنو په اوږدو کې مې د قرآن کریم او نبوي سنتو د پلټنې وروسته د فقهي هغو مستندو، معتمدو او د اعتبار وړ مأخذونو ته مراجعه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

حامد ا ومصلیا و مسلما اما بعد

اسلام تر ټولو دینونو کامل او بشپړ دین دی، چې تر قیامته پورې به جاري وي او نه منسوخ کېدونکی دی، نو فلهذا د انسانانو د هر ډول کمیابی ژمنه یې کړي ده، ړیره چې د انسانانو ښکلا ده او د سړیتوب نښه ده په قرآني ایاتو او نبوي احادیثو سره یې اثبات شوی دی ړیره د نبي (صلی الله علیه السلام) داسې آهم سنت دی، چې ټولو انبیانوو علیهم السلام، صحباوو او سلفو صالحینو پرېښي ده او هیڅ یو پکې ړیره خریلې نه ده، د بېلګې په ډول کله چې موسی علیه السلام له طور غره را وګرځیده او قوم یې د خوسکي عبادت پیل کړی و، نو هارون علیه السلام ته غصه شو، چې تا ولې نه منع کول نو له سر او ړیرې څخه ونیوه چې حکایت الله تعالی داسې کوي: (قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي)[سورة طه:٩٤]

ژباړه: هارون (علیه السلام) وفرمایل آ زما د مور زویه : مه نیسه ړیره زما او نه ویښتان د سر زما [٢٢٣:٨]

په حدیث کې یې هم د پرېښودلو امر شوی دی :عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " خَالِفُوا المُشْرِكِينَ: وَفِّرُوا اللِّحَى، وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ " وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ: «إِذَا حَجَّ أَوِ اعْتَمَرَ قَبَضَ عَلَى لِحْيَتِهِ، فَمَا فَضَلَ أَخَذَهُ»[٣: ١٦٠]

ژباړه: ابن عمر (رضی الله تعالی عنه) روایت کوي د نبي (صلی الله علیه السلام) چې هغه وفرمایل د مشرکانو خلاف وکړئ، چې ړیرې اوږدې کړئ او بریتونه لنډ کړئ. ابن عمر به چې کله حج یا عمره کوله،نو په ړیره به یې په موټي کې قبضه کړه نو کومه ړیره چې له موټي اوتله هغه به یې لنډه کړه.

نو غواړم،چې په مختصر کلماتو سره پرې بحث وکړم.

ومن الله التوفیق

د ړیرې لغوي او اصطلاحي پېژندنه

لِحْيَة په لغت کې مفرد دی ، چې جمع یې لُحًى ولِحًى چې په زنه او د زنې یوې بلې خوا اننګیو باندې ولاړو ویښتانو ته ویل کیږي.[٣: ٢٠٠٣]

د فقهاؤ په اصطلاح کې یې داسې تعریف شوی دی:وَظَاهِرُ كَلَامِهِمْ أَنَّ الْمُرَادَ بِهَا الشَّعْرُ النَّابِتُ عَلَى الْخَدَّيْنِ مِنْ عِذَارٍ وَعَارِضٍ وَالذَّقَن. [١: ٧٤]

ژباړه: ړیره له مخ د هغو ویښتانو څخه عبارت ده، چې د مخ په طرفونو او په زنه را شنه شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ږیرې شرعي حیثیت

ږیره په اسلام کې اوچت او یو ځانګړی حیثیت لري او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په حدیثونو کې یې د پرېښودلو امر شوی دی، ږیره په انسانو کې د سړیو لپاره یوه فطري او خلقي ښکلا ده او د بلوغ نښه ده، نو کله چې کوم سړی له بلوغ څخه وروسته ږیره نه وي هغه ته د پښتو په ټولنه کې (کُوسه) ویل کیږي چې بیا همدا کس زیات بد لیدل کیږي او پر مخ باندې یې د وېښتانو راشنه کیدلو لپاره ډول ، ډول درملنې کوي، په قرآن کریم کې د ږیرې یادونه داسې شوې ده:

(قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي)[سورة طه:۹۴]

ژباړه: هارون (علیه السلام) وفرمایل آ زما د مور زویه : مه نیسه ږیره زما او نه وېښتان د سر زما [۱: ۲۲۳]

دا هغه وخت وشول، چې کله موسی (علیه السلام) د طور غره په طرف د الله تعالی په حکم مخه کړه او هارون (علیه السلام) یې د سرپرست په توګه پرېښود، نو بنی اسرایلو د مصر څخه د شام په لاره د خوسکي عبادت شروع کړ، خو کله چې حضرت موسی (علیه السلام) د طورغره څخه راستون شو او د خپل قوم د شرکي کړنو څخه خبر شو نو د ایمان د جوش له امله غصه شو او حضرت هارون (علیه السلام) یې د سر او ږیرې څخه ونیوه.

په قران کریم کې که څه هم د ږیرې یادونه یو ځای شوې ده البته په احادیثو کې یې زیات تفصیل شوی دی په حدیث شریف کې راځي د بېلګې په ډول:عَنْ عَائِشَةَ ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)" عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: قَصُّ الشَّارِبِ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ، وَالسِّوَاكُ، وَالِاسْتِنْشَاقُ بِالْمَاءِ، وَقَصُّ الْأَظْفَارِ، وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ، وَنَتْفُ الْإِبِطِ، وَحَلْقُ الْعَانَةِ، وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ - يَعْنِي الِاسْتِنْجَاءَ بِالْمَاءِ -، قَالَ زَكَرِيَّا: قَالَ مُصْعَبٌ: وَنَسِيتُ الْعَاشِرَةَ إِلَّا أَنْ تَكُونَ (الْمَضْمَضَةَ).[۴: ۱۴]

ژباړه: حضرت عایشه (رضی الله تعالی عنها) فرمایي، چې نبي (صلی لله علیه وسلم) فرمایي: لس شیان د فطرت څخه دي : بریت لنډول، ږیره اوږدول، مسواک وهل، پوزې ته اوبه اچول، د نوکونو لنډول، دګوتو منځونو مینځل، دتخرګونو وېښته اېستل، دزیرناف وېښته خریل او استنجاءکول یا پرتوګ ته د اوبو شیندل، زکریا فرمایي چې مصعب وفرمایل لسم مې هیر شوی دی خو غالبه دا ده، چې هغه خولې ته اوبه اچول دي.

یو بل حدیث کې راځي :عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) قَالَ: " خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ: وَفِّرُوا اللِّحَى، وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ " وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ: «إِذَا حَجَّ أَوِ اعْتَمَرَ قَبَضَ عَلَى لِحْيَتِهِ، فَمَا فَضَلَ أَخَذَهُ»[۳: ۱۶۰]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: ابن عمر(رضی الله تعالی عنه) روایت کوي د نبي (صلی الله علیه السلام) چې هغه وفرمایل د مشرکانو خلاف وکړئ، چې ږیرې اوږدې کړئ او بریتونه لنډ کړئ. ابن عمر به چې کله حج یا عمره کوله نو په ږیره به یې په موټي کې قبضه کړه نو کومه ږیره چې له موټي اوتله هغه به یې لنډه کړه.

په یاد شوي حدیث کې د ږیرې لنډلو دحرمت لامل په کوټه شو، چې هغه د مشرکانو سره مشابهت دی او مشابهت له کافرانو سره په یو بل حدیث کې په صراحت سره منع شوی دی: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ): (مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ).

[۴: ۴۴]

ژباړه: چا چې د کوم قوم سره ځان مشابه کړ،هغه به د قیامت په ورځ به د هغوی له ډلې څخه شمېرل کیږي.

لکه څه ډول،چې د ږیرې په خریلو کې د مشرکانو سره مشابهت دي همدا ډول د ښځوسره هم مشابهت دی،چې همدا مشابهت هم په حدیث کې منع شوی دی: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ):(أَنَّهُ لَعَنَ الْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ، وَالْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ).[۴: ۱۰۴]

ژباړه: حضرت ابن عباس (رضی الله عنه) روایت کوي چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په هغو ښځو لعنت وویلو، چې ځانونه د سړیو سره مشابه کوي او په هغو سړیو یې هم،چې ځانونه د ښځو سره مشابه کوي.

د لومړني حدیث څخه دا ثابته شوه ،چې ږیره یو فطرتي او خلقتي شی دی ، نو د فطرت خلاف کول د الله تعالی په تخلیق کې تغیر کول دي چې د شیطان له عملونو څخه بلل کیږي ، لکه څه ډول په قرآن کریم کې راغلي دي: (وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُبِينًا).[سورة النساء:119]

ژباړه: شیطان وویل: زه به امر وکړم خامخا دوی ته پس تغیر به ورکړي دوی خامخا پیدایښت د الله (جل جلاله) ته او هر څوک چې ونیسي شیطان دوست بې له الله(جل جلاله)؛ نو په تحقیق سره زیان یې وکړ په زیان ښکاره سره.[۸: ۵۳۷-۵۳۸]

نو تفسیر قرطبي کې دي .چې د ږیرې خریل هم په د الله تعالی په پیدایښت کې داخل دي، د الله تعالی په پیدایښت کې تغیر کول لویه ګناه ده.[۷: ۳۹۳]

څرنګه چې الله تعالی هر نارینه ته فطرتًا د ږیرې خلقیت ورکړی دی، نو کوم خلک، چې خپله ږیره خریي هغوی د شیطان په لمس فقط خپله ږیره نه خریي بلکې خپل فطرت مسخه کوي.

د انبیاوو (علیهم السلام) طریقه د صحیح فطرت تقاضه او انساني معیار دی ځکه چې د فطرت څخه مراد د انبیاوو (علیهم السلام) طریقه نه بلکې د هغوی سنت هم دي نو بناءً ویلی شو، چې د بریتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لندول او د ړیرې وړدول د ټولو انبیاو (علیهم السلام) متفق سنت دي او دا هغه مقدس جماعت دی، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم)ته د دوی د اقتداء حکم شوی دی لکه چې الله تعالی فرمايي:(أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ قُلْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَى لِلْعَالَمِينَ)

[سورة انعام:٩٠]

ژباړه: دغه انبیاوو هغه کسان دی چې هدایت کړی الله تعالی دوی ته نو په طریقه د دوی اقتداء وکړه (ای! محمده) ووایه چې نه غواړم له تاسې په دغه تبلیغ څه اجر(مزدوري) نه د دغه قرآن مګر یوازې ذکر(وعظ) دی لپاره د ټولو عالم.[٨: ٧٧٨]

د ړیرې خریلو پیل او د خریلو لاملونه

الله تعالی د لوط (علیه السلام) قوم د کومو ګناهو په سبب هلاک کړی و هغه ګناه الله تعالی خپله په قرآن کریم کې ذکر کړې ده، چې هغه لواطت (یعني د نارینه هلکانو بدفعلي) دی لکه چې الله تعالی فرمايي: (إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِنْ دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُسْرِفُونَ) [الأعراف: ٨١]

ژباړه: تاسې ښځې پرېږدی له نارینه و سره خپله غریزه مړوئ حقیقت دا دی، چې تاسې بې له حده تیرېدونکي خلک یاست .

او د نورو ګناهونو ذکر یې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دی دا ړیرې ولې دوی خریلې؟ د دې لامل دا و، چې دې خلکو کې د هلکانو سره د بدفعلۍ عمل ډېر زیات و کومو خلکو به، چې دا کار کاوه هغوی به ړیرې خریلې ترڅو دوی ته د خلکو میلان همداسې جاري وي.[١١: ٢٥]

دفساد پر وخت په یو سنت عمل کول

په داسې وخت کې چې خلک فساد لاندې کړي وي او د اسلام طریقې ته یې شا کړي وي او د شیطان د پلانونو په لومو کې ښکار شوي وي او د نبي (علیه السلام) سنت لباس ځان لپاره بد بولي د کافرانو لباس او څیره د ځان لپاره ښایست بولي او د اسلام غیرتي شکل د ځان لپاره پېغور ګڼي، نو په داسې وخت د نبي (علیه السلام) په یو سنت عمل کول د یو شهید اجراو ثواب لري لکه چې ابی هریره (رضی الله عنه) روایت کوي، چې رَسُولُ اللَّهِ (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)فرمايي(مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِي عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِي فَلَهُ أجر مائَة شَهِيد).

[١٠: ٦٢]

ژباړه: چا چې زما د امت د فساد پر وخت زما سنت باندې عمل وکړ نو د هغه لپاره د سل شهیدانو اجر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ږیرې اوږدوالي اندازه د فقهاوو له انده

د ږیرې څخه زیاتو اوږدو وېښتانو په مورد مخکې یادونه وشوه چې وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ: «إِذَا حَجَّ أَوِ اعْتَمَرَ قَبَضَ عَلَى لِحْيَتِهِ، فَمَا فَضَلَ أَخَذَهُ» نو د ږیرې د وږدوالي په اندازه کې د فقهاوو مختلف نظریات دي، چې په لاندې ډول یې یادونه کوو:

ابن حجر فرمايي، چې د ابن عمر همدا کړنه چې د ږیرې څخه د زیاتو اوږده وېښتان به یې نه دا، چې یوازې د حج او عمرې پروخت لنډول بلکې همیشه به یې لنډول، امام طبري ویلي دي، چې ځینې خلکو ظاهر د حدیث راخیستی او کمول دږیرې د طول او عرض څخه مکروه بولي او ځینې ویلي دي، چې د یوې لوښتې څخه د زیاتې ږیرې لنډول پروا نه کوي نو امام طبري په خپل سند سره د ابن عمر څخه روایت کړی دی، چې هغه به داسې عمل کولو چې د ږیرې د یوې لوښتې (یوموټي) څخه زیاته برخه به یې اخسته او د حضرت عمر (رضی الله تعالی عنه) څخه یې هم روایت کړی، چې هغه د یو سړی ږیره په قبضه برابره کړه او د ابو هریرة (رضی الله تعالی عنه) څخه یې هم روایت کړی، چې هغه د قبضې څخه زیاته ږیره برابروله او له جابرڅخه روایت شوی دی چې هغه فرمایلي دي موږ ږیرې په هر وخت کې په خپل حال اوږدې پرې ښودې مګر حج او عمره کې نه (چې قبضه کولې مو) له دې وروسته امام طبري د علماو اختلاف په دې کې را نقل کړی دی چې له ږیرې څخه چې کومه اندازه اخېستل کیږي ایا د هغې لپاره اندازه شته او که نه؟ ځیني علماوو ویلي دي چې له موټي زیاته ږیره به اخېستل کیږي او له حسن بصري څخه را نقل شوي، چې هغه به طولاً او عرضًا ږیره لنډوله خو زیاته نه او ځینو نورو بیا د حج او عمرې له وختونو پرته په نورو وختونو کې د ږیرې لنډول مکروه بللي دي او له عطاء څخه روایت راغلی دی، چې که یو څوک داسې ږیره پرېږدي، چې دومره اوږده شي چې عرضًا او طولاً له خپله حده زیاته شي نو ځان به د خلکو په وړاندې مسخره کړي، عیاض وایي چې د ږیرې خریل او لنډول مکروه دي خو که چیرې ډېره اوږده وي او د طول او عرض څخه یې اخیستل غوره دي او یا دا چې په اوږدې او لنډې ږیرې سره شهرت مکروه دی خو امام نووي فرمايي چې د ږیرې په خپل حالت پرېښودل غوره دي البته که چېرته د ښځې ږیره یا برېتونه وشول نو خریل یې ورته مستحب دي.[۶: ۳۵۰-۳۵۱]

د ږیرې خریل د طب له نظره

په امریکایي ډاکترانو کې یو مشهور عیسایي ډاکتر (جارلس هومر) د یو لیک په ځواب کې چې ځینو منشیانو او د پوهنتونونو محصلینو ورلیږلی و او زور یې پرې راوړی و چې د بجلۍ یوه داسې ستنه ایجاد کړي چې دږیرې ویښته له بیخه وباسي چې بیا را شنه نه شي او د دوی هغه قیمتي وخت او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روپیو خرڅ محفوظ شي کوم چې د ږیرې په خریلو مصرفیږي، نو ده یې په ځواب کې داسې وویل: زما نه ځینې خلک د ږیرې خریلو لپاره د یو مشین ایجاد کولو غوښتنه کړې ده، چې په دې سره یې قیمتي وختونه وساتل شي لیکن زه نه پوهیږم چې خلک د ږیرې د نوم نه ولې ویریږي؟ دا خلک خو د سر ویښته لوی لوی پریږي نو د ږیرې په اوږدولو کې څه عیب دی؟ او کله چې د یو سړي د سر ویښته اوغورځیږي نو بیا ځان ته ګوري او ګنجی وي نو شرمیږي او عجیبه او د خیرانتیا خبره خو دا ده، چې خپل مخ په خپلو لاسونو ګنجی کوي او هیڅ شرم او پېښمانتیا نه محسوسوي، سره له دینه، چې ږیره د سړیتوب نښه ده او دا قوت مرداني هم زیاتوي او سیرت او امتیاز هم قوي کوي.

نو ډاکټر شیرعلی شاه مدنی (رحمه الله تعالی) لیکي : که یو څوک ږیره خریي او د هغه بچیان تر اومې پېړۍ پورې په همدې د ږیرې خریلو عادت باندې پاتې شي نو په اتمه پېړۍ کې به یې داسې پچیان پیدا شي چې د قوت مرداني نه به خالي وي یعنې د مانې ماده به پکې نه وي.[۷۸:۹-۷۹]

پایلې

د څیړنې په وخت موږ لاندې پیلې ته ورسیدلو

۱-ږیره د انساني فطرتونو څخه یو فطرت دی.

۲-ږیره د ټولو انبیاوو(علیهم السلام) سنت دي.

۳-د ږیرې پرېښودل په قرآني ایاتونو او نبوي احادیثو سره ثابت دي.

۴-ږیرې خریل د کافرانو خلکو عادت و.

۵-د ږیرې پرېښودل د طب له نظره ګټې لري او خریل یې زیان لري.

مناقشه

ایا :د ږیرې خریل د اسلام له نظره حرام عمل نه دی؟

دږیرې خریل داسلامي شریعت له انده حرام او ناروا عمل بلل شوی دی.

وړاندیزونه

۱- ددیني علماو، ښوونکو او استادانو له خوا د ږیرې احکامو په موخه عامه پوهاوی.

۲- د اسلام د پاک او سپیڅلي دین په ارشاداتو او د بشپړ اسلام پرځان منلو په لړ کې د بشریت ستر لارښود حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په ژوند کې د هراړخیزو سنتو پلي کول.

۳ -ملا امام او خطیبان دنده لري، چې په خپلوجوماتونو او نورو عاموځایونوکې خلک دږیرې خریلو په جزا پوه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مأخذونه

۱-قرآن کریم

۲-أحمد مختار عبد الحميد عمر (المتوفى: 1424هـ) (.الطبعة: الأولى، 1429 هـ - 2008 م). معجم اللغة العربية المعاصرةج۳،المكتبة الشاملة

۳-بخاري أبوعبدالله محمدبن إسماعيل.(الطبعة: الأولى،۱۴۲۲هـ).صحيح البخاري ج۷،المكتبة الشاملة.

۴-الجِسْتاني سليمان بن الأشعث.(؟). سنن ابی داود ج۱۴/۱.المكتبة الشاملة.

۵-الشام محمد امين ابن عابدين المعروف.(ب،ت).رد المحتار ج۱،محله جنګي پښور،پاکستان المكتبة الحقانية.

۶-العسقلانی ابن حجر احمد بن علی بن حجر ابوالفضل (ب.ت)فتحالباريشرحصحيحالبخاري ج۱۰،المكتبة الشامله.

۷-القرطبي أبوعبدالله محمدبن أحمدبن أبي بكربن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين(الطبعة: الثانية، 1384هـ - 1964 م) تفسيرقرطبي ج۵ القاهرة، مصر، دارالكتب المصرية.

۸-محمود الحسن شيخ الهند او عثماني شبيراحمد ،پښتو ژباړونکي د افغانستان د سترو عالمانو يوټولګی، .(؟). تفسير کابلي ج۱،چاپ خانه د حرمينو شريفينو د خادم بادشاه فهد د قرآن کريم د طباعت لپاره.

۹-مدني ډاکټر شيرعلی شاه .(ب،ت).په اسلام کې دړيرې مقام، محله جنګي پيښورمذهبي کتب خانه.

۱۰-ولي الدين محمدبن عبدالله الخطيب.(الطبعة: الثالثة، 1985؟). مشكاة المصابيح۱ج، المكتبة الشاملة.

۱۱-هاشمي سيف الرحمن .(ب،ت).په اسلام کې د ړيرې مقام خپرندويه ټولنه افغان کلتوري بهير.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنیار ماستر صالح خان صالح
کمپیوټرساینس پوهنځی
معلوماتي سیستمونو څانګه
تلیفون شمیرې: 0799134711/0777134711
برېښنالیک: salih.angel@gmail.com

په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو سیستم پلي کولو لپاره د کامیابۍ بنسټیزعوامل

لنډیز

الکترونیکي زده کړې لکه د نوم څخه یې چې څرګندیږي، هغه زده کړې دي، چې د الکترونیکي وسایلو پرمټ ترسره کیږي او په ټوله کې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجیپه شتون کې صورت نیسي، چې بې له معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ کارولو الکترونیکي زده کړې ورته نشو ویلی. په یوویشتمه پیړۍ کې د الکترونیکي زده کړوسیستم پلي کول د لوړو زده کړو په بهیر کې زیات فرصتونه رامنځته کړیدي او د زده کړې بهیر ته یې په لوړه کچه پراختیا او پیاوړتیا ورپه برخه کړي ده. سربېره پردې، په زده کړه دالکترونیکي زده کړو سیستم په کاراچول د اوسني وخت غوښتنه هم ده، چې په زیاتره مخ پرودې هېوادونو کې یاد سیستم په بشپړ ډول د عملي کېدو په حال کې دی. په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو سیستم د تطبیقولو لپاره یو شمېر بنسټیز عوامل دي، چې په نظر کې نیول او په کار اچول یې د الکترونیکي زده کړو سیستم د کامیابۍ سبب ګرځي او نه پاملرنه یې په زده کړه کې د الکترونیکي زده کړو سیستم پلي کول ټکنۍ کوي لکه تخنیکي عوامل، بنسټیز عوامل، پیداګوژیک عوامل، د موسسې اړوند عوامل، مدیریتي عوامل، اخلاقي عوامل، د ارزونې عوامل، سرچیني عوامل او ټولنیز متقابل عوامل.

کلیدي ټکي: **الکترونیکي زده کړه، د الکترونیکي زده کړو د بریالیتو ب عوامل،اوږد مهاله زده کړه، لوړې زده کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

په یوویشتمه پېړۍ کې معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د اوږد مهالې زده کړې غښتلي وسیلې ګرځېدلي دي. سربېره پر دې، یاده ټکنالوجۍ ددې وړتیا لري او کولی شي په اوسنۍ نړۍکې سوداګریزو فعالیتونو او ټولنیز سیاسي چاپېریال ته بدلون ورکړي او ورکړی یې هم ده.(۱:۴۸۵) معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د ډېروعصري، ګټورو او اغېزمنو لارو کارولو له لارې د زده کړې په خاصه توګه د لوړو زده کړو د غښتلي کولو او د وخت د غوښتنو په پام کې نیولو اړتیا رامنځته کړې ترڅو په اسانه، ګټوره اواغېزناکه توګه زده کړه صورت ونیسي، چې ښه بېلګه یې الکترونیکي زده کړه ده. الکترونیکي زده کړه د ویب پر بنسټ زده کړه، د انټرنېټ پر بنسټ روزنه، پرمختللي وېشل شوي زده کړه، د ویب پر بنسټ لارښوونې، انلاین زده کړه او خپلواکه زده کړه په برکې نیسي.(۱:۶) د الکترونیکي زده کړې د کورس محتوا او د هغې اړوند مواد د الکترونیکي رسنیو له لارې لکه انټرنېټ، انټرانېټونه، اکسټرانېټ، دسپوړمکۍ له لارې غږیزې یا ویډیوي خپرونې، د کاروونکي د کنترول وړتلویزیوناوCD-ROMپه واسطه لېږدول کېږي.

په اوسني وخت کې زیاتره د لوړو زده کړو موسسات د زده کړې د پیاوړتیا په موخه د الکترونیکي زده کړو سیستم کاروي، ځکه چې په ښوونکو، زده کوونکو او ټولنه باندې یې مثبتې اغېزې د لمر په شان روښانه لېدل کېږي او د زده کړې او تدریس نوي او غښتلي فرصتونهیې رامنځته کړي دي. همدارنګه د الکترونیکي زده کړوسیستم د ښوونکو او زده کونکو ترمنځ نوي ارتباطي چینل ته وده ورکوي. ښوونکي او زده کوونکي کولی شي د خپلې زده کړې اهدافو د ترسره کولو لپاره دوی په خپل منځ کې د پوهې د انتقال لپاره له الکترونیکي زده کړوسیستم څخه کار واخلي.

موخې

د همدې مقالې څخه مې موخې په لاندې ډول خلاصه کړي دي ترڅو د مقالې تربشپړېدو پورې دغه موخو ته ځان ورسوم:

- د الکترونیکي زده کړواهمیت ته به په لنډ ډول کتنه وشي.
- په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړې دتطبیقولو لپاره د بریالیتوب مهم عوامل به یو په یو په ګوته شي.
- په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو د پلي کولو لپاره به بنسټیز عوامل وپېژندل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کار مواد او میتود

یاده څېړنه چې (په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو پلي کولو لپاره د کامیابۍ بنسټیز عوامل) ترعنوان لاندې ده، تر ډېره بریده یې تمرکز تېروآثارو ته په کتنې او موندنې د موجوده اړونده تېروآثارو څخه په لوړو زده کړو کې د بررسۍ پر بنسټ ده ترڅو د لوړو زده کړو په برخه کې د الکترونیکي زده کړو سیستم پلی او هغه عوامل روښانه شي، چې په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو د کامیابۍ سبب کېږي. د دې لپاره چې یاده مقاله بشپړه کړم، د انګلیسي ژبې له معتبرو کتابونو، مجلو، ژورنالونو، مقالو او انټرنېټ څخه مې ګټه اخیستې ده. همدارنګه د څېړنې په جریان کې مې د خارجي او داخلي مشهورو پوهنتونونو له تدریسي او علمي موادو او کړنلاروڅخه استفاده کړیده. دمقالې له عنوان ټاکلو وروسته د اړتیا وړ مواد د کتابخاني تحقیق د میتود په اساس راټول او د لارښود استاد په مشوره لړلیک ترتیب او د کار لاندې ونیول شول.

د الکترونیکي زده کړو پېژندنه

معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ زده کوونکي ته د دې زمینه برابروي، چې د زده کړې یو ښه پلان ترتیب، د زده کړې مراکز، یو تربله اړیکه، د وخت مطابق موثرې زده کړې او د الکترونیکي زده کړو یو ښه چاپېریال رامنځته کړي. د معلوماتو په ټولنه کې الکترونیکي زده کړه (E-learning) اصطلاح په پراخه پیمانه کارول کېږي، چې په دې ډول زده کړو کې د معلوماتي او مخابراتي ټیکنالوجیو څخه کار اخستل کېږي. کله چې یاده اصطلاح په ساده ډول تجزیه کړل شي، نو E په معنی د بریښنایي یا الکترونیک، Learning په معنی د زده کړې او یا هغه زده کړه، چې د الکترونیکي مډیاوو پر مټ ترسره کېږي الکترونیکي زده کړه بلل کېږي. که مخکیني یعني کلاسیک سیستم ته نظر واچوو، نو د هغې ټوله اتکاء په درسي کتاب، ټولګي، ازموینه او د یادې زده کړې اړوند وسایلو باندې وه، چې اوس هم نوموړی میتود په ځینو هېوادونو کې شتون لري کوم، چې د اوسني عصر سره اړخ نه لګوي. د ټکنالوجۍ په انکشاف سره په زده کړه کې ډېر فرصتونه رامنځته شول لکه د زده کړې بهیر یې چټک کړ، زده کړه یې اسانه کړه، د زده کړې اړوند لګښتونه یې ارزان کړل، زده کړه یې هرچاته په ورغوي کې ور کیښوده، چې د ټکنالوجۍ څخه مخکې یې شتون نه درلود. همدا ډول په کلاسیک میتود کې د زده کوونکي فزیکي شتون په ټولګي کې اړین وو، مګر د ټکنالوجۍ په شتون سره یاد میتود تر ډېره بریده له منځه لاړو. اوس هرڅوک کولی شي، چې په هرځای او هر وخت کې زده کړه وکړي، درسي موادو ته لاس رسۍ پیدا کړي، چې له یوې خوا به یې د بوختیاوو له امله زده کړه نه وي ټکنۍ او له بلې خوا به یې پر وخت او تازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلوماتو ته لاس رسی پیدا کړی وي، چې ورته الکترونیکي زده کړه یا هغه زده کړه چې د الکترونیکي وسایلو پرمټ ترسره کیږي وایي.

د الکترونیکي زده کړو سیستم د کامیابی‌بنسټیز عوامل

په زده کړه کې د الکترونیکي زده کړوسیستم په کاراچول د زده کړې یوغښتلی میتود دی، چې فعاله او پر وخت زده کړه ورته ویلی شو. یاده زده کړه یوه خپلواکه زده کړه ده، چې په کوم ځای او وخت پورې محدوده نده. الکترونیکي زده کړه نه یواځې په ځای او وخت پورې محدوده نده بلکې د زده کوونکي او ښوونکي دواړو لپاره یې بې شمېره فرصتونه هم برابر کړي دي لکه معلوماتوته لاسرسی په کې اسان دی، د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ د اړیکو نیولو اسانه زمینه برابروي، د لیرې واټن څخه زده کوونکي ته د زده کړې فرصتونه چمتو کوي، نوي او پر وخت درسي مختویات زده کوونکي او ښوونکي دواړو ته په واک کې ورکوي، شاګرد محوري زده کړه ده، چې هر وخت شاګرد فعال ساتي، په کمه بیه زده کړه او د زده کړو سرچېنو ته د لاس رسي زمینه برابروي، زده کوونکي ته د دې فرصت برابروي، چې د زده کړې سره یوځای کورني کارونه هم پر مخ یوسي، دزده کونکي درسي جریان منظم کوي، ځارنه په کې په اسانۍ تر سره کیږي او د ښوونکي او زده کوونکي په یو وخت کې شتون او نه شتون په کې یو ډول دی.(۲: ۳۹ - ۴۹)

د الکترونیکي زده کړو سیستم پلي کولو لپاره یو شمېر بنسټیز عوامل شتون لري، چې په هغې باندې ولاړه زده کړه ده. دغه عوامل د الکترونیکي زده کړې بریالۍ تطبیق هم ډېرې وخت اغېزمن کوي او نه پاملرنه یې الکترونیکي زده کړې د خنډونو سره مخامخ کوي، مګر په ځینو مواردو کې د الکترونیکي زده کړو د ناکامۍ سبب هم ګرځي. په لاندې برخه کې هغه بنسټیز عوامل چې د الکترونیکي زده کړو سیستم په تطبیق باندې اغېز اچوي او د زیاتو څېړونکو لخوا ور باندې څېړنې ترسره شوي دي یو په یو په لنډ ډول تشریح کوو.

تخنیکي عوامل

په لوړو زده کړوکې د الکترونیکي زده کړو سیستم پلي کول د اغېز لرونکو عواملو یوه برخه تخنیکي عوامل جوړوي، چې په اړه یې زیاتې څېړنې ترسره شوي دي. تخنیکي عوامل لکه د الکترونیکي زده کړو په اسانۍ سره کارونه، معلومات، باوریتوب، اغېزناک توب، زیربنایي پلان جوړونه، خوندیتوب، لاس رسی، محرمیت، د ښوونکي او زده کوونکي لپاره تخنیکي حمایه، هارډویر او سافټویر، د الکترونیکي زده کړو جوړښت، د انټرنېټ چټکتیا او د الکترونیکي زده کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اړه د ښوونکي او زده کوونکي روزنه.(۱۰: ۸۸ - ۸۹) د تخنیکي اړخونو چمتو والی هم د بریالی الکترونیکي زده کړې په پلي کولو کې مهم رول لوبوي.

یو تن څیړونکي Chantanarungpak او د هغې ملګري په خپله څېړنه کې ویلي دي، الکترونیکي زده کړې په هغه وخت کې د ښه تطبیق وړ دي، چې تخنیکي وسایل لکه د ټکنالوجۍ اړوند روزنه، د اړیکو نیوني وسایل او زده کوونکي د Help Desk ملاتړ له ځانه سره ولري.(۷ : ۱۹۵) پدې برخه کې تحصیلي موسسه مکلفه ده، چې د الکترونیکي زده کړو د پلي کولو لپاره تخنیکي ملاتړ په خپل جوړ شوي او یا جوړیدونکي پلان کې ځای په ځای کړي ترڅو زده کوونکو ته دا ډول خدمات برابرکړي. د دې ډول خدماتو کیفیت د زده کوونکو او ښوونکو په باوریتوب، په زده کړه او تدریس ژاور اغېز لرلی شي، چې پدې کې وسایلو ته لاس رسی، مدیریت، پانګونه، د سرچېنو برابرول ځای لري.

سرچیني عوامل

په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو سیستم په کامیابۍ سره د تطبیقولو یوه برخه سرچیني عوامل تشکیلوي، چې د الکترونیکي زده کړو د تطبیق په وخت کې باید ورته پوره توجه وشي. د الکترونیکي زده کړو سیستم د ښه تطبیق په موخه باید مالي ملاتړ شتون ولري، د الکترونیکي زده کړې لپاره د محتوا غني کولو لګښتونه په نظر کې ونیول شي، د کمپیوټرونو او وړتیاوو مالکیتونو ته پام وشي، د انټرنېټ لاس رسۍ په نظر کې ونیول شي او د الکترونیکي زده کړو په خاطر برېښنا له پامه ونه غورځول شي. یاد عوامل د الکترونیکي زده کړو د کامیابۍ سره په پوره معنی تړلي دي.(۴: ۴۸۴)

اخلاقي عوامل

په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو سیستم په کامیابۍ سره د په کار اچولو له اغېز لرونکو عواملو یوه برخه اخلاقي عوامل تشکیلوي، چې پدې کې ټولنیز او اساسي اغېز، کلتوري اغېز، تعصب، د جعرافیایي نه ورته والي له رویه اغېز، د زده کوونکو نه ورته والي له رویه اغېز، توضیحات، قانوني او حقوقي مسایل شامل دي.(۱:۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیداګوژیک عوامل

په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو سیستم په کامیابۍ سره د په کاراچولو له اغېز لرونکو عواملو یوه برخه پیداګوژیک عوامل دي، چې په پام کې نیول یې د الکترونیکي زده کړو د کامیابۍ سبب کېږي، چې پدې اړه یو شمېر څېړونکو خپلې څېړنې تر سره کړې دي. د بېلګې په توګه د مصومي (Masoumi) او د هغې ملګرو یادونه کوو، چې ویلي یې دي، د الکترونیکي زده کړو د کامیابۍ پیداګوژیک عوامل د زده کوونکو په وړاندې روش، متقابله اړیکه نیونه، د منځپانګې تحلیلونه، د لیدونکو تحلیلونه، د موخې یا موخو تحلیلونه، د الکترونیکي زده کړو د طرحې تحلیلونه، د زده کړې تګلاره، د ویب پربنسټ د زده کوونکو ملاتړ، زده کوونکو ته دوامداره او رغندهفیډبک ورکونه، د ښوونې او روزنې په برخه کې مسلکي روزنه او د اکاډمیک پس منظر څخه عبارت دي.(۹: ۲۷ - ۴۱)

مدیریتي عوامل

د الکترونیکي زده کړو د کامیابۍ د اساسي عواملو یوه برخه مدیریتي عوامل تشکلیوي، چې تر ډېره بریده په یوه اداره تمرکز کوي. په یاد عامل پوري اکاډمیکې چارې، د زده کوونکو لپاره د خدماتو عرضه کول او داسې نور لکه د الکترونیکي زده کړو مدیریت کوونکی ټیم، درسي محتوا ته پراختیا او دغښتلي کولو پروسې پرمخ بېول، د وخت مدیریت، د پلي کولو لپاره د اړینو مهارتونو درلودل، د ځانګړې ټکنالوجۍ په پام کې نیول، مدیریتي ملاتړ، اغېزمنتوب، موثریت، غښتلي ستراتیژي او هڅونه تړلي دي.(۱۱: ۳۲۳ - ۳۲۸) د دې لپاره چې الکترونیکي زده کړې په کامیابۍ سره تطبیق شي، اداره باید د الکترونیکي زده کړو لپاره غښتلی پلان ولري. د دغې کتګورۍ اړونده فرعي عوامل څېړونکو په لاندې ډول خلاصه کړي دي.

۱). **مارکیټ ته کتنه:** یاده کتنه د مارکیټ هغه غوښتنې په برکې نیسي، چې د زده کړې په موسسې پوري تړلي وي او موسسه باید د مارکیټ له غوښتنو څخه باخبره واوسي، نو له دې وجې د مارکیټ اړوند معلومات باید په کلني ډول و ارزول شي او یا د پلان جوړولو څخه مخکې تغیر شي.

۲). **د پروګرام چوکاټ:** د موسسې مدیریت باید داسې مشخص چوکاټ او پراختیا (Scope) ترتیب کړي، چې په هغې کې د دوی خپل اړونده کارونه په واضحه توګه بیان شوي وي او دا کېدای شي د یوې اداري پالیسي او کړنلاره وي لکه ماموریت، د چاپ حق اړتیاوې او داسې نور. دغه عامل داسې پراختیا ته اړتیا لري لکه څنګه، چې د یوې اداري په ستراتیژۍ کې بدلونونو ته اړتیا ده.(۸: ۶۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳). د لګښت اغېزمنتوب: په زده کړوپه خاصه توګه په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو په بشپړه توګه پلي کېدل به بودیجې ته اړتیا ولري، چې باید په پوره ډول ورته پام وشي او د زده کړو موسساتو لپاره پدې برخه کې پانګونه اړینه ده. دا ځکه چې الکترونیکي زده کړې لګښتونو او اوږد مهاله پایښت ته اړتیا لري. پاتې دې نه وي، چې د دوی د خدمتونو د پراختیا لپاره د ادارو پر اړتیاوو سربېره د لګښتونو کمولو ته هم اړتیا شته ترڅو موسسه له مالي ستونزو سره مخامخ نشي او د الکترونیکي زده کړو بهیر ته ادامه ورکړي.(۱۴۹:۱۲ - ۱۶۱)

د زده کړې موسسې اړوند عوامل

په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو سیستم په بریالي ډول پلي کول د اغېز لرونکو عواملو یوه برخه د زده کړې موسسې اړوند عوامل دي لکه اړتیاوو ته په کتو ارزونه، مالي چمتووالی، زیربناییچمتووالی، انترنېتیاړیکې، کلتوري چمتووالی، ستراتیژي، د روزنې او زده کړې کلتور لپاره د موسسې ملاتړ، د ښه والي په موخه په زده کړه او تدریس کې بدلونونه، عامه پوهاوی او داسې نور.

د ارزونې عوامل

په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو سیستم په کامیابی سره د په کار اچولو د اغېز لرونکو عواملو یوه برخه د ارزونې عوامل تشکیلوي. دغه عوامل د زده کړې هغه نتیجه په لاس راکوي، چې هیله ورته لرو او خپل هدف ورباندې ترلاسه کوو، چې د څېړونکو د څېړنو په نتیجه کې داسې په ګوته شوي دي. عمومي ارزونه، د کورس ارزونه، د منځپانګې پرمختیایي پروسې ارزونه او د زده کوونکي د زده کړې ارزونه.

د زده کړې محیطي عوامل

د زده کړې په چاپېریال کې د الکترونیکي زده کړې چاپېریال هغه موقعیتونو ته اشاره کوي، چې زده کوونکي الکترونیکیسرچېنو ته لاس رسی ولري. په دې کې لارښوونې او د موسسې ملاتړ په بشپړه توګه شاملېږي. د زده کړې چاپېریال باید په ټولو اړخونو لکه فزیکي، اعتماد، درناوی، مرسته او ازادۍ کې ارام وي ځکه، چې د زده کړې چاپېریال د زده کوونکو د زده کړې په پایله باندې نېغ په نېغه اغېز لري. د زده کړې چاپېریال اړوند فرعي عوامل په لاندې برخه کې په لنډه توګه واضح کوو.

۱). د موخو روښانه کول: د الکترونیکي زده کړو موخه کټ مټ لکه د زده کړې د نورو تګلارو په څېر د زده کړې موخې ترلاسه کول دي. پدې کې هغه معلومات شامل دي کوم چې اصولو ته د زده کړې محتوا او د وسیلو په کارولو سره اصول روښانه کوي. سربېره پر دې، د زده کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارښوونه په روښانه توګه تعریف شوي اړین جوړښت دی، چې زده کوونکو ته خپله لاره په واک کې ورکړي او د زده کړې اړتیاوې منعکسې کړي.

۲). د محتوا کیفیت: د الکترونیکي زده کړو په ښه ډول تطبیقولو یوعامل د محتواکیفیت دی. یاد عامل یو پیاوړی تدریجي بنسټ دی. د الکترونیکي زده کړو لپاره غوره شوي محتوا او د زده کړې مواد د معتبرو سرچینو څخه را خیستل د زده کړې موادو د پلي کولو لپاره اړین دي ترڅو نوي او پر وخت معلومات پکې ځای په ځای شي.(۵: ۸۴۳ - ۸۵۵)

پایله

الکترونیکي زده کړې هغه زده کړې دي، چې د الکترونیکي وسایلو پرمټ ترسره کیږي او په ټوله کې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ په شتون کې صورت نیسي، چې بې له معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ کارولو ورته الکترونیکي زده کړې نشو ویلی. د دغې څېړنې په بشپړیدو سره دې پایلې ته ورسیدم، چې د لوړو زده کړو په موسساتو کې د الکترونیکي زده کړو سیستم په کامیابۍ سره پلي کول د تخنیکي عواملو، سرچیني عواملو، پیداګوژیک عواملو، مدیریتي عواملو، د زده کړیزو موسساتو اړونده عواملو او د زده کړې محیطي عواملو سره تړلی دی، چې پاملرنه یې د الکترونیکي زده کړو سیستم د کامیابۍ باعث ګرځي او نه پاملرنه یې د الکترونیکي زده کړو سیستم پلي کول ټکنۍ کوي.

سپارښتنې او وړاندیزونه

د الکترونیکي زده کړو پروګرامونو د کامیابۍ لپاره ځیني خاصې کړنې شته، چې باید په نښه شي او د الکترونیکي زده کړو د په کار اچوونې یوه کامیابه ستراتیژي رامنځته کړي. په دې برخه کې څوعام او اساسي وړاندیزونه او سپارښتنې اړینې بولم، چې باید ورته توجه وشي ترڅو په لوړو زده کړو کې د الکترونیکي زده کړو سیستم په کامیابۍ سره پلی شي.

۱. د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ او د الکترونیکي زده کړو زیربناوو ته پراختیا ورکول، چې په دې سره به زده کوونکو او ښوونکو ته د زده کړې ښه فرصتونه برابرشي.

۲. د لوړو زده کړو موسساتو لخوا د نورو فعالیتونو ترڅنګ معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ او د الکترونیکي زده کړو بودیجې ته لومړیتوب ورکول، چې پدې سره به الکترونیکي زده کړو ته لارموندنه اسانه شي.

۳. په درسي کوریکولوم کې د الکترونیکي زده کړو پروګرامونو شاملول، چې په دې سره به د الکترونیکي زده کړو پروګرامونه په اسانۍ سره تطبیق شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. د انټرنېټ په بیو کې ټیټوالی راوستل او د چټک انټرنېټ شتون، چې په دې سره به الکترونیکي زده کړو ته لاس رسی اسان شي او هرڅوک به یې د کارولو توان ولري.

۵. د الکترونیکي زده کړې په برخه کې د ښوونکو مهارتونو لوړول، چې په دې سره به الکترونیکي زده کړې په ښه ډول عملي شي.

۶. د نورو هغو هېوادونو او یا موسساتو سره نږدې اړیکي ساتل، چې الکترونیکي زده کړې په کې معمول ګرځیدلي وي، چې پدې سره به د ښوونکو د مهارتونو په لوړولو او زیربناوو په ایجادولو کې مرسته وشي.

۷. د دوامداره برېښنا برابرول، چې په دې سره به هم د زده کوونکو او هم د ښوونکو د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ هروخت په کارولو ستونزه اواره شي.

۸. د مناسبو پالیسیو وضع کول، چې کېدای شي د ټول دولت په کچه وي، د وزارت په کچه وي او یا هم کېدای شي د یو ولایت په کچه وي، چې په دې سره به د دولتي او خصوصي لوړو زده کړو موسسات د الکترونیکي زده کړو سیستم په ښه ډول تطبیق ته رهنمایي شي.

۹. د خارجي ژبو په خاص ډول د انګلیسی ژبې کورسونو جوړول، چې په دې سره به د ښوونکو او زده کوونکو ظرفیت لوړشي او دوی به وکولی شي، چې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ څخه سالمه ګټه پورته کړي ځکه، چې د ښوونکو او زده کوونکو یوه عمده ستونزه د خارجي ژبو سره اشنایي پیدا کول دي.

Abstract

The aim of this research study is to specify the critical success factors that affect the successful implementation of electronic learning in higher education institutions, derived from literature review. The results of the critical success factors for implementation of e-learning in higher education can be clustered into nine factors: 1) technological factors, 2) institutional factors, 3) pedagogical factors, 4) management factors, 5) ethical factors, 6) evaluation factors, 7) resources factors, 8) social interaction factors, 9) learning environmental Factors. Each of these general factors includes several important sub factors that can assist in enhancing the efficiency of e-learning implementation in higher education institutions. To summarize, critical success factors for implementing e-

(c) ketabton.com: The Digital Library

learning system in higher education are the areas that must be critically taken care of if institutions that needs success in the implementation of this new and modern learning method in education.

References

[۱] Alias, N., Zakariah, Z., Ismail, N. Z., & Aziz, M. N. A. (2012). E-Learning successful elements for higher learning institution in Malaysia. *Procedia-Social and Behavioral Sciences*.

[۲] Arabasz, P., Pirani, J. A., & Fawcett, D. (2003). Supporting E-learning in Higher Education. EDUCAUSE Center for Applied Research.

[۳] B. H. Khan, *E-learning quick checklist*, 2005, IGI Global.

[۴] Bere, R. C., Silvestru, C. I., &Nemes, L. (2013, January). E-learning platform for public administration-case study. In *The International Scientific Conference eLearning and Software for Education*. " Carol I" National Defence University.

[۵] Bhuasiri, W.; Xaymoungkhoun, O.; Zo, H. & Rho, J. (2012). Critical success factors for e-learning in developing countries: A comparative analysis between ICT experts and faculty. *Computers & Education*.

[۶] B. H. Khan, *A framework for e-learning.* 2001, LTI magazine.

[۷] Chantanarungpak, K. (2010). Development of success indicators of e-Learning system for higher education institutions in Thailand. Ph.D. Thesis, Bangkok: Chulalongkorn University.

[۸] Cheawjindakarn, B., Suwannatthachote, P., &Theeraroungchaisri, A. (2012). Critical success factors for online distance learning in higher education: A review of the literature. *Creative Education*.

[۹] Masoumi, D., &Lindström, B. (2012). Quality in e-learning: a framework for promoting and assuring quality in virtual institutions. *Journal of Computer Assisted Learning*, *28*(1).

(c) ketabton.com: The Digital Library

[۱۰] May, M., Fessakis, G., Dimitracopoulou, A., & George, S. (2012, July). A study on user's perception in e-learning security and privacy Issues. In *Advanced Learning Technologies (ICALT), 2012 IEEE 12th International Conference on*.

[۱۱] Mridha, M., Nihlen, G., Erlandsson, B. E., Khan, A. A., Islam, M. S., Sultana, N., ... & Srinivas, M. B. (2013, September). E-learning for empowering the rural people in Bangladesh opportunities and challenges. In *e-Learning and e-Technologies in Education (ICEEE), 2013 Second International Conference*.

[۱۲] Puri, G. (2012). Critical success Factors in e-Learning – An empirical study. *International Journal of Multidisciplinary Research, 2*(1).

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنیار محمدصدیق نوابزاده
اقتصاد پوهنځی
مالي او بانکي چارو ډیپارټمنټ
ګرځنده شمېره: +93781329090
برېښنالیک: sediq2011@gmail.com

د پیسو مینځل (قانوني شکل ته د پیسو اړول)

لنډیز

دغه مقاله د پیسو مینځل او د تورو پیسو سپینول (Money Laundering)څېړي او همدارنګه د مجرمینو، غلو، قاچاقبرانو او نورو غیر قانوني کاروبارلرونکو له خوا د بېلابېلو مېتودونو څخه په ګټې اخیستنې سره قانوني مالي سیستم ته د غیر قانوني پیسو داخلول تربحث لاندې نیسي. د څېړنې په پایله کې وموندل شوه، چې د غیر مشروع او غیر قانوني کاروبارونو څخه تر لاسه شوې پیسې د بېلابېلو تخنیکونو او مېتودونو څخه په ګټې اخیستنې په قانوني او سپینو پیسو اړول کېږي او قانوني مالي سیستم ته داخلېږي. د څېړنې پایلې په ډاګه کوي، چې هر کال په نړیواله کچه له 800 میلیارد ډالرو څخه تر دوه ټریلیون ډالرو پورې پیسې مینځل کېږي. دغه مقاله د کتابخانایي تحقیق د مېتود څخه په ګټې اخیستنې سره د دویم لاس مالوماتو پر بنسټ بشپړه شوې ده.

سریزه

چینایان وایي سره زر په اور او انسان په سرو زرو ازمایل کېږي. هونرا دې بایځک د زیاتې جمع شوې شتمنۍ په تړاو شک څرګندوي او زیاتوي، چې د هرې تجمع شوې شتمنۍ تر شا د یو جنایت حکایت پروت وي. په ډېرې کمې استثناء سره د زیاترو جرمونو تر شا د مفاد مشترکه انګیزه موجوده وي. حرص او زیاتې غوښتنې جنایت کوونکو ته انګېزه ورکوي ترڅو په غیر قانوني ډول تر لاسه شوې پیسې د هېواد مشروع مالي سیستم ته داخلې کړي. مالي مجرمین په بېلابېلو شکلونو هڅه کوي، چې د وسلو، مخدره موادو، له مالیاتو څخه د تېښتې او نورو غیر مشروع لارو څخه لاسته راغلې پیسې په داسې ډول سره مالي سیستم کې ځای پر ځای کړي، چې له یوې خوا همدغه غیر قانوني پیسې او له بلې خوا د دغو پیسو سرچینې (غیر مشروع کاروبار) د پولیسو، مالیه ګذارانو او نورو کشفي ارګانونو له خوا کشف نشي.[29:4] دا یو څرګند حقیقت دی، چې قانوني او مشروع مالي مؤسساتاو کاروبارونه د پیسو په مینځلو او درغلیو کې په یوه نه یوه بڼه ښکېل دي.د غیرقانوني لارو څخه ترلاسه کیدونکو پیسو څخه د راپیداکیدونکو خطرونو د مخنیوي په موخه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اړه د نړیوالو اندېښنو په زیاتېدو سره په 1989 م کال کې اوو لویو صنعتي هېوادونو (G7) د مالي عمل مشترک ځواک یا Financial Action Task Force رامنځته کړ. اوس مهال د دې ځواک د غړو شمېر د 35 هېوادونو او دوه نړیوالو سازمانونو په ګډون 37 ته رسېږي. له دې ور ها خوا د نړۍ تقریباً ټول هېوادونه په خپلو قضایي سیستمونو کې د پیسو د مینځلو او مالي درغلیو پر وړاندې سخت قوانین او جریمې ځای پر ځای کوي.[47:5] د پیسو مینځلو له لارې، چې یوه نړیواله ستونزه ده، یوازې په متحده ایالاتو کې د کال تقریباً 300 میلیارده ډالر له دې پروسې څخه تېرېږي او مشروع مالي سیستم ته داخلېږي. خو تر ټولو بده یې لا دا ده، چې د هر هېواد دمالي سیستم په داخل کې یوه ډله خلک شته چې دغو تنظیم شوو جرمونو ته خدمات وړاندې کوي او زمینه ورته مساعدوي. هغه چې په دې برخه کې ډېر ښکېل دي له حقوقي وکیلانو، بانکدارانو او محاسبینو څخه عبارت دي.

(https://legal-dictionary.thefreedictionary.com/money+laundering)

موخې

د دې مقالې له لیکلو څخه موخه دا ده ترڅو په اقتصاد کې د پیسو مینځلو د ناوړه پدیدې په تړاو علمي مالومات زیات او د مسلک اړوند کسان په ځانګړې ډول د اقتصاد پوهنځي استادان او محصلین د پیسو مینځلو او له پیسو مینځلو څخه راپورته کېدونکې ستونزې وپېژني.

د کار مواد او مېتود

د دې لپاره چې د (پیسو مینځل) تر عنوان لاندې مقاله بشپړه کړم؛ نو د بېلابېلو ژبو له کتابونو، مجلو، مقالو او انټرنېټ څخه مېکار اخیتسی. د څېړنې موضوع له ټاکلو وروسته د اړتیا وړ مواد د کتابخانایي څېړنې د مېتود پر بنسټ راټول او د لارښود استاد په مشوره لیکلړ ترتیب او د کار لاندې ونیول شو.

د پیسو مینځلو مفهوم

د پیسو مینځل یوه اوږده پروسه ده، چې پر بنسټ یې له غیرقانوني لارو څخه ترلاسه شوې پیسې او مالي منابع مشروع مالي سیستم ته په داسې ډول داخلېږي، چې له یوې خوا غیرقانوني (چټلې) پیسې قانوني شکل ته واړوي (پاکې کړي) او له بلې خوا د دغو غیرقانوني پیسو د ترلاسه کولو سرچېنې هم پټې پاتې شي. د پیسومینځلو بېلابېل تعریفونه شته دي، چې ټول یې مشترک مفاهم انتقالوي. دلته د ځینو تعریفاتو یادونه کېږي. د مشروع مالي مؤسساتو او سوداګریو له لارې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیرقانوني فعالیتونو څخه د ترلاسه شویو پیسو هغه جریان چې په هغه کې د پیسو اصلي سرچینه نامعلومه پاتې شي د پیسو مینځلو څخه عبارت دی.[83:5]

